# زموږ عقیده

## د شیعیانو د عقیدو لنډه شان پېژندګلوي

لیکوال: آیة الله العظمی مکارم شیرازي
ژباړه: عبدالرحیم دراني

| | |
|---|---|
| ✓ د کتاب نوم: | زمونږ عقيده (د شيعيانو د عقيدو لنډه شان پيژندګلوي) |
| ✓ ليکوال: | حضرت آية الله العظمی مکارم شيرازي |
| ✓ ژباړه او کمپوز: | عبدالرحيم دراني |
| ✓ تصحيح و ترتيب: | محمدرحيم دراني |
| ✓ خپروونکې: | مدرسه امام اميرالمؤمنين |
| ✓ د چاپ وار: | لومړے |
| ✓ د چاپ کال: | ۱۳۸۷ |
| ✓ ګڼه: | ۲۰۰۰ |

# لړلیک


د دغه کتاب د لیکلو او رسالت هدف ........................................ ۸


## لومړۍ برخه: خدای پیژندنه او توحید


۱. د متعال خدای وجود ........................................ ۱۱
۲. د هغه د جمال او جلال صفتونه ........................................ ۱۲
۳. پاک ذات یې بې پایه دی ........................................ ۱۳
۴. هغه جسم نه دی او هیڅکله نه لیدل کیږي ........................................ ۱۴
۵. توحید، د اسلام د ټولو تعلیماتو روح دی ........................................ ۱۶
۶. د توحید څانګې ........................................ ۱۷
۸. د خدای پرښتې ........................................ ۲۱
۹. عبادت یوازې له هغه سره مخصوص دی ........................................ ۲۲
۱۰. د هغه پاک ذات حقیقت پر ټولو پټ دی ........................................ ۲۳
۱۱. نه تعطیل نه تشبیه ........................................ ۲۴


## دویمه برخه: دالهي پیغمبرانو نبوت


۱۲. د پیغبرانو د بعثت فلسفه ........................................ ۲۷
۱۳. د الهي دینونو له پیروانو سره ګډ ژوند ........................................ ۲۸
۱۴: په ټول عمر کې د انبیاوو معصوم والی ........................................ ۲۹
۱۵. هغوي د خدای فرمانبرداره بندګان دي ........................................ ۳۰
۱۶: معجزې او د غیبو علم ........................................ ۳۱
۱۷: د پیغمبرانو د شفاعت مقام ........................................ ۳۲
۱۸. د توسل مسئله ........................................ ۳۳
۱۹: د انبیاوو د بلنې اصول یو دي ........................................ ۳۵
۲۰. د تیرو انبیاوو خبر ورکول ........................................ ۳۶
۲۱. پیغمبران او د ژوند د ټولو اړخونو اصلاح ........................................ ۳۶
۲۲. د قومي او نسلي امتیازاتو نفي ........................................ ۳۷

۲۳. اسلام او انساني فطرت(ختم) ............ ۳۸

## دریمه برخه : قرآن او آسماني کتابونه

۲۴. د آسماني کتابونو د نازلیدو فلسفه ............ ۳۹
۲۵. قرآن د رسول الله مبارک تر ټولو لویه معجزه ............ ۴۰
۲۶. په قرآن کې تحریف نه دی شوی ............ ۴۱
۲۷. قرآن او د انسان مادي او معنوي اړتیاوې ............ ۴۳
۲۸. تلاوت، تدبر، عمل ............ ۴۴
۲۹. انحرافي بحثونه ............ ۴۵
۳۰. د قرآن د تفسیر ضوابط ............ ۴۶
۳۲. سنت، له «کتاب الله» سرچینه اخلي ............ ۴۹
۳۳. د اهل بیتو امامانو(علیهم السلام) سنت ............ ۵۱

## څلورمه برخه : قیامت او له مرګه وروسته ژوند

۳۴. بې له قیامته ژوند معنا نه لري ............ ۵۳
۳۵. د قیامت دلایل روښانه دي ............ ۵۴
۳۶. جسماني معاد ............ ۵۶
۳۷. له مرګه وروسته عجیبه نړۍ ............ ۵۷
۳۸. قیامت او د عملونو دوسیه ............ ۵۸
۳۹. په قیامت کې شاهدان او ګواهان ............ ۵۸
۴۰. صراط او دعملونو تله (میزان) ............ ۵۹
۴۱. په قیامت کې شفاعت ............ ۶۱
۴۲. عالم برزخ ............ ۶۳
۴۳. معنوي او مادي بدلې ............ ۶۴

## پینځمه برخه : د امامت مسئله

۴۴. همیشه یو امام شته ............ ۶۷
۴۵. د امامت حقیقت ............ ۶۸

۴۶. امام له ګناه معصوم او پاک دی ........................ ۶۹
۴۷. امام د شريعت ساتونکی دی ........................ ۷۰
۴۸. امام په اسلام تر ټولو خبر او پوه کس دی ........................ ۷۰
۴۹ : امام بايد منصوص (ټاکلې شوے) وي ........................ ۷۰
۵۰. امامان د پيغمبر (ص) په وسيله ټاکل شوي دي ........................ ۷۱
۵۱. د پيغمبر(ص) لخوا د علي (ع)ټاکنه ........................ ۷۳
۵۲. له ځانه په وروسته امام د هر امام ټينګار ........................ ۷۵
۵۳. علي(ع) تر ټولو اصحابو غوره و ........................ ۷۶
۵۴. صحابه د عقل او تاريخ د قضاوت په وړاندې ........................ ۷۶
۵۵. د اهل بيتو امامانو (ع) علم له پيغمبره (ص) دی ........................ ۷۸

## شپږمه برخه : بيلا بيل مسائل

۵۶. د عقلي حسن او قبح مسئله ........................ ۸۳
۵۷. الهي عدل ........................ ۸۴
۵۸. دانسان آزادي ........................ ۸۴
۵۹. د فقې يوه سرچينه د عقل دليل دی ........................ ۸۵
۶۰. بيا هم الهي عدل ........................ ۸۶
د تکليف مالا يطاق نفی ........................ ۸۷
۶۱. د دردناکو پيښو فلسفه ........................ ۸۷
۶۲. دنړۍ نظام تر ټولو ښه نظام دی ........................ ۸۸
۶۳. د فقې څلور سرچينې (منابع) ........................ ۸۹
۶۴. د اجتهاد باب تل پرانستی دی ........................ ۹۰
۶۵. قانوني خلا نيشته ........................ ۹۱
۶۶. تقيه او د هغې فلسفه ........................ ۹۲
۶۷. په کومو ځايونو کې تقيه حرامه ده ........................ ۹۵
۶۸. اسلامي عبادتونه ........................ ۹۵
۶۹. د دوو لمونځونو په يو ځای کول ........................ ۹۶
۷۰. په خاوره سجده ........................ ۹۶

۷۱ . د پيغمبرانو او د امامانو د قبرونو زيارت........................................۹۸
۷۲. د وير مراسم او د هغو فلسفه..........................................................۹۹
۷۳. موقته واده (متعه) .......................................................................۱۰۲
۷۴. د تشيع تاريخچه..........................................................................۱۰۵
۷۵. د شيعه مذهب جغرافيا..................................................................۱۰۷
۷۶. د اهل بيتو (ع) ميراث....................................................................۱۰۹
۷۷. دوه لوی کتابونه .........................................................................۱۱۰
۷۸. په اسلامی علومو کې د شيعيانو رول ..................................................۱۱۲
۸۰. آخري خبره...............................................................................۱۱۴

هغه عالمان او فاضلان چې د دغه کتاب په بشپړولو کې یې مرسته کړې ده، ښاغلي:

۱. محمد رضا اشتیاني
۲. محمد جعفر امامي
۳. عبدالرسول حسني
۴. سید شمس الدین روحانی
۵. محمد اسدی
۶. محمد محمدی
۷. حسین طوسی

بسم الله الرحمن الرحيم

## د دغه کتاب د ليکلو هدف او رسالت

۱. مونږ په خپله زمانه کې دلوی بدلون کتونکي يو، هغه بدلون چې د آسمان له يو لوی دين يعنې «اسلامه» سرچينه اخلي.

اسلام زمونږ په زمانه کې نوی ژوند موندلی، د نړۍ مسلمانان ويښ شوي او خپل اصل ته ستنيږي او د خپلو ستونزو حل چې په بل ځای کې يې نه دی پيدا کړی د اسلام په تعليماتو اصولو او فروعو کې لټوي.

د دغه بدلانه وجه څه ده؟ دا يو بله موضوع ده، مهمه دا ده چې پوه شو چې د دغه عظيم بدلون نښې په ټولو اسلامي هيوادونو او حتی له اسلامي نړۍ بهر څرګندې شوي دي، او له همدې امله د نړۍ ډير خلک غواړي پوه شي چې اسلام څه وايي او د نړۍ د خلکو لپاره څه نوی پيغام لري؟

په دغه حساسو شرائطو کې دا زمونږ دنده ده چې اسلام هماغه ډول چې دی بې له هيڅ ډول کمي زياتي او په روښانه او د پوهيدو وړ ټکيو سره عامو خلکو ته وسپړو او د هغه خلکو چې غواړي له اسلام او اسلامي مذهبونو لا ډير خبر شي تنده د حقيقت په بيانولو سره سړه کړو او اجازه ور نه کړو چې نور زمونږ په ځای فيصله او خبره وکړي.

۲. له دې انکار نه شي کيدی چې په اسلام کې د نورو دينونو په شان مختلف مذهبونه موجود دي چې هر يو يې په عقيدتي او عملي مسائلو کې ځانته ځانګړتياوې لري، خو دغه توپيرونه بلکل په دې حد کې نه دي چې د دغه دين د پيروانو تر مينځ د نږدې ملګرتيا خنډ شي.بلکه هغوي کولی شي د ملګرتيا او غړملتيا په سيوري کې خپل موجوديت د هغو توپانونو په وړاندې چې له ختيځ او لويديځه راپورته کيږي وساتي. او مشترکو

مخالفانو ته اجازه ورنه کړي چې خپلې نقشې عملي کړي.

په یقین سره د دغه تفاهم ایجاد او د هغه مزبوتیا او ژورتیا، د ځینو اصولو او ضوابطو خیال ساتلو ته اړتیا لري چې تر ټولو مهم یې دا دي چې اسلامي فرقې یو بل ښه وپیژني او د هرې یوې ځانګړتیاوې بلې ته ښې ځرګندې شي، ځکه چې یوازې د یو بل په پیژندلو سره د ناوړه تفاهمونو مخه نیولی او د ملګرتیا لاره هوارولی شي.

د یو بل د پیژندلو تر ټولو غوره لاره دا ده چې په اصولو او فروعو کې د هر یو مذهب عقاید، د هغه مذهب له مشهورو او پیژندل شویو عالمانو واخلي ځکه چې که مونږ له ناپوهو کسانو پوښتنه وکړو، یا مثلا وغواړو د یو مذهب له عقایدو د هغوي د دښمنانو په وسیله خبر شو، حب او بعض مقصد ته د رسیدلو لاره بندوي او تفاهم په دلسردۍ او جدایۍ بدلیږي.

۳. پورتنیو دوو ټکیو ته په پام سره مو اراده وکړه چې د شیعیانو عقائد په اصولو او فروعو کې او ورسره د شیعه مذهب ځانګړتیاوې په دغه لنډه شان کتابچه کې راغونډ کړو او داسې لیکنه برابر کړو چې لاندینۍ ځانګړتیاوې ولري:

۱) د ټولو ضروری مسائلو نچوړ او خلاصه پکې موجوده وي چې د لوستونکو له غاړې د مختلفو او ډیرو کتابونو د لوستلو زحمت کم کړي.

۲) بحثونه روښانه او له هر ډول ابهامه لیرې وي او حتی د هغو اصطلاحاتو له کارولو پکې ډډه وشي چې یوازې په دینی مدرسو او عملی چاپیریال کې استعمالیږي، خو په عین حال کې په دې کار سره د بحث ژورتیا کمه نه شي.

۳) که څه هم هدف د عقائدو ذکر کول دي نه د دلائلو بیان، خو په حساسو مواردو کې تر هغه ځایه چې د دغه مختصرې لیکنې طبیعت اجازه

راکوي په بحثونو کې د قرآن، سنت او عقل دلائل هم وي.
۴) له هر ډول پرده پوښۍ، مجمل ګويۍ او وارمخکې قضاوته خالي وي چې حقيقتونه هماغه ډول چې دي وړاندې کړی شي.
۵) په ټولو بحثونو کې د نورو مذهبونو په نسبت د ادب اصولو او د قلم د عفت خيال وساتل شي.

دا کتابچه د دغو ټکيو په رعايت سره د بيت الله الحرام په سفر کې چې روح او زړه زياته صفا لري تياره کړی شوه، بيا پرې په مختلفو غونډو کې د يو شمير عالمانو او پوهانو په شتون سره ژورغور او بحث وشو او بشپړه شوه.هيله من يو چې په دې کار سره هغو اهدافو ته چې مخکې مو ذکر کړل د رسيدلو توفيق لاسته راوړو. او د قيامت د ورځې لپاره يوه توښه شي. دلته د قادر متعال در ته لاسونه پورته کوو او وايو:

«رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِي لِلإِيمَانِ أَنْ آمِنُوا بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الأبْرَارِ»[۱]

د ۱۴۱۷ هجري قمري کال د محرم الحرام مياشته
قم ـ مدرسه امير المومنين)ع(
ناصر مکارم شيرازي

---

۱آل عمران سوره ۱۹۳ ايت

لومړۍ برخه

# خدای پیژندنه او توحید

## ۱. د متعال خداي وجود

مونږ عقیده لرو: خداي تعالی د ټولو مخلوقاتو او کائناتو پیداکوونکے دے او د هغه د علم قدرت او عظمت آثار د نړۍ په ټولو موجوداتو کښې ښکاره ده. زمونږ په وجود کښې دننه، په ژوندي سارو او بوټو، د آسمان په ستورو بره عالم او په هر ځاغي کښې څرګند دے.

مونږ عقیده لرو: چې هر څومره چې د دې نړۍ په مخلوقاتو کې زیات فکر وکړو د هغه پاک ذات په عظمت او د هغه د علم او قدرت په پراختیا لا ډیر پوهیږو او د انساني علم او ټکنالوجۍ په پرمختګ سره هره ورځ د هغه د علم او حکمت نوې ورونه مونږ ته پرانستل کیږي، او زمونږ د فکر اړخونه لا پراخوي او دا تفکر به له هغه ذات سره زمونږ د زیاتیدونکې مینې سرچینه شي.او هره شیبه مونږ له هغه ذاته سره لا نزدې کوي او دهغه د جلال او جمال په رڼا کې مو ډوبوي.

قرآن مجید فرمایي «وَفِي الأَرْضِ آيَاتٌ لِلْمُوقِنِينَ وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلا تُبْصِرُونَ؛ او په ځمکه کې د یقین د پلټونکو لپاره نښې دي او ستاسو په خپل وجود کې هم )نښې دي ( آیا نه ګورئ؟ «إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لأولِي الألْبَابِ* الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ

وَالأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ؛[1] په رښتیا سره چې د آسمانونو او ځمکې په پیدا ایښت اود شپې او ورځې په تګ راتګ کښې د عقل منانو لپاره ( نښې دي.د هماغه کسانو لپاره چې خدای تعالی په ولاړه او په ناسته کې او هغه وخت چې په ډډه ملاست وي یادوي،او د آسمانونو او ځمکې د پیدا ایښت په اسرارو فکر کوي )او وایي( ای خدایه !هیڅکله دې دا چتې نه دي پیدا کړي !»[2]

## ۲. د هغه د جمال او جلال صفتونه

مونږ عقیده لرو چې:د خدای تعالی ذات له هر ډول عیب او نیمګړتیا پاک دی او په ټولو کمالاتو پسولل شوی دی بلکه هغه کمال مطلق او مطلق کمال دی.او په بله معنا په دې نړۍ کې چې هر کمال او ښکلا ده د هغه له پاک ذاته سرچینه اخلي.

«هُوَ اللَّهُ الَّذِي لا إِلَهَ إِلا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ * هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الأَسْمَاءُ الْحُسْنَى يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ»؛ هغه، هغه خدای دی چې له هغه پرته بل معبود نیشته، اصلي واکمن او څښتن هغه دی،له هر عیبه پاک او سپیڅلی دی، په چا ظلم نه کوي، امنیت ورکوونکی دی. په هر څه څارنه کوي،ماته نه خوړونکی قدرتمن دی چې په خپلې نافذې ارادې سره هره چاره اصلاح کوي، هغه د عظمت وړ دی، او سپیڅلی دی له هغه څه چې ورسره ساري ټاکل کیږي ـ هغه خالق خدای دی، بې ساری پنځوونکی، او )بې مثاله( انځورګر،د هغه لپاره نیکې نامې )اود کمال هر ډول صفتونه( دي، هغه څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي د هغه تسبیح وایی او هغه عزیز او حکیم

۱. ذاریات سوره ۲۰ او ۲۱ ایتونه

۲. آل عمران سوره ۱۹۰او ۱۹۱ ایتونه

دی»[1]

او دا د هغه د جمالي او جلالي صفتونو یو ازې یوه برخه ده.

## ۳. پاک ذات یې بې پایه دی

مونږ عقیده لرو چې:هغه له هر نظره بې نهایته وجود دی: د علم او قدرت له نظره د ابدي او ازلي ژوند له نظره او له همدې امله په زمان او مکان کې نه ځاییږي، ځکه چې زمان او مکان هر څه چې وي محدود دي،خو په عین حال کې په هر ځای او هر وخت کې موجود دی ځکه چې تر زمان او مکان لوړ دی. «وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَهٌ وَفِي الأَرْضِ إِلَهٌ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ؛ هغه کس دی چې په آسمان کې معبود دی او په ځمکه کې معبود ،او هغه حکیم او علیم دی»[2] وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ؛ هغه له تاسو سره دی په هر ځای کې چې وئ او خدای تعالی د هغه څه چې تاسو یې کوئ کتونکی دی»[3]

هو هغه مونږ ته نزدې دی، هغه زمونږ په روح او ځان کې دننه دی او هغه په هر ځای کې دی، او په عین حال کې مکان نه لري «وَلَقَدْ خَلَقْنَا الإِنْسَانَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ؛ او مونږ هغه ته دهغه د زړه تر رګه زیات نزدې یو»[4]

«هُوَ الأَوَّلُ وَالآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ؛ هغه دی پیل او پای، او ښکاره او پټ او هغه په هر څه پوه دی»[5]

په دې اساس که د قرآن په ځینو ایتونو کې لولو چې «ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ؛

---

۱. حشر سوره ۲۳ او ۲۴ ایتونه
۲. زخرف سوره، ۸۴ ایتونه
۳. حدید سوره ۴ ایت
۴. ق سوره ۱۲ ایت
۵. حدید سوره ۳ ایت

هغه د عرش خاوند او د سترتوب او عظمت څښتن دی»[۱]

)دلته د عرش مطلب لوړ شاهانه تخت نه دی(او همداراز که په بل ایت کې لولو چې «الرحمن علی العرش استوی؛ رحمان خدای په عرش ځای پر ځای دی»[۲]

د دې مطلب هیڅکله دا نه دی چې هغه خاص مکان او ځای لري، بلکه په ټولې مادي نړۍ او ماورای طبیعت د هغه واکمني ثابتوي. ځکه چې که دهغه لپاره د یو خاص ځای قائل شو هغه به محدود کړو او دهغه لپاره به د مخلوقاتو صفات ثابت کړو، او هغه به مو د نورو مخلوقاتو په شان ګڼلی وي، حال دا چې «لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞ؛ هیڅ څیز دهغه په شا ن نه دی»[۳]

«وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ؛ د هغه لپاره هیڅ ساری او مثال نیشته»[۴]

## ۴. هغه جسم نه دی او هیڅکله نه لیدل کیږي

مونږ عقیده لرو چې:خدای تعالی هیڅکله په سترګو نه لیدل کیږي، ځکه چې په سترګو دلیدل کیدو معنا دا ده چې جسم لري، ځای، محل، رنګ شکل او لوری لري، او دا ټول د مخلوقاتو صفات دی، او خدای تعالی تر دې لوړ دی چې د مخلوقاتو صفتونه ولري.

په دې اساس د خدای د لیدلو عقیده یو ډول په شرک ککړتیا ده «لا تُدْرِكُهُ الأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ؛

---

۱. بروج سوره ۱۵ ایت

۲. د قرآن له ځینو ایتونو معلومیږي چې د خدای کرسي په ټولو آسمانونو او ځمکې خپره ده په دې اساس د هغه عرش په ټولې مادي نړۍ دی.«وسع کرسیه السموات والارض» )بقره سوره ۲۵۵ ایت(

۳. شوری سوره ۱۱ آیت

۴. توحید سوره ۴ ایت

سترګې هغه نه ويني خو هغه ټولې سترګې ويني او هغه بخښونکی او پوهه دی» [۱]

له همدې امله کله چې د بني اسرایيلو پلمه جوړوونکوله موسی)ع(د خدای د ليدلو غوښتنه وکړه او وې ويل:«وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَنْ نُؤْمِنَ لَكَ حَتَّى نَرَى اللَّهَ جَهْرَةً؛ هيڅکله په تا ايمان نه راوړو تر هغه وخته چې خدای ښکاره وويڼو» [۲] موسی هغوی کوه طور ته بوتلل او د هغوی غوښتنه يې تکرار کړه، او د خدای له لوری يې داسې ځواب واوريده «وَلَمَّا جَاءَ مُوسَى لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ قَالَ رَبِّ أَرِنِي أَنْظُرْ إِلَيْكَ قَالَ لَنْ تَرَانِي وَلَكِنِ انْظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي فَلَمَّا تَجَلَّى رَبُّهُ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَى صَعِقًا فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ سُبْحَانَكَ تُبْتُ إِلَيْكَ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُؤْمِنِينَ؛ هيڅکله به ما ونه وينې خو غره ته وګوره که په خپل ځای ودريده ما به وګورې او کله يې چې رب په غره جلوه وکړه، هغه يې دخاورې په شان کړ، او موسی)ع( بيهوشه په ځمکه پريوته، کله چې په هوش کې راغی عرض يې وکړ:ای خدايه ! ته پاک يې له دې چې په سترګو وليدل شې، زه تاته جاروځم او زه له لومړيو مومنانو څخه يم» [۳]

او په دغه کيسې سره ثابته شوه چې خدای تعالی هيڅکله نه شي ليدل کيدی.

مونږ عقيده لرو چې:که په ځينو اسلامي روايتونو او ايتونو کې د خدای د ليدلو خبره راغلې ده د ليدلو مطلب يې د زړه په سترګو او باطني شهود دی، ځکه چې هميشه د قرآن ايتونو د يو بل تفسير کوي.(القرآن يفسر

---

۱. انعام سوره ۱۰۳ ايت

۲. بقره سوره ۵۵ ايت

۳. اعراف سوره ۱۴۳ ايت

بعضه بعضا)[1]

پر دې سربېره حضرت علی )ع( د یو کس په ځواب کې چې له هغوي یې وپوښتل «یا امیر المومنین هل راءیت ربک» ای امیر المومنینه ! ایا تا خپل رب لیدلی دی؟ وفرمایل: «اعبد ما لا اری؛ ایا څوک چې مې نه دی لیدلی عبادت یې وکړم؟»بیا یې زیاته کړه: «لا تدرکه العیون بمشاهدة العیان، ولکن تدرکه القلوب بحقائق الایمان؛ سترګې هیڅکله هغه په ښکاره نهویني خو زړونه د ایمان په طاقت سره هغه درک کوي»[2]

مونږ عقیده لرو چې:دخدای لپاره دمخلوقاتو د صفاتو قایل کیدل منجمله دخدای لپاره دمکان، لوري،جسمیت او لیدل کیدو عقیده دخدای له معرفته د لیرې کیدو او په شرک د اخته کیدو سبب کیږي،هو هغه تر ټولو ممکناتو او دهغوی تر صفتونو لوړ دی او د هغه په شان یو څیز هم نیشته.

## ۵. توحید ، د اسلام د ټولو تعلیماتو روح دی

مونږ عقیده لرو چې :د معرفة الله په هکله تر ټولو مهمه مسئله، د توحید او دهغه د پاک ذات د یو والي پیژندل دي،په حقیقت کې توحید یوازې د دین یو اصل نه دی بلکه د ټولو اسلامي عقایدو روح او پانګه ده،او په صراحت سره ویلی شو چې )د اسلام اصول او فروع په توحید کې جوړیږي ( په ټولو ځایونو کې د توحید او یو والي خبره ده، او دپاک ذات د وحدت او د خدای د صفاتو او افعالو توحید او په بل تفسیر ویلی شو چې د انبیاوو د دعوت

۱. دا یوه مشهوره جمله ده او له ابن عباسه نقل شوې ده،خو دا معنا په نهج البلاغې کې له امام علی)ع( په یو بل ډول راغلې ده : «ان الکتاب یصدق بعضه بعضا...» )نهج البلاغه، ۱۸خطبه( او په یو بل ځای کې فرمایي: «و ینطق بعضه ببعض ویشهده بعضه علی بعض» )۱۰۳ خطبه(

۲. نهج البلاغه ۱۷۹ خطبه

وحدت، د الهی دين يو والی، زمونږ د قبلې او آسماني کتاب يووالی،د ټولو انسانانو لپاره د الهی قوانينو او احکامو وحدت،او اخر دا چې د مسلمانانو د صفونو وحدت او د قيامت د ورځې وحدت.

له همدې امله قرآن له الهی توحيد هر ډول کږيدل او شرک ته ګروهنه، نه بخښل کيدونکې ګناه ګڼي «إِنَّ اللَّهَ لا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا؛ خدای تعالی)هيځکله (شرک نه بخښي، او له هغې لاندې هر څه چې وغواړي )او غوره يې وګڼي ( بخښي،او کوم کس چې د خدای لپاره ساری وټاکي لويه ګناه يې کړې ده.[۱] «وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ؛ تا ته او له تا مخکې ټولو پيغمبرانو ته وحي شوې ده چې که مشرک شوې ټول عملونو دې تباه کيږي، او له زيانمنو به وې»[۲]

## ۲. د توحيد څانګې

مونږ عقيده لرو چې: د توحيد زياتې څانګې دي چې تر ټولو مهم يې لاندينۍ څلور څانګې دي:

### الف: د ذات توحيد

يعنې د هغه پاک ذات يو اويګانه دی او هيڅ ساری او مثال نه لري.

### ب: د صفاتو توحيد

يعنې د علم قدرت، ازليت، ابديت او داسې نور صفتونه ټول دخدای په

---

۱. نساء سوره، ۴۸ ايت

۲. زمر سوره، ۶۵ ايت

ذات کې دي او دهغه د ذات عين دي )يعنې له ذاته جدا نه دي( نه د مخلوقاتو په شان چې صفات يې له يو بله جدا دي، البته د خدای تعالی له صفاتو سره د هغه د ذات عینیت فکری ظرافت او دقت ته اړتيا لري.

ج: د افعالو توحيد

يعنې هر کار او حرکت او هر اثر او نښه چې په هستئ کې موجوده ده ټول د خدای په ارادې دي« اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ؛ خدای تعالی دهر څيز پيدا کوونکی،او پر هر څه څارونکی او ساتونکی دی [1]

«لَهُ مَقَالِيدُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ؛ د ځمکې او آسمانونو کنجيانې له هغه سره دي )او دهغه په قدرت کې دي( [2]

هو، «لا موثر فی الوجود الا الله؛بې دخدای له پاک ذاته هيڅ اغيزمن او موثر په نړۍ کې نيشته»

خو د دې خبرې مطلب دا نه دی چې مونږ په خپلو عملونو کې مجبوره يو، بلکه د دې په اپوټه مونږ په خپلو فيصلو او ارادې کې ازاد يو«إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا؛ مونږ هغه )انسان( هدايت کړ )لاره مو هغه ته وښودله( که شاکر جوړيږي )او مني يې( او که کفران کوي )سرغړونه کوي(» [3]

«وَأَنْ لَيْسَ لِلإِنْسَانِ إِلا مَا سَعَى؛ او د انسان لپاره بې له خپل عمله بل څه نيشته» [4]

دا قرآني ايتونه په ډاګه ښيي چې انسان د ارادې ازادي لري، خو له دې امله چې د ارادې ازادي او د کارونود کولو قدرت خدای تعالی مونږ ته

---

۱. زمر سوره ۶۲ ايت

۲. شوری سوره ۱۲ ايت

۳. انسان سوره ۳ ايت

۴. نجم سوره ۳۹ ايت

راکړی دی، نو زمونږ اعمال په هغه تکیه لري بې له دې چې دا استناد زمونږ دکارونو په وړاندې زمونږ مسوولیت کم کړی. دقت وکړئ.

هو ، هغه اراده کړې ده چې مونږ خپل عملونه په ازادۍ سره وکړو چې له دې لارې مونږ وازمایي او د تکامل په لاره کې پر مخ لاړ شي ځکه چې د ارادې په ازادۍ او په اختیار سره د خدای د اطاعت د لارې په وهلو سره د انسان تکامل کیږي، ځکه چې جبري او له اختیاره بهر کار نه د چا د ښه والي دلیل کیدی شي او نه د بدوالي نښه !

اصولا که مونږ په خپلو عملونو کې مجبور وی،نه به د انبیاوو بعثت او د آسماني کتابونو نازلیدو څه مفهوم لرلو او نه به دیني احکامو او تکالیفو او تعلیم او تربیت، همداراز به الهی انعام او سزا هم څه مفهوم او مطلب نه درلود.

دا هماغه څیز دی چې مونږ د اهل بیتو- علیهم السلام- له مکتبه هم زده کړي دي چې مونږ ته یې فرمایلي دي: نه مطلق جبر صحیح دی او نه مطلق تفویض او مخلوق ته د چارو سپارل،بلکه د دغو دواړو په منځ کې یو څیز دی «لا جبر ولا تفویض ولکن امر بین امرین»[1]

د: په عبادت کې توحید

یعنې؛ عبادت یوازې له خدای سره مخصوص دی او د هغه له پاک ذات پرته بل هیڅ معبود نیشته،دتوحید دا څانګه دهغه تر ټولو مهمه څانګه ګڼل کیږي، او الهي پیغمبرانو زیاتره په هغې تکیه کړې ده: «وَمَا أُمِرُوا إِلا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ؛ هغوي )پیغمبرانو ته( بې له دې بل امر ورنه کړل شوچې یوازې دخدای عبادت

---

۱. اصول کافي، ۱ټوک ۱۲۰ مخ )باب الجبر والقدر و الامر بین الامرین(

وکړي،او خپل دین د هغه لپاره خالص کړي او له شرکه توحید ته ستانه شي...او دا دی دخدای پایداره دین»[۱]

د اخلاقو او عرفان د تکامل د پړاوونود وهلو لپاره، توحید تر دې هم ژور کیږي او هغه ځای ته رسیږي چې انسان باید یوازې په خدای پورې زړه وتړي، په هر ځای کې هغه وبلي او بې له هغه په بل څه فکر ونه کړي او هیڅ څیز دهغه فکر له خدایه په ځان اخته نه کړي:«کلما شغلک عن الله فهو صنمک؛ هر څیز چې تا په ځان مشغول کړي اوله خدایه دې لیرې کړي، هغه ستا بت دی.» مونږ عقیده لرو چې د توحید څانګې یوازې دا څلور نه دي، بلکه دمالکیت توحید)یعنې هر څه دخدای دی( «لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ [۲] او د حاکمیت توحید یعنې قانون یوازې د خدای قانون دی «وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ[۳] ټول د توحید له څانګو دي.

۷. مونږ عقیده لرو: چې د افعالي توحید اصل په دې حقیقت ټینګار کوي چې هغه لویې معجزې او خارق العاده کارونه چې الهی پیغمبرانو کړي دي ټول «باذن الله» و ، لکه څرنګه چې قرآن مجید د حضرت مسیح)ع( په هکله فرمایي: «وَتُبْرِئُ الأَكْمَهَ وَالأَبْرَصَ بِإِذْنِي؛ مادرزاده ړانده او په برص) لاعلاجه ناروغۍ( اخته کسانو ته دې د خدای په امر شفا ورکوله !او مړي به دې زما په امر ژوندي کول»[۴]

او د سلیمان دیو وزیر په هکله فرمایي: قَالَ الَّذِي عِنْدَهُ عِلْمٌ مِنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَنْ يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ فَلَمَّا رَآهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهُ قَالَ هَذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّي؛ هغه کس چې

۱. بینه سوره،۵ ایت
۲. بقره سوره ۲۴۸ آیت
۳. مائده سوره ۴۴ ایت
۴. مائده سوره ۱۱۰ ایت

دآسماني كتاب ځيني علم ورسره و وويل: مخكې له دې چې ستركې ورپوې، زه هغه )د ملكه سبا تخت( تاته راوړم او كله چې )سليمان( هغه د ځان په نزد ثابت او مستقر وليده، وې ويل: دا زما د رب فضل )او اراده( ده»[1]

په دې اساس د خداى په امر او اراده حضرت مسيح)ع( ته د لاعلاجه ناروغانو د شفا او د مړيو د ژوندي كولو نسبت وركول چې په ډاګه په قرآن كې راغلي دي، عين توحيد دى.

## ۸. د خداى پرښتې

مونږ د الهي پرښتو په وجود عقيده لرو چې هره يوه يې خاص ماموريت لري، ځيني يې انبياوو[2] ته د وحي په رسولو ماموري وې. او ځيني يې د انسانانو د عملونو د ساتلو ماموري.[3]

او ځيني د روحونو د اخستلو ماموريت لري.[4]

او ځيني له استقامت لرونكو مومنانو سره په مرسته ماموري.[5]

او ځيني په جنګونو كې مومنانو ته په مدد رسولو ماموري.[6]

او ځيني د سركښو قومونو د سزا ماموري[7] او د خلقت د نړۍ په نظام كې نور مهم ماموريتونه لري.

---

۱. نمل سوره ۴۰ ايت
۲. بقره سوره ۹۷ ايت
۳. انفطار سوره ۱۰ آيت
۴. اعراف سوره ۳۷ آيت
۵. فصلت سوره ۳۰ آيت
۶. احزاب سوره ۹ ايت
۷. هود سوره ۷۷ آيت

بې له شکه له دې امله چې دا ټول ماموریتونه د خدای په امر او د هغه په مرسته او قوت دي له افعالي توحید او د ربوبیت د توحید له اصل سره هیڅ منافات نه لري. بلکه پر هغو تاکید دی.

ضمنا له دې ځایه روښانه کیږي چې د پیغمبرانو معصومانو او پرښتو شفاعت، له دې امله چې د خدای په امر دی عین توحید دی «مَا مِنْ شَفِيعٍ إِلا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهِ؛ بې د خدای له امره هیڅ شفاعت کوونکی نیشته»[1]

## ۹: عبادت یوازې له هغه سره مخصوص دی

مونږ عقیده لرو چې: عبادت یوازې د خدای له پاک ذات سره مخصوص دی )لکه څرنګه چې د عبادت د توحید په مسله کې اشاره وشوه ( نو که هر څوک بې له هغه د بل چا عبادت وکړي «مشرک» دی، د ټولو انبیاوو بلنه هم په دې مسئله متمرکزه ده «إِعْبُدُ اللهَ ما لَكُمْ مَنْ اَلِهٍ غَيْرُهُ؛ د خدای پرستش وکړئ چې بې له هغه بل معبود نه لرئ»

دا هغه خبره ده چې په قرآن مجید کې څو څو ځله له پیغمبرانو نقل شوې ده.[2]

جالبه ده چې مونږ مسلمانان همیشه په خپلو لمنځونو کې د حمد سورې د تلاوت په وخت دا مهم اسلامي شعارتکراروو «ایاک؛یوازې ستا عبادت کوو او یوازې له تا مرسته غواړو»

روښانه ده چې دخدای په امر او اراده د انبیاوو او پرښتو شفاعت چې د قرآن په ایتونو کې راغلی دی د عبادت په معنا نه دی.

همدارازله پیغمبرانو سره توسل په دې معنا چې له هغوي وغوښتل شي

---

۱. یونس سوره ۳ آیت

۲. اعراف سوره ۷۳،۶۵،۵۹، ۸۵ او .....

چې د خدای له مقدس ذاته د توسل کوونکي لپاره د مشکل حل او هواری وغواړي،نه پرستش او عبادت ګڼل کیږی او نه له افعالي توحید یا د عباداتو له توحید سره منافات لري، او د دې مسئلې وضاحت به د نبوت په بحث کې راشي.

## ۱۰. د هغه پاک ذات حقیقت پر ټولو پټ دی

مونږ عقیده لرو چې که څه هم د خدای تعالی د وجود نښې په ټولې نړۍ کې موجودې دي، خود خدای د ذات حقیقت هیچا ته نه دی روښانه،او هیڅوک دهغه د ذات تل ته نه شي رسیدی.ځکه چې د هغه ذات له هر نظره بې نهایته دی او مونږ له هر نظره محدود او متناهي یواو له همدې امله په هغه زمونږ احاطه ناممکنه ده .«أَلا إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُحِيطٌ؛ خبر اوسئ هغه په هر څه احاطه لري»[1]

«وَاللَّهُ مِنْ وَرَائِهِمْ مُحِيطٌ؛ او خدای تعالی په هغوي ټولو احاطه لري»[2]

به عقل نازی حکیم تا کی به فکرت این راه نمي شود طی !

به کنه ذاتش خرد برد پی اگر رسد خس به قعر دریا !

په مشهور نبوي)ص( حدیث کې لولو چې هغه حضرت هم فرمایل: ما عبدناک حق عبادتک و ما عرفناک حق معرفتک؛ مونږ ستا هغه ډول چې ستا له ذات سره ښیي عبادت ونه کړ، او لکه څرنګه چې ستا د معرفت حق دی ته ونه پیژندې !»[3] دلته غلط فهمي ونه شي، د دې خبرې معنا دا نه ده چې له دې امله چې د هغه په پاک ذات «له تفصيلي علمه» محرومه یو نو له اجمالي علم او معرفته هم لاس واخلو او یوازې د معرفة الله په باب کې د داسې الفاظو په

۱. فصلت سوره، ۵۴ آیت

۲. بروج سوره ۲۰ ایت

۳.بحار الانوار، ۶۸ ټوک ۲۳ مخ

ذکر چې هیڅ مفهوم زمونږ لپاره نه لري بسنه وکړو، دا هماغه د معرفة الله تعطیلول دی چې مونږ یې نه منو او په هغه عقیده نه لرو، ځکه چې قرآن او نور آسماني کتابونه د معرفة الله او د خدای د پیژندلو لپاره نازل شوي دي.

د دې موضوع لپاره زیات مثالونه وړاندې کولی شو، مثلا مونږ د روح په حقیقت نه پوهیږو، خو بې له شکه له روحه اجمالی علم او پوهه لرو، مونږ ته پته ده چې روح موجود دی او د هغه اثار ګورو.

د امام محمد بن علی الباقر)ع( یو په زړه پورې حدیث دی چې وې فرمایل: «کلما میزتموه باوهامکم فی ادق معانیه مخلوق مصنوع مثلکم مردود الیکم؛ هر یو څیز چې په خپل فکر او وهم کې په ډیرې دقیقې معنا سره تصور کړئ، ستاسو مخلوق او د ذهن جوړ دی، او تاسو ته درګرځي )او خدای تعالی تر دې لوړ دی([1]

له امیر المومنین علی )ع( په یو بل حدیث کې د معرفة الله دقیقه او نرۍ لاره په ډیر ښکلي او روښانه تعبیر سره بیان شوې ده او فرمایي: لم یطلع الله سبحانه العقول علی تحدید صفته، ولم یحجبها امواج معرفته؛

سبحان خدای عقلونه د خپلو صفاتو له حدودو )تله( نه دي خبر کړي )او په عین حال کې یې هغوي له لازم معرفت او شناخت محجوب او محروم کړي نه دي»[2]

## ۱۱. نه تعطیل نه تشبیه

مونږ عقیده لرو چې: لکه څرنګه چې د خدای د پیژندلو او د هغه د صفاتو د معرفت «تعطیل» غلط کار دی، د )تشبیه( په وادۍ کې پریوتل هم غلط او

۱. بحار الانوار، ۲۲ ټوک ۲۹۳ مخ
۲. غرر الحکم

شرک الود کار دی، يعنې نه شو ويلی چې هغه پاک ذات بلکل نه پيژندل کيږی، او مونږ د هغه معرفت ته لاره نه لرو ، لکه څرنګه چې هغه له مخلوقاتو سره «شبيه» )ورته( نه شو ګڼلی ځکه چې يوه د «افراط» لاره ده او بله د «تفريط» - دقت وکړئ.

# دالهي پيغمبرانو نبوت

## ۱۲. د پيغبرانو د بعثت فلسفه

مونږ عقيده لرو: خدای تعالی د انسان د هدايت، مطلوب کمال او تل پاتی نيکمرغۍ ته د انسانانود رسولو لپاره پيغمبران او رسولان راستولي دي، ځکه چې که نه يې وو راليږلي د انسان د پيدايښت هدف نه حاصليده، او انسانان د ګمراهۍ په ګرداب کې پاتې کيدل او په دې کار سره نقض عرض لازميده. )يعنې د هدف په خلاف څيز لازم راتله( «رُسُلا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ لِئَلا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا؛ پيغمبران يې )راواستول( چې زيری ورکوونکي او ويروونکي وو، چې پر خدای د خلکو لپاره کوم حجت پاتې نه شي)او د سعادت لاره ټولو ته وښيي او پر ټولو غاړې خلاصې شي(او خدای تعالی وسيال او حکيم دی»[1]

مونږ باوري يو چې :په هغوي کې پنځه کسان «اولولعزم» يعنې «د شريعت، آسماني کتاب او نوي دين» خاوندان وو چې لومړی يې «نوح» بيا «ابراهيم» او «عيسی» او وروستی يې «حضرت محمد)ص(» دی.

«وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا؛ رایاد کړه هغه وخت چې له پيغمبرانو مو ژمنه واخسته او )همداراز( له تا او نوح او ابراهيم او موسی او عيسی بن مريم،اومونږ له

---

۱. نساء سوره،۱۶۵آيت

هغو ټولو پیاوړی پیمان واخسته )چې د رسالت په ادا کولو او د آسماني کتابونو په خپراوي کې هڅه وکړي (۱

«فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ؛ صبر او استقامت وکړه هغه شان چې اولوالعزم پیغمبرانو صبر او استقامت وکړ»۲

مونږ عقیده لرو: چې د اسلام پیغمبر)ص( خاتم انبیاء او د خدای تر ټولو اخري رسول دی او د هغه شریعت د نړۍ د ټولو خلکو لپاره دی او د نړۍ تر پایه پورې باقي دی، یعنې د اسلام د تعلیماتو معارفو او احکامو جامعیت تر دې حده دی چې د نړۍ تر پایه پورې په مادي او معنوي اړخونو کې دانسان ټولو اړتیاوو ته مثبت ځواب ورکوي، او هر څوک چې د نوي نبوت او رسالت ادعا وکړي باطله او بې اساسه ده.

« مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا؛ محمد)ص( په تاسو کې د هیڅ یو سړي پلار نه دی، خو دخدای رسول او د پیغمبرانو د لړۍ ختمونکی دی، خدای تعالی له هر څه خبر دی) او هغه څه چې ضروری وو هغه ته یې ورکړي دي.»۳

## ۱۳. د الهي دینونو له پیروانو سره ګډ ژوند

سره له دې چې مونږ اسلام په دې زمانه کې دخدای یوازینی رسمي دین ګڼو خو باوری یو چې باید د نورو آسماني دینونو له پیروانو سره ګډ سوله ایز ژوند ولرو، که هغوی په اسلامي هیوادونو کې ژوند کوي او که په نورو هیوادونو کې، مګر په هغوي کې هغه کسان چې له اسلام او مسلمانانو سره جګړه او نښته وغواړي: «لا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ

۱. احزاب سوره ۷ ایت
۲. احقاف سوره ۳۵ ایت
۳. احزاب سوره ۴۰ ایت

يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ؛ خدای تعالی تاسو له هغو کسانو سره له نيکۍ کولو او له هغوي سره په عدالت سره له چلند کولو نه منعې کوي چې د ين په خاطر يې له تاسو سره جګړه ونه کړه او تاسو يې له کور او وطنه ونه باسلئ، ځکه چې خدای تعالی عدالت کوونکي خوښوي.»[1]

مونږ عقيده لرو چې: په منطقي بحثونو سره د اسلام حقيقت او تعليمات د نړۍ نورو خلکو ته ښکاره او بيانولی شو، مونږ د اسلام جاذبه دومره قوي ګڼو چې که په ښه طريقه بيان شي، زياتې ډلې ځانته متوجې کوي، په تيره بيا په نننۍ نړۍ کې چې د اسلام دپيغام د اوريدلو لپاره اوريدونکي غوږونه ډير زيات دي. په همدې دليل مونږ عقيده لرو چې بايد اسلام په زور او د جبر او فشار له لارې په نورو ونه تپل شي: «وَمَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَآتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِنْ لَمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ؛ د دين په قبلولو کې په چا زور نيشته ځکه چې سم له ناسم ښکاره شوی دی»[2]

مونږ عقيده لرو چې: د اسلام په جامعو او امرو د مسلمانانو عمل کول د اسلام د معرفي کولو لپاره يو بل عامل کيدی شي نو زور او تپلو ته ضرورت نيشته.

## ۱۴: په ټول عمر کې د انبياوو معصوم والی

مونږ عقيده لرو چې: ټول الهی پيغمبران معصوم دي، يعنې په ټول عمر کې )هم له نبوت نه مخکې او هم وروسته ( له «خطا او تيروتنې» او «ګناه» د خدای

---

۱. ممتحنه سوره ۸ ايت
۲. بقره سوره ۲۵۲ آيت

په تایید سره خوندي او محفوظ دي،ځکه چې که خطا یا ګناه وکړي د نبوت د مقام لپاره ضروری اعتماد له هغوي سلب کیږي، او خلک نه شي کولی هغوي د ځان او خدای تر مینځ د اړ منه واسطه وګڼي او هغوي د ژوند په ټولو اعمالو کې خپل لارښود او رهبر وټاکي.

له همدې امله مونږ باوری یو چې که دقرآن دا یتونو په ځینو ظواهرو کې ځینې الهی پیغمبرانو ته د ګناه نسبت ورکړل شوی، دا «ترک اولی» ده )یعنې په دوو ښو کارونو کې یې هغه چې ښیګړه یې کمه وه انتخاب کړی دی حال دا چې غوره دا وه چې ډیر ښه کار یې باید انتخاب کړی وی( یا په بله ژبه «حسنات الابرار سیئات المقربین؛ د نیکانو ښه کارونه )کله( د مقربانو ګناه ګڼل کیږی»[۱] ځکه چې له هر چا دهغه د مقام په اندازه هیله کیږي.

## ۱۵. هغوي دخدای فرمانبرداره بندګان دي

مونږ عقیده لرو چې :د الهی پیغمبرانو او رسولانو تر ټولو لوی ویاړ دا و چې دخدای مطیع او فرمانبرداره بنده وي،له همدې امله هره ورځ په خپلو لمنځونو کې د اسلام د پیغمبر )ص( په باره کې دا جمله تکرارو و: «و اشهد ان محمد عبده و رسوله؛ګواهی ورکوم چې محمد)ص( دخدای بنده او رسول دی»

مونږ عقیده لرو چې هیڅ یو الهي پیغمبر د اولوهیت )خدایی( ادعا نه ده کړې او خلک یې خپل عبادت ته نه دي بللي: مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَنْ يُؤْتِيَهُ اللَّهُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا عِبَادًا لِي مِنْ دُونِ اللَّهِ؛ له هیڅ یو بشر سره نه ښایي چې خدای تعالی هغه ته آسماني کتاب او د نبوت حکم ورکړي، بیا هغه

۱. مرحوم مجلسي په بحار الانوار کې، دا جمله له ځینو معصومینو نقل کړې ده بې له دې چې چې نامه یې واخلي)بحار، ۲۵ ټوک ۲۰۵ مخ(

خلکو ته ووايي:له خدايه پرته زما عبادت کوئ»[۱]

حتی حضرت عيسی هم خلک هیڅکله دځان عبادت ته نه دي بللي،او تل يې ځان د خدای مخلوق بنده او استازی ګاڼه «لَنْ يَسْتَنْكِفَ الْمَسِيحُ أَنْ يَكُونَ عَبْدًا لِلَّهِ وَلا الْمَلائِكَةُ الْمُقَرَّبُونَ؛ مسيح)ع( هيڅ کله په دې ابا )شرم( نه احساسوه چې دخدای بنده دې وي، او نه د خدای مقربې پرښتې، )په دې شرم محسوسوي چې ځانونه دخدای بندګان وګڼي( [۲]

د مسيحيت نننې تاريخونه هم ګواهي ورکوي چې د «تثليث» )په دريو خدايانو د عقيدې( مسئله د مسحيت په لومړيو پيړيو کې نه وه موجوده، او دا تفکر وروسته پيدا شوی دی.

## ۱۲: معجزې او د غيبو علم

د پيغمبرانو عبوديت هیڅکله د دې خنډ نه دی چې هغوي د خدای په امر او اراده د اوس، تير او راتلونکي وخت له پټو چارو خبر وي: «عَالِمُ الْغَيْبِ فَلا يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا * إِلا مَنِ ارْتَضَى مِنْ رَسُولٍ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا؛ خدای تعالی په غيبو خبر دی،او هيڅوک په خپلو غيبي اسرارو نه خبروي، مګر هغه رسولان چې غوره کړي يې دي.[۳]

مونږ ته پته ده چې د حضرت عيسی)ع( يوه معجزه دا وه چې خلکو ته به يې د ځينو پټو خبرو خبر ورکاوه : «وَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ؛ زه تاسو د هغه څه چې خورئ يې او په کورنو کې يې ساتئ خبروم»[۴]

رسول الله مبارک هم د الهی تعليم له لارې ډير پټ خبرونه بيانول: «ذَلِكَ

---

۱. ال عمران سوره ۷۹آيت
۲. نساء سوره ۱۷۲ ايت
۳. جن سوره ۲۶ او ۲۷ ايتونه
۴. ال عمران سوره ۴۹ ايت

مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ؛ دا د غیبو خبرونه دي چې تاته یې وحي کوو»[۱]

نو په دې اساس هیڅ مانع نیشته چې الهي پیغمبران د وحي له لارې او د خدای په امر د غیبو خبر ورکړي او که په ځینو ایتونو کې له پیغمبر اکرم )ص( د علم غیب نفي شوې ده: «وَلا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ؛ زه له غیبو خبر نه یم او نه وایم چې پرښته یم»[۲] مطلب ذاتي او استقلالي علم دی، نه هغه علم چې د الهی تعلیم په ذریعه حاصل شي، ځکه چې پوهیږو چې د قرآن آیتونه د یو بل تفسیر کوي.

مونږ عقیده لرو چې: دغو لویو الهي پیغمبرانو خارق العاده کارونه او مهمې معجزې «باذن الله» کولې، او د خدای په امر د دغه ډول کارونو په کولو عقیده نه شرک دی او نه د هغوي د عبودیت له مقام سره څه تضاد لري. حضرت مسیح)ع( ـ دقرآن مجید په صراحت سره ـ د خدای په امر مړي ژوندي کول، او دخدای په اذن او اجازه به یې لاعلاجه ناروغانو ته شفا ورکوله: «وَأُبْرِئُ الأَكْمَهَ وَالأَبْرَصَ وَأُحْيِي الْمَوْتَى بِإِذْنِ»[۳]

## ۱۷: د پیغمبرانو دشفاعت مقام

مونږ عقیره لرو چې:الهي پیغمبران او تر ټولو لوړ داسلام پیغمبر)ص( د شفاعت مقام لري او د ځینو ګناهکارانو به دخدای په نزد شفاعت کوي، خو هغه هم دخدای په اذن او اجازه: مَا مِنْ شَفِيعٍ إِلا مِنْ بَعْدِ إِذْنِهِ؛ هیڅ شفاعت کوونکی نیشته مګر دخدای له اجازې او اذنه وروسته»[۴]

«مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلا بِإِذْنِهِ؛ څوک دی چې دهغه په نزد شفاعت وکړي

---

۱. یوسف سوره ۱۰۲ایت
۲. انعام سوره ۵۰ آیت
۳. ال عمران سوره ۴۹ آیت
۴. یونس سوره ۳ ایت

بې د هغه له امره»[۱]

او که د قرآن په ځینو ایتونوکې په مطلق ډول د شفاعت نفي ته اشاره شوې ده او فرمايي: «مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ يَوْمٌ لا بَيْعٌ فِيهِ وَلا خُلَّةٌ وَلا شَفَاعَةٌ؛ انفاق وکړئ مخکې له دې چې هغه ورځ راورسيږي چې په هغه ورځ نه بيع شته )چې ځوک د ځان لپاره سعادت او نجات واخلي( او نه دوستي )او معمولي ملګرتياوې او رفاقتونه څه ګټه لري( او نه شفاعت»[۲]

دلته مطلب استقلالي او خپلواکه او بې د خدای له امره شفاعت دی، یا دهغو کسانو په هکله دی چې د شفاعت قابلیت نه لري، ځکه چې مخکې مو ځو ځله وويل چې د قرآن ايتونه د يو بل تفسير کوي.

مونږ عقيده لرو چې:د شفاعت مسئله يوه مهمه وسيله ده د انسانانو د تربيت او سمې لارې ته دګناهکارانو د ستنولو لپاره او پاکۍ او تقوا ته دهڅولو او د ګناهکارانو په زړه کې دهيلې د ژوندي کولو، ځکه چې د شفاعت مسئله بې حساب او کتابه نه ده يوازې دهغو کسانو لپاره ده چې لياقت يې ولري،يعنې دهغوی ککړتيا په دې حد کې نه وي چې له شفيعانو سره يې خپل اړيکي بلکل شلولي وي،نو د شفاعت مسئله ګناهکارانو ته خبر داری ورکوي چې په ځان پسې ټول پلونه مه خرابوي او د ځان لپاره د ستنيدو لاره پريږدي او د شفاعت وړتيا له لاسه مه ورکوي

## ۱۸. د توسل مسئله

مونږ عقيده لرو: چې د «توسل» مسئله هم د «شفاعت» دمسئلې په شان ده، دا مسئله د معنوي او مادي مشکلاتو لرونکو ته زمينه برابروي چې د

---

۱. بقره سوره ۲۵۵ ايت

۲بقره سوره ۲۵۴ آيت

اولیاء الله لمن راونیسي چې د خدای په اذن له خدایه د هغوي د مشکلاتو حل وغواړي، یعنې له یوې خوا پخپله د خدای در ته مخه کړي او له بل پلوه دخدای ولیان وسیله وګرځوي «وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ جَاءُوكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللَّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُوا اللَّهَ تَوَّابًا رَحِيمًا؛ او که هغوی هغه وخت چې په ځان یې ظلم کاوه )او ګناه یې کوله (تاته راغلي وی او له خدایه یې بخښنه غوښتې وی،او د خدای رسول)ص( هم دهغوي لپاره بخښنه غوښتې وی خدای به یې توبه قبلوونکی او مهربان لیدلی وی.»[1]

همداراز د حضرت یوسف)ع( په کیسه کې لولو: چې هغوي په خپل پلار پورې متوسل شول او وې ویل: «قَالُوا يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ؛ ای پلاره !زمونږ لپاره له خدایه بخښنه وغواړه،ځکه چې مونږ خطاکاره وو !» بوډا پلار)یعقوب( دا وړاندیز له هغوی ومانه او هغوی ته یې مثبته وعده ورکړه او وې ویل: «قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي؛ ډیر زر به ستاسو لپاره د خدای له دره بخښنه وغواړم»[2] دا په دې ګواه دي چې )توسل ( په تیرو امتونو کې هم و او شته دی.

خو باید له دغه منطقي حده مخکې لاړ نه شو او د خدای ولیان په تاثیر کې مستقل او د خدای له ارادې او اذنه بې نیازه ونه ګڼو ځکه چې دا د «شرک او کفر» سبب کیږي.

او همداراز نه ده پکار چې توسل د اولیاء الله د عبادت په شکل کې راشي دا هم شرک او کفر دی، ځکه چې هغوي په خپل ذات کې او د خدای له اجازې پرته د ګټې او تاوان مالکان نه دي: «قُلْ لا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلا ضَرًّا إِلا مَا شَاءَ اللَّهُ؛ ووایه: زه ) حتی ( د ځان لپاره هم د سود اوزیان مالک نه یم مګر

۱. نساء سوره ۶۴ آیت

۲. یوسف سوره ۹۷ او ۹۸ ایتونه

هغه څه چې خدای يې وغواړي»[۱] او غالبا په ټولو اسلامي فرقو کې په عوامو کې ځينې کسان وي چې د توسل په مسئله کې افراط او تفريط کوي چې بايد دغو کسانو ته هدايت او لارښوونه وشي.

## ۱۹: د انبياوو د بلنې اصول يو دي

مونږ عقيده لرو چې ټولو الهی پيغمبرانو يو هدف درلود او هغه په خدای او د قيامت په ورځې د ايمان او صحيح ديني تعليم او تعلم او په بشري ټولنو کې د اخلاقي اصولو د تقويت له لارې د انسانانو نيکمرغي ده، او په همدې وجه ټول پيغمبران زمونږ په نزد درانه او محترم دي دا خبره قرآن مونږ ته راښودلې ده «لا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ؛ مونږ د الهی رسولانو تر مينځ هيڅ فرق نه کوو»[۲]

که څه هم د وخت په تيريدو او د لا لوړو تعليماتو د اخستلو لپاره د انسانانو په چمتووالي سره، الهی دينونه تدريجا لا کامل، او تعليمات يې لا ژور شوي دي تر دې چې د خدای تر ټولو کامل او وروستي دين يعنې اسلام ته لمبر رسيدلی دی او دا امر راغی.: «الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإسْلامَ دِينًا؛ نن مې ستاسو دين کامل کړ او خپل نعمت مې په تاسو بشپړ کړ، او اسلام مې ستاسو لپاره د )تل پاتي ( دين په توګه ومانه»[۳]

---

۱. اعراف سوره ۱۸۸آيت
۲. بقره سوره ۲۸۵ ايت
۳. مائده سوره ۱۳ ايت

## ۲۰. د تیرو انبیاوو خبر ورکول

مونږ عقیده لرو چې: ډیرو پیغمبرانو له ځانه د وروسته راتلونکو پیغمبرانو خبر ورکړی دی، منجمله حضرت موسی)ع( او حضرت عیسی)ع( د اسلام د پیغمبر)ص( د راتللو ښکاره ګندې نښې وړاندې کړي دي چې اوس هم په هغوي کې ځینې د هغوی په کتابونو کې موجودې دي: «الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ....... أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ؛ هغوی چې د خدای د رسول، امي نبي)خو پوه او خبر( پیروي کوي، هماغه پیغمبر چې صفتونه یې په تورات او انجیل کې چې د هغوي په نزد دی مومي، هغوي کامیاب دي»[1]

په همدې وجې تاریخ وايي: د اسلام د پیغمبر )ص( له ظهوره مخکې د یهودو یوه لویه ډله مدینې ته راغله او په بې صبرۍ سره د هغه پیغمبر د ظهور په انتظار ووځکه چې په خپلو کتابونو کې یې لیدلي وو چې هغه به په دغه ټاټوبي کې راڅرګندیږي.که څه هم د دغه لمر له ختلو وروسته ځینو یې ایمان راوړ او ځینو نورو چې خپلې ګټې یې په خطر کې لیدلې ورسره مخالفت وکړ!

## ۲۱. پیغمبران او د ژوند د ټولو اړخونو اصلاح

مونږ عقیده لرو چې:الهي دینونه چې پر پیغمبرانو نازل شوي دي- په تیره بیا -اسلام دین یوازې د فردي ژوند په اړه او په اخلاقي او معنوي مسائلو پورې محدود نه دی بلکه د ټولو ټولنیزو اړخونو اصلاح ته هم شاملیږي، حتی د ورځني ژوند لپاره ضروري ډیر علمونه او پوهې هم خلکو له هغوي زده کولې چې ځینو ته یې په قرآن کې اشاره شوې ده.

---

۱. اعراف سوره ۱۵۷ ایت

او همدا راز عقیده لرو چې: د هغوی الهی لارښوونکو یو هدف په بشري ټولنه کې عدالت دی. «لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ؛ مونږ خپل رسولان په روښانه دلائلو سره ولیږل او له هغوي سره مو آسماني کتاب او میزان )له باطله د حق پیژندل او عادلانه قوانین( نازل کړل چې )د نړۍ( خلک په عدالت قیام وکړي» [1]

## ۲۲. د قومي او نسلي امتیازاتو نفي

مونږ عقیده لرو چې: د خدای پیغمبران په تیره بیا د اسلام پیغمبر)ص( هیڅ ډول قومي او نسلي امتیازات او توپیرونه نه منل، بلکه ټول نسلونه، ژبې او د نړې مختلف قومونه او ملتونه ټول او ټول د هغوي په نظر کې یوشان وو، قرآن ټولو انسانانو ته وایی: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ؛ ای خلکو مونږ تاسو له یو سړي او یوې ښځې وپنځولئ او تاسو مو قبیلې او ټپې وګرځولئ چې یو بل وپیژنئ )خو دا د امتیاز او لوړاوي معیار نه دی( په تاسو کې خدای ته تر ټولو عزتمن کس هغه دی چې زیاته تقوا ولري. [2]

له رسول الله مبارکه په یو مشهور حدیث کې راغلي دي چې د منی په ټاټوبي کې )د حج په مراسمو کې( په داسې حال کې چې په اوښ سپور وخلکو ته یې مخ کړ او دا وینا یې وکړه: یا ایها الناس! الا ان ربکم واحد وَ اِنّ اباکم واحدٌ اَلا لَا فضل لِعربی علی عجمی، و لَا لِعجمی علی عربی، ولا لاسود علی احمر، ولا لاحمر علی اسود، الا بالتقوی، الا هل بلغت؟! قالوا نعم! قال لیبلغ الشاهد الغائب؛ ای خلکو پوه شئ ستاسو خدای یو دی او پلار مو یو، نه عرب پر عجم لوړاوی

۱. حدید سوره ۲۵ ایت
۲. حجرات سوره ۱۳ ایت

لري او نه عجم پر عرب،نه تور پوستی په غنم رنګي او نه غنم رنګی په تور پوستي،مګر په تقوا سره، ایا تاسو ته مې دخدای پیغام ورساوه؟ ټولو وویل: هو ! وې فرمایل: دا خبره دې حاضران غایبانو ته ورسوي.[1]

## ۲۳. اسلام او انساني فطرت)ختہ(

مونږ عقیده لرو چې:په خدای توحید او د انبیاوو د تعلیماتو په اصولو ایمان په اجمالي ډول په فطري توګه د هر یو انسان په ختہ کې موجود دی،الهي پیغمبران دغه پر ثمره تخمونه خروبوي او د هغو لخوا و شا دشرک او کفر بې کاره بوټی للون کوي: «فِطْرَةَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ؛ دا )دخدای خالص دین ( هغه فطرت دی چې خدای تعالی ټول انسان په هغه پیدا کړي دي د خدای په پیدا ایښت کې هیڅ ډول بدلون نیشته )او دا فطرت په ټولو انسانو کې ثابت دی ( دا دی کلک او استواره دین خو اکثره خلک نه پوهیږي»[2]

له همدې امله په تاریخ کې، انسانانو تل دین لرلی دی او د لویو مورخانو په باور لادیني یوه بلکل کمه او استثنایی چاره وه او حتی هغه ملتونه هم چې د دین په خلاف تر سختو تبلیغاتو لاندې وو کله یې چې ازادي لاسته راوړې ده دینداری ته جاروتلي دي خو له دې انکار نه شو کولی چې د ډیرو پخوانیو قومونو د پوهې او کلتور د سویې د ټیټ والي په وجه دیني عقائد او اداب له چټیاتو او وهمیاتو سره ککړ شول او د الهي پیغمبرانو دنده دا وه چې د انسانانو د فطرت له هنداري د دغو خرافاتو او چټیاتو زنګونه پاک کړي.

---

۱. تفسیر قرطبی، ۹ ټوک ۲۱۲۲مخ

۲. روم سوره ۳۰ ایت

# قرآن او آسماني کتابونه

## ۲۴. د آسماني کتابونو د نازلیدو فلسفه

مونږ عقیده لرو: چې خدای تعالی د انسانانو د هدایت لپاره ډیر آسماني کتابونه رالیږلي دي، منجمله د ابراهیم او نوح «صحیفې» او «تورات» او «انجیل» او تر ټولو جامع «قرآن مجید»، او که دا کتابونه نه وی نازل شوی انسان به د خدای پیژندنې او د پروردګار د عبادت په لاره کې خطا شوی و او د خپلې اړتیا له ټولنیزو قوانینو او د تقوا اخلاقو او تربیت له اصولو به لرېې پاتې شوی و.

دا آسماني کتابونه د رحمت د باران په شان په زړونو ووریدل او د انسانانو په خټه کې یې د تقوا، اخلاقو معرفة الله او علم او حکمت تخمونه زرغون او وروزل.

«آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ؛ پیغمبر په هغه څه چې د هغه د رب لخوا پر هغه نازل شوي ایمان راوړی او ټولو مومنانو )هم( په خدای پرښتو او ټولو کتابونو او استازو ایمان راوړی دی.»[1]

که څه هم له بده مرغه د وخت په تیریدو او د ناپوهانو او نااهلانو په لاسوهنې سره په ډیرو آسماني کتابونو کې تحریف وشو او غلط افکار

---

۱. بقره سوره ۲۸۵ ایت

ورسره ګډ کړی شول، خو قرآن مجید په هغو دلائلو چې وروسته به يې ذکر کړو له هر ډول لاسوهنې خوندي پاتې شو او د لمر په شان په ټولو وختونو او پیړیو کې ځلیږي او زړونه روښانه کوي.

«قَدْ جَاءَكُمْ مِنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُبِينٌ * يَهْدِي بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ سُبُلَ السَّلامِ؛ د خدای لخوا تاسو ته ښکاره رڼا او کتاب راغلی دی. خدای تعالی د هغه په برکت هغه کسان چې د هغه له خوښۍ پیروي کوي، د سلامتیا او (سعادت) لارې ته هدایتوي.

## ۲۵. قرآن د رسول الله مبارک تر ټولو لویه معجزه

مونږ عقیده لرو چې قرآن د اسلام د پیغمبر(ص) تر ټولو لویه معجزه ده، نه یوازې د فصاحت اوبلاغت، د بیان د خوږوالي او د معنو د رسا والي له نظره بلکه له نورو ډیرو اړخونو هم معجزه ده چې د عقائدو او کلام په کتابونو کې يې تفصیل راغلی دی.

له همدې امله عقیده لرو چې: هیڅوک د هغه په شان او حتی د هغه د یوې سورې په شان هم نه شی جوړولی، قرآن په ځلونو هغو کسانو ته چې په شک او تردید کې وو بلنه ورکړې ده چې د دې په شان حتی یوه سوره هم راوړي خو هغوي هیڅکله د مقابلې توان نه دی لرلی: «قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَذَا الْقرآن لا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا؛ ووایه که انسانان او پیریان (جن او انس) سره راټول شي چې د قرآن په شان یو کتاب جوړ کړي د دې په شان به جوړ نه کړی شي، که څه هم په دغه کار کې له یو بل سره مرسته وکړي»[۱]

«و وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُمْ مِنْ دُونِ

۱. اسرا سوره ۸۸ایت

اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ؛ او که دهغه څه په هکله چې په خپل بنده )رسول الله( مو نازل کړي دی څه شک او شوبه لرئ )لږ ترلږه( د هغې په شان يوه سوره خو راوړئ، او له خدايه پرته د دې کار لپاره خپل ګواهان هم راوغواړئ که تاسو رښتيا وايئ»[1]

او عقيده لرو چې قرآن د وخت په تيريدو سره، نه يوازې زړيږي نه بلکه معجزې يې نورې هم ښکاره کيږي او د مطالبو عظمت يې نړيوالو ته نور هم څرګنديږي.

له امام صادق )ع( په يو حديث کې لرو چې فرمايي: «ان الله تبارک وتعالى لم يجعله لزمان دون زمان ولناس دون الناس فهو فى کل زمان جديدو عند کل قوم غض الى يوم القيمة؛ خدای تعالى قرآن مجيد ديوې خاصې زمانې يا خاص قوم لپاره نه دی ټاکلی له همدې امله يې په هره زمانه کې تازه، او د قيامت تر ورځې پورې د هرې ډلې په نزد تاند او نوی کړ»[2]

## ۲۲. په قرآن کې تحريف نه دی شوی

مونږ عقيده لرو چې: هغه قرآن چې نن د نړې له مسلمانانو سره دی هماغه دی چې د اسلام په پيغمبر )ص( نازل شوی دی، نه پکې څه کم شوي دي او نه وربانديې څه زيات شوي دي!

له هماغو لومړيو ورځو د زيات شمير کاتبان وحي، د قرآن ايتونه له نازليدو وروسته ليکل، او مسلمانان ژمن وو چې شپه او ورځ هغه ولولي، او په خپلو پنځګونو لمونځونو کې هغه تکرار کړي، خو ډيرو کسانو د قرآن ايتونه يادول او حفظ يې ساتل، د قرآن حافظانو او قاريانو هميشه په

---

۱. بقره سوره ۲۳ ايت
۲. بحار الانوار، ۲ ټوک ۲۸۰ مخ ۴۴ حديث

اسلامي ټولنو کې خاص مقام درلود او لري يې. دغه ټولې چارې او ځينې نورې مسئلې سبب شوې چې په قرآن کې هيڅ بدلون او تحريف ونه شي.

پر دې سربيره خداى تعالى د نړې تر پايه پورې د قرآن د حفاظت ضمانت کړى دى او د دغه الهي تضمين په وجه په هغه کې هيڅ ډول تحريف او بدلون ممکن نه دى: إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ؛ مونږ قرآن نازل کړ او قطعا به د هغه حفاظت کوو»[1]

د اسلام ټول محققان او د شيعه او سنيانو لوى عالمان په دې خبره يوه خوله دي چې د قرآن په لور د تحريف هيڅ لاس نه دى اوږد شوى، په شيعه او سنيانو کې يوازې ګوته په شمير کسان د ځينو روايتونو له امله د تحريف خبره کړې ده، خو د دواړو ډلو پوهان او عالمان دغه نظر په کلکه ردوي او دا روايتونه «جعلي» ګڼي يا «په معنوي تحريف» )يعنې د قرآن د ځينو ايتونو لپاره د غلط تفسير ( په معنا يا د «قرآن د تفسير» په ځاى «د قرآن د متن» د اشتباه له امله يې ګڼي. )دقت وکړئ(.

هغه لنډ فکره کسان چې ټينګار لري د قرآن د تحريف عقيده چې د شيعه او سني د لويو او مشهورو عالمانو د صريحو کلماتو مخالفه ده،په ځينو شيعه او نورو ډلو پورې وتړي،په ناپوهۍ سره قرآن ته تاوان رسوي او د ناروا تعصبونو له امله د دغه لوى آسماني کتاب اعتبار تر پوښتنې لاندې راولي او د دښمن ژرندې ته اوبه اچوي.

د پيغمبر له وخته د قرآن د راغونډيدو د تاريخي ټپال مطالعه او د قرآن ليکلو، حفظ او تلاوت ته د مسلمانانو د ډير زيات اهميت ورکول، په تيره بيا له لومړۍ ورځې د وحي د کاتبانو شتون دا حقيقت ټولو ته روښانوي چې په قرآن کې تحريف ناممکن کار و. او همدا راز له دې مشهور قرانه پرته بل قرآن نيشته، د دې دليل ډير روښانه دى او د تحقيق لاره ټولو ته پرانستې

1. حجر سوره ۹ ايت

ده ځکه چې نن سبا قرآن زمونږ د ټولو په کورونو او زمونږ د هيواد ټولو عامو جوماتونو او کتابتونونو کې موجود دی، حتی خطي قرانونه چې پيړۍ پيړۍ مخکې ليکل شوي او زمونږ په ميوزمونو کې ساتل کيږي، ټول ښيي چې دا قرانونه هماغه شان دي چې په نورو اسلامي هيوادونو کې موجود دي، او که پخوا د دغو خبرو د تحقيق لپاره لاره خلاصه نه وه، نن سبا خو ټولو ته د تحقيق دروازې خلاصې دي او په ډير لږ شان تحقيق سره، د دغه ناروا تورونو بې اساس والی څرګنديږي.

«فَبَشِّرْ عِبَادِي الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ؛ زماهغه بندګانو ته زيری ورکړه چې خبرې واوري او له ښو يې پيروي وکړي.

زمونږ په علميه حوزو او مدرسو کې نن سبا قرآني علوم په ډيره پراخه توګه تدريس کيږي، او يو ډير مهم بحث چې په دغو درسونو کې دی،د قرآن د نه تحريف او نه بدلون مسئله ده.[1]

## ۲۷. قرآن او د انسان مادي او معنوي اړتياوې

مونږ عقيده لرو چې: هغه څه چې د انسان د مادي او معنوي ژوند لپاره ضروري دي. اصول يې په قرآن کې ذکر شوي دي، د حکومت د چلولو او سياسي مسائلو، له نورو ټولنو سره د روابطو، د ګډژوند سولې او جنګ اصول قضايي او اقتصادي مسائل او داسې نور په قرآن کې يې کلي ضوابط بيان شوي چې د هغو په کارولو سره زمونږ د ژوند فضا روښانه کيږي.

«وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ؛ مونږ دا کتاب

---

۱. مونږ په خپلو ليکنو کې که هغه د «تفسير»بحثونه وي که د «فقې د اصولو»د قرآن د نه تحريفوالي په برخه کې ډير بحثونه کړي دی)انوار الاصول او تفسير نمونه ته مراجعه وکړئ(

پر تا نازل کړ چې د هر څه بیانوونکی او د اسلام د پیروانو لپاره هدایت رحمت او زیری دی.»[۱]

له همدې امله زمونږ عقیده دا ده چې «اسلام» هیڅکله له «حکومت او سیاسته» جدا نه دی او مسلمانانو ته امر کوي چې د خپل حکومت واګې په لاس کې واخلي، او د هغې په مرستې سره د اسلام لوړ ارزښتونه ژوندي کړي، او اسلامي ټولنه داسې تربیت شي چې ټول خلک د عدالت او انصاف په لاره کې راشي او د دوست او دښمن دواړو په حق کې عدل اجرا شي.

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَى أَنْفُسِكُمْ أَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ؛ ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی د عدل پوره قایمونکي اوسئ او د خدای لپاره شهادت ورکړئ که څه هم )دغه ګواهي ( ستاسو یا مو د مور پلار او خپلوانو په تاوان وي»[۲]

«وَلا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى؛ هیڅ کله له یو قوم سره دښمني تاسو ګناه او د عدالت پریښودلو ته ونه هڅوي، له عدالته کار واخلئ ځکه چې تقوا او پرهیز کارۍ ته نزدې ده»[۳]

## ۲۸. تلاوت، تدبر، عمل

مونږ عقیده لرو: چې د قرآن تلاوت ډیر افضل عبادت دی او ډیر کم عبادتونه ورته رسیږي، ځکه چې دا تلاوت په قرآن کې د فکر الهام بخښونکی دی او تفکر او سوچ کول د نیکو عملونو سرچینه ده.

قرآن د اسلام پیغمبر)ص ( ته فرمایي: «قُمِ اللَّيْلَ إِلا قَلِيلا * نِصْفَهُ أَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيلا * أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ الْقرآن تَرْتِيلا .... د شپې په لږې برخې کې پاڅیږه، د شپې

---

۱. نحل سوره ۸۹ ایت

۲. نساء سوره ۱۳۵ ایت

۳. مائده سوره ۸ ایت

نيمه برخه يا له هغې کمه کړه، يا ورزياته کړه )بيدار اوسه( او قرآن په دقت او سوچ سره لوله !»[۱]

او ټولو مسلمانانو ته په خطاب کې فرمايي: «فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقرآن؛ هر څومره چې تاسو ته ميسر وي ) کولې شئ ( قرآن ولولئ !»[۲]

خو لکه څرنګه چې وويل شول د قرآن تلاوت بايد د هغې په معنا او مطلب کې د تفکر او تدبر لپاره يوه وسيله وي،او تفکر او سوچ هم بايد په قرآن د عمل کولو مقدمه وګرځي: «أَفَلا يَتَدَبَّرُونَ الْقرآن أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا؛ ايا هغوي په قرآن کې تدبر نه کوي يا يې په زړونو قفلونه لګيدلي دي»[۳]

«وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقرآن لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ؛ مونږ قرآن دتذکر لپاره اسان کړ ايا څوک شته چې متذکر شي )او عمل وکړي( !»[۴]

«وَهَذَا كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ فَاتَّبِعُوهُ؛ دا له برکته ډک کتاب دی )چې پر تا مو( نازل کړنو له هغه پيروي وکړئ !»[۵]

په دې اساس هغه کسان چې د قرآن په تلاوت او حفظ بسنه کوي، او په قرآن کې «تدبر» او «عمل» نه کوي،که څه هم له درې رکنونو يې يو ترسره کړی دی خو دوه مهم رکنونه يې له لاسه ورکړي دي او په لوی خسران او تاوان اخته شوي دي.

## ۲۹. انحرافي بحثونه

مونږ عقيده لرو چې: هميشه د قرآن په آيتونو کې له تدبر او ورباندې له عمل

---

۱. مزمل سوره ۲-۴ ايتونه

۲. مزمل سوره ۲۰ ايت

۳. محمد سوره ۲۴ آيت

۴. قمر سوره ۱۷ايت

۵. انعام سوره ۱۵۵ايت

کولو څخه د مسلمانانو دغږولو لپاره ځينو لاسونو کار کړی دی؛که يو وخت د بنی اميه او بنی عباسو[1] په زمانو کې د قرآن )د قديمي والي او حادث والي( بحثونو ته لمن ووهل شوه، او مسلمانان يې په دوو ډلو وويشل او په يو بل يې اخته کړل او په دې لاره کې ډيرې وينې توی شوې.حال دا چې نن مونږ پوهيږو چې دا بحث بلکل صحيح مفهوم چې ورپاره جګړه وشي نه لري، ځکه چې که له کلام الله نه مطلب د هغه حروف او نقوش او ليکنه او کاغذ وي، بې له شکه دا چارې حادثې دي، او که مطلب هغه معنې وي چې د پروردګار په علم کې دي، بې له شکه د خدای علم د هغه د ذات په شان قديم او ازلي دی.خو ظالمو او جائرو پاچاهانو په کلونو کلونو مسلمانان په دې مسئله مشغول وساتل، او نن هم نور لاسونه شته چې مسلمانان په بل ډول په قرآن کې له تدبر او د هغه په ايتونو له عمل کولو غږوي.

## ۳۰. د قرآن د تفسير ضوابط

مونږ عقيده لرو چې: د قرآن الفاظ بايد د هغه په هماغه عرفي او لغوي معنو حمل کړی شي )هماغه معنې ترې واخستل شي ( مګر دا چې له عقل يا نقله، په قرآن کې دننه يا بهر کومه قرينه موجوده وي چې په بلې معنې دلالت وکړي، )خو بايد په مشکوکو قرائنو له تکيې ډډه وشي، او په حدس او ګمان د قرآن د ايتونو تفسير نه دی پکار(

مثلا کله چې قرآن وايي: «وَمَنْ كَانَ فِي هَذِهِ أَعْمَى فَهُوَ فِي الآخِرَةِ أَعْمَى؛ څوک

[1]. په ځينو تاريخونو کې راغلي دي چې عباسي خليفه مامون د خپل يو قاضي په مرسته حکم خپور کړ چې هر څوک د قرآن په مخلوقوالي عقيده نه لري، له دولتي منصبونو دې ليرې کړی شي او په محکمې کې يې شهادت ونه منل شي )تاريخ جمع قرآن مجيد ، ۲۲۰ مخ(

چې په دې دنيا کې ړوند دی په اخرت کې هم ړوند او زيات ګمراه دی»[١]
يقين لرو چې دلته د «اعمی» مطلب ظاهري ړوند والی چې لغوي معنا يې ده، نه دی ځکه چې ډير نيک او پاک خلک په سترګو نابينا وو، بلکه مطلب د باطن او د زړه ړوندوالی دی.

دلته د عقليه قرينې وجود د دغه تفسير سبب شوی دی.

همداراز قرآن د اسلام د ځينو دښمنانو په هکله وايي: «صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لا يَعْقِلُونَ؛ هغوی کاڼه ګونګيان او ړانده دي، په همدې وجه په څه نه پوهيږي»[٢] ښکاره خبره ده چې هغوي له ظاهري نظره کاڼه ګونګيان يا ړانده نه وو بلکه دا دهغوی باطني صفات وو )دا تفسير مونږ دحاليه قرائنو په مټ چې په لاس کې يې لرو کوو (

په دې اساس کله چې قرآن د خدای په هکله فرمايي: «بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ؛ د خدای دواړه لاسونه پرانستي دي»[٣] يا فرمايي: «وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا؛ )ای نوحه ( زمونږ د سترګو په وړاندې کشتۍ جوړه کړه »[۴]

د دغو ايتونو مفهوم هيڅکله دخدای جسماني غړي سترګې غوږونه او لاسونه نه دي، ځکه چې هر جسم غړي لري او زمان او مکان او لوري ته اړتيا لري، او اخر فاني کيږي، او خدای تعالی تر دې لوړ دی چې دا صفتونه ولري، نو له «يداه» )لاسونو ( مطلب هماغه د خدای کامل قدرت دی چې ټول کائنات يې ترنفوذ لاندې دي او له «اعين» )سترګو ( مطلب د هغه علم او پوهه ده چې په هر څه يې لري.

په دې اساس مونږ هيڅکله په دغو تعبيراتو جمود ـ که هغه د خدای د

١. إسراء سوره ١٧٢ايت
٢. بقره سوره ١٧١ايت
٣. مائده سوره ۶۴
۴. هود سوره ٣٧ايت

صفاتو په باب کې وی که په نورو کې. او په عقلي او نقلي قرائنو سترګې پټول نه منو، ځکه چې د نړۍ ټول وینا وال او سخنوران په دغه ډول قرائنو تکیه کوي او قرآن دغه روده په رسمیت پیژندلې او منلې ده: وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلا بِلِسَانِ قَوْمِهِ؛ مونږ هیڅ پیغمبر ونه لیږه مګر دهغه دقوم په ژبه»[1]
خو لکه څرنګه چې مو وویل قرائن باید روښانه او قطعي وي.

## ۳۴. په خپله رایه د تفسیر )تفسیر بالرای (خطرې

مونږ عقیده لرو چې: تفسیر بالرای د قرآن مجید په هکله یو ډیر خطرناک کار دی چې په اسلامي روایتونو کې لویه ګناه ګڼل شوې ده او دخدای له دره د پریوتلو او لیرې کیدلو سبب کیږي، په حدیث کې راغلي دي چې خدای تعالی فرمایي: «ما امن بی من فسر برایه کلامی؛ هغه کس چې زما خبره په خپله خوښه )او دخپل نفس په طبعه( تفسیر کړي په ما یې ایمان نه دی راوړی»[2] څرګنده ده چې که سم ایمان یې لرلی د خدای کلام به یې هماغه شان چې دی منلی وی نه هغه شان چې د ده زړه یې غواړي.

په ډیرو مشهورو کتابونو )منجلمه صحیح ترمذی اونسایی او ابی داود ( کې دا حدیث له رسول الله مبارکه نقل شوی دی: «من قال فی القرآن برایه او بما لا یعلم فلیتبوء مقعده من النار؛ څوک چې قرآن په خپله خوښه تفسیر کړي یا په ناپوهۍ د هغه په هکله څه ووایي باید تیار شي چې خپل ځای په دوزخ کښې ولټوي.»[3]

د تفسیر بالرای مطلب دا دی چې قرآن د شخصي یا ډله ایزو ګروهنو یا

۱. ابراهیم سوره ۴ ایت.
۲. وسائل ۱۸ ټوک ۲۸ مخ، ۲۲ حدیث.
۳. کتاب مباحث فی علوم القران، د ریاض د مشهور عالم مناع الخیل القطاع لیکنه، ۳۰۴مخ.

عقیدو مطابق معنې او تفسیر کړي او له خپلې عقیدې سره یې برابر کړي، بې له دې چې قرینه او شاهد وربانديې موجود وي،داسې کس په حقیقت کې د قرآن تابع نه دی، بلکه غواړي چې قرآن دځان تابع کړي، او که په قرآن یې پوره ایمان لرلی هیڅکله به یې دا کا ر نه کاوه.

په یقین سره وایو چې که په قرآن کې د تفسیر بالرای ور خلاص شي قرآن به چورلټ بې اعتباره شي، او هر کس به یې په خپله خوښه معنې او تفسیر کوي او هره باطله عقیده به په قرآن تطبیقوي.

په دې اساس تفسیر بالرای یعنې د عربو د لغت او ادبیاتو د علم د اصولو او د اهل زبان له پوهې پرته په بل څه او په باطلو خیالاتو او ګمانونو او شخصي او ډله ایزو ګروهنو د قرآن تطبیقول او ورسمول د قرآن د معنوي تحریف سبب کیږي.

تفسیر بالرای مختلفې څانګې لري چې یوه پکې دقرآن له ایتونو سره د خپلې خوښې چلند دی، په دې معناچې انسان مثلاً په «شفاعت» او «توحید» «امامت» او داسې نورو بحثونو کې یوازې هغه ایتونه راواخلي چې د هغه د وارمخکې قضاوت په لاره کې وي، او نور ایتونه چې د هغه له افکارو سره غږمله نه دي، او په نورو ایتونو تفسیروونکې کیدلی شي، سترګې پټې کړي، یا ډیر په بې پروایۍ سره یې له څنګه تیر شي.

لنډه دا چې: لکه څرنګه چې د قرآن مجید په الفاظو جمود او معتبرو عقلي او نقلي قرائنو ته توجه نه کول یو ډول انحراف دی، تفسیر بالرای هم یو بل ډول انحراف او بې لاري ګڼل کیږي، او دواړه د قرآن له لوړو تعلیماتو او د هغې له ارزښتونو د لیرې کیدو سبب کیږي.دقت وکړئ.

## ۳۲. سنت، له «کتاب الله» سرچینه اخلي

مونږ باوري یو چې: هیڅوک نه شي کولی «کفانا کتاب الله» ووایي او په

نبوي احاديثو اوسنتو چې د قرا ن د حقائقو د بيان او تفسير او د قرآن د عام او خاص او د ناسخ او منسوخ د پوهولو په باب دي يا د دين په اصولو اوفروعو کې د اسلام له تعليماتو سره موبوط دي سترګې پټې کړي ځکه چې د قرآن ايتونو د پيغمبر اکرم )ص( سنت او د هغه کلمات او افعال د مسلمانانو لپاره حجت ګڼلي. او هغه يې په اسلام د پوهيدلو او د احکامو په استنباط کې اصلي منابع ټاکلي دي: «مَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الأغْنِيَاءِ مِنْكُمْ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا؛ هغه څه چې د خدای رسول)ص( ستاسو لپاره راوړي )او تاسو ته يې امرکړی ( واخلئ )او عمل وکړئ( او له هغه څه چې منعې کړې يې يئ ډډه وکړئ»[1]

«وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلالا مُبِينًا؛ هيڅ ايماندار سړی او ښځه حق نه لري کله چې خدای او پيغمبر يې يوه خبره لازمه وګڼي )دخدای د امر په وړاندې( اختيار ولري، او هرڅوک چې د خدای او د هغه د رسول نافرماني وکړي په ښکاره ګمراهۍ اخته شوی دی»[2]

هغه کسان چې د پيغمبر )ص( سنتو ته بې پامي کوي په حقيقت کې په قرآن سترګې پټوي، خو څرګنده ده چې د پيغمبر)ص( سنت بايد له معتبرو لارو ثابت شي او هره خبره چې هر کس يې په هغه لوی شخصيت پورې تړي نه شي منل کيدی.

حضرت علی )ع( په يوې وينا کې فرمايي: «ولقد كذب على رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم حتى قام خطيبا فقال: من كذب على معتمدا فليتبوا مقعده من النار؛ د پيغمبر )ص( په ژوند کې يې په هغه حضرت پورې دروغ وتړل، تر دې چې

---

۱. حشر سوره ۷ ايت

۲. احزاب سوره ۳۶ ايت

پاڅیده او یوه خطبه یې ولوستله او وې فرمایل:هر څوک چې عمدا په ما پورې دروغ وتړي باید په اور کې خپل ځای ته د ورتللو لپاره تیار شي»[۱]
دې ته ورته معنا په صحیح بخاري کې هم راغلې ده.[۲]

## ۳۳. د اهل بیتو امامانو)علیهم السلام( سنت

او همدارازمونږعقیده لرو چې: د ائمه اهل بیتو ـ علیهم السلام ـ حدیثونه هم د پیغمبر اکرم)ص( په امر واجب الاطاعه دي، ځکه چې اول خو په مشهور او متواتر حدیث کې چې د اهل سنتو او شیعو د حدیثو په اکثرو کتابونو کې راغلی دی دا خبره جوته شوې ده، په صحیح ترمذي کې راغلي دی چې پیغمبر )ص( وفرمایل: «یا ایها الناس انی قد ترکت فیکم ما ان اخذتم به لن تضلوا، کتاب الله وعترتی اهل بیتی؛ ای خلکو !ما په تاسو کې داسې څیز پرینبوده چې که لمن یې راټینګه کړئ هیڅکله به ګمراه نه شئ دخدای کتاب او زما عترت، یعنې اهل بیت»[۳]

دوهمه دا چې: ائمه اهل بیت ـ علیهم السلام ـ خپل ټول حدیثونه له پیغمبر اکرمه)ص( نقل کړي دي، او ویلي یې دي هغه څه چې مونږ یې وایو له خپلو پلار نیکونو له پیغمبره)ص( مونږ ته رسیدلي دي.

هو پیغمبر د مسلمانانو راتلونکی او د هغوی مشکلات ښه لیدل او د هغوی د ډیرنده مشکلاتو حل لاره یې د نړې تر پایه پورې د قرآن او ائمه اهل بیتو ـ علیهم السلام ـ په پیروی کې ګڼلې ده.

ایا په دومره مهم حدیث د هغې په مطلب او قوي اسنادو یې سترګې

---

۱ نهج البلاغه ۲۱۰ خطبه
۲صحیح بخاری، اول ټوک ۳۸ مخ) باب اسم من کذب علی النبی)ص(
۳صحیح ترمذی ۵ ټوک، ۲۲۲ مخ، باب مناقب اهل بیت النبی)ص( ۳۷۸۲ حدیث، د دغه حدیث ډیر اسناد به دامامت په بحث کې په مشروحه توګه راشي.

پټولی شو او بې دليله له هغه تيريدلی شو؟!

له همدې امله مونږ عقيده لرو چې: که دې مسئلې ته زياته توجه شوې وه، ځينې مشکلات به چې د نن زمانې مسلمانان ورسره د عقائدو، تفسير او فقهي مسائلو کې مخامخ دي نه وو موجود.

ځلورمه برخه

# قیامت او له مرګه وروسته ژوند

## ۳۴. بې له قیامته ژوند معنا نه لري

مونږ باوري یو چې ټول انسانان له مرګه وروسته یوه ورځ راپاڅول کیږي او د عملونو حساب کتاب به ورسره کیږي. نیکان او صالحان تل پاتې جنت ته ځي او بدان او ګناهکاران به دوزخ ته «اللَّهُ لا إِلَهَ إِلا هُوَ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ لا رَيْبَ فِيهِ؛ بې له یو خدایه بل پالونکی نیشته. په یقین سره چې تاسو ټول به د قیامت په ورځ چې شک پکې نیشته راغونډوو.»[۱]

فَأَمَّا مَنْ طَغَى *وَآثَرَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا * فَإِنَّ الْجَحِيمَ هِيَ الْمَأْوَى *وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى * فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى؛ نو هغه کس چې سرغړونه یې وکړه او د دنیا ژوند یې مخکې کړی دی په یقین سر ه چې ځاي یې دوزخ دی او هغه کس چې د خپل رب له مقام )عدالته ( وویریږي او نفس له هوا او هوسه وساتي بیشکه چې ځاي یې جنت دی (۲

مونږ باوري یو چې دا جهان په حقیت کې یو پل دی چې انسانان باید له هغه تیر شي او تل پاتې سراي ته ورسیږي،

یا په بل تعبیرپوهنتون. یا د تجارت بازار، یا پټی دی د بلې سراي لپاره.

حضرت علي د د نیا په هکله وایي «ان الدنیا دار صدق لمن صدقها... ودار غنی

---

۱. نساء سوره ۸۷ایت

۲. نازعات سوره. ۳۷ تر ۴۱ ایتونه

لمن تزود منها،و دار موعظة لمن اتعظ بها، مسجد احباء الله مصلی ملائکة الله و مهبط وحی الله ومتجر اولیاء الله؛ نړۍ د صدق او راستۍ ځاي دی د هغه کس لپاره چې په صداقت سره له هغه سره چلند وکړي ... او د بې نیازۍ سرای ده د هغه کس لپاره چې توښه ترې واخلي،او د بیدارۍ او پوهې ځاي دی دهغه کس لپاره چې پند ترې واخلي،د خداي د دوستانو جمات دی،او د پروردګار د پرښتو د لمانځه ځاي او د الهي وحي د نازلیدو ځاي او دحق د دوستانو د تجارت ځاي»[1]

## ۳۵. د قیامت دلایل روښانه دي

مونږ عقیده لرو چې د قیامت دلیلونه ډیر روښانه دي ځکه چې اول خو :د دې نړۍ ژوند ښیي چې دا ژوند دانسان د خلقت اصلي مقصد نه شي کیدای چې څو ورځې راشي، په ډیرو مشکلاتو کې ژوند وکړي او بیا هر څه ختم شي او له منځه لاړ شي «أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لا تُرْجَعُونَ؛ ایا ګمان مو کړی دی چې تاسو مو چټې پیدا کړي یاست او مونږ ته به نه جاروځئ» [2]

دا دې ته اشاره ده چې که قیامت نه وای د دنیا ژوند به چټې او عبث و.

بله دا چې: د خداي دعدالت تقاضا ده چې نیک چاري او بدچاري چې غالبا په دې نړۍ کې په یوې لیکي کې راځي اوکله کله بدکاران مخکې وي، له یو بله جدا شي او هر یو د خپل عمل سزا او جزا وویني «أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَنْ نَجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاءً مَحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ؛ ایا هغه کسان چې ګناهان یې کړي دي ګمان کوي چې مونږ به هغوي دهغو کسانو په شان وګرځوو چې ایمان یې راوړی دی او نیک عمل

---

۱. نهج البلاغه، لنډې ویناوې ۱۳۱ شمیره
۲. مؤمنون سوره ۱۱۵ آیت

یې کړی دی؟ چې مرګ او ژوند یې یو شان وي؟ څومره بد قضاوت کوي[۱]؟!
دریمه دا چې: د خدای بې پایانه رحمت لازموي چې د هغه فیض او رحمت دانسان په مرګ سره له هغه جدا نه شي او د ورتیا لرونکو او غوره انسانانو تکامل هماغه شان دوام ولري «كَتَبَ عَلَى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ لا رَيْبَ فِيهِ؛ خدای تعالی رحمت په خپل ځان فرض کړی دی او تاسو ټول به د قیامت په ورځ چې شک پکې نیشته راغونډ کړي»[۲]
قرآن هغو کسانو ته چې د معاد په مسئله کې شک لري وايي:
څرنګه ممکنه ده د مړیو په ژوندي کولو کې د خدای په قدرت کې شک وکړئ په داسې حال کې چې تاسو په لومړي ځل هم هغه پیدا کړي یاست هماغه کس چې په اوله کې یې تاسو له خاورې پیدا کړئ بیا به مو هم بل ژوند ته ستانه کړي «أَفَعَيِينَا بِالْخَلْقِ الأَوَّلِ بَلْ هُمْ فِي لَبْسٍ مِنْ خَلْقٍ جَدِيدٍ؛ ایا مونږ له لومړي خلقته عاجز وو )چې دقیامت د ورځې دخلقت قدرت ونه لرو ( خو هغوي په دغو ښکاره دلیلونو سره په بیا پیدا کولو کې شک لري![۳]
«وَضَرَبَ لَنَا مَثَلا وَنَسِيَ خَلْقَهُ قَالَ مَنْ يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ * قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنْشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ؛ هغه زمونږ لپاره مثال راوړ، خو خپل خلقت یې هیر کړ او وې ویل :څوک به دا وراسته هډوکي ژوندي کوي؟ ووایه هماغه کس چې په اوله کې یې پیدا کړل، او هغه له هر مخلوقه خبر دی»[۴]
بله خبره دا چې ایا د انسان پیدا کول د آسمانونو او ځمکې د پیدا کیدو په پرتله لویه خبره ده ؟ څوک چې د دومره لوي جهان او دهغې د حیرانوونکو څیزونو دپیدا کولو قدرت لري له مرګه وروسته د مړیو د پیدا کولو وس هم

۱. جاثیه سوره ۲۱ آیت
۲. انعام سوره ۱۲ آیت
۳. ق سوره ۱۵ آیت
۴. یس سوره ۷۸، ۷۹ ایتونه

لري. «أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ بِقَادِرٍ عَلَى أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتَى بَلَى إِنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ؛ ایا هغوي نه پوهیږي چې هغه خدای چې آسمانونه او ځمکې یې پیدا کړې او د هغو له پیدا کولو ناتوانه نه شو قدرت لري چې مړي ژوندي کړي؟ هو هغه د هر څه وس لري (۱

## ۳۲. جسماني معاد

مونږ عقیده لرو چې: نه یوازې د انسان روح بلکه روح او جسم به دواړه هغه نړۍ ته ستنیږي، او یو نوی ژوند به پیلوي، ځکه چې هغه څه چې دلته یې کړي دي په همدې روح او جسم سره یې کړي دي او جزا یا سزا هم باید دواړه ووینی.

په قرآن مجید کې د قیامت په هکله په ډیرو ایتونو کې په جسماني معاد تکیه شوې ده او د مخالفانو د حیرانتیا په وړاندې چې ویل یې: څرنګه به دا وراسته هډوکي دوباره ژوندي کیږي، قرآن وایي «قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنْشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ؛ هغه ذات چې په اوله ورځ یې انسان له خاورې وپنځاوه، د دغه کار وس لري (۲

« أَيَحْسَبُ الإِنْسَانُ أَلَّنْ نَجْمَعَ عِظَامَهُ *بَلَى قَادِرِينَ عَلَى أَنْ نُسَوِّيَ بَنَانَهُ؛ ایا انسان ګمان کوي چې د هغه )وراسته ( هډونه به راغونډ او ژوندي نه کړو؟ هو مونږ د دې وس لرو چې حتی د هغه د ګوتو د سرونو )لیکې ( هم برابرې کړو )او هغه اول حالت ته ستون کړو (۳

دا آیت او د دې په شان نور ایتونه ټول د جسماني قیامت خبره کوي.

---

۱. احقاف سوره ۳۳ آیت

۲. یس سوره ۷۹ آیت

۳. قیامت سوره ۳ او ۴ ایتونه

هغه ايتونه چې وايي تاسو به ضرور له قبرونو پاڅوو، هم په ډاګه جسماني معاد بيانوي[۱]

اصولاً په قرآن کې د معاد زياتره ايتونه روحاني او جسماني معاد تشريحوي.

## ۳۷. له مرګه وروسته عجيبه نړۍ

مونږ باوري يو هغه څه چې له مرګه په وروسته نړۍ او په قيامت او بهشت او دوزخ کې تيريږي تر هغه څه ډير لوړ دي چې مونږ ترې په دې محدوده دنيا کې خبر يو «فَلا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ؛ هيڅوک نه پوهيږي چې څه انعام د هغوي) نيکانو (د خوشالولو لپاره پروت دی»[۲]

او په يو مشهور نبوي حديث کې راغلي دي «ان الله يقول اعددت لعبادی الصالحين ما لا عين رات ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر؛ ما دخپلو صالحو بندګانو لپاره داسې نعمتونه برابر کړي دي چې هيڅ سترګو نه دي ليدلي او هيڅ غوږونو نه دي اوريدلي او د هيڅ انسان په زړه کې نه دي راغلي»[۳]

په حقيقت کې مونږ په دې دنيا کې داسې يو لکه يو جنين چې د مور دخيټې په محدودې فضا کې وي او که فرضا عقل او پوهه هم ولري هغه حقايق او مفاهيم چې له رحمه بهر موجود دي لکه: لمر، مياشته، هوا، دګلونو منظرې او د سمندر دڅپو غږونه هيڅکله نه شي درک کولی، دا نړۍ د قيامت دنړۍ په پرتله داسې ده چې د جنين نړۍ زمونږ د دې نړۍ په پرتله وي ـ سوچ وکړئ.

---

۱. لکه د يس سورې ايتونه ۵۱ او ۵۲ او همدارازد قمر ۷ او د معارج ۴۳

۲. سجده سوره ۱۷ آيت

۳. مشهورو محدثانو لکه بخاري او مسلم او نامتو مفسرانو لکه طبرسي، الوسي او قرطبي دا حديث په خپلو کتابونو کې راوړی دی.

## ۳۸. قیامت او د عملونو دوسیه

مونږ عقیده لرو چې په هغه ورځ به مونږ ته زمونږ د عملونو نامې )عمل نامې ( راکول کیږي، دنیکانو عمل نامې به په ښي لاس او د بدانو به په کینړ لاس کې ورکول کیږي صالح مومنان به د خپلو عمل نامو په لیدلو سره خوشالیږي او بدکاري به ډیر اندیښمن او خپه وي لکه څرنګه چې قرآن مجید فرمایي «فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ فَيَقُولُ هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ *إِنِّي ظَنَنْتُ أَنِّي مُلاقٍ حِسَابِيَهْ *فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ * فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ * قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ *كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا أَسْلَفْتُمْ فِي الأَيَّامِ الْخَالِيَةِ *وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِشِمَالِهِ فَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي لَمْ أُوتَ كِتَابِيَهْ؛ خو هغه کسان چې عمل نامه یې ورته په ښي لاس کې ورکړې ده )له خوشالی به ( غږ کوي چې اي )د قیامت خلکو ( زمونږ عمل نامه واخلئ او وې لولئ،ماته یقین و چې د عملونو حساب کتاب به راسره کیږي، او هغه به په یو خوښ ژوند کې وي ـ خو هغه کس چې د عملونو پاڼه یې په کینړ لاس کې ورکړي وي وایي:اي کاش چې زما عمل نامه یې نه وای راکړې»[1].

خو په دې کې چې د عملونو نامه څرنګه ده؟ او څرنګه لیکل کیږي چې هیڅوک یې له مطالبو انکار نه شي کولای؟مونږ ته سمه روښانه نه ده، او لکه څرنګه چې مخکې هم اشاره وشوه اصولا معاد او د محشر ورځ ځینې ځانګړتیاوې لري چې د جزییاتو درک یې د نړۍ دخلکو لپاره مشکل بلکه ناممکن دی خو کلیات یې معلوم او داسې دي چې انکار یې نه شي کیدی.

## ۳۹. په قیامت کې شاهدان اوګواهان

[1] الحاقه سوره ۱۹ تر ۲۵ ایتونه

مونږ عقیده لرو چې په قیامت کې پر دې سربیره چې خدای تعالی زمونږ پر ټولو عملونو شاهد دی، ځینې نور ګواهان هم زمونږ په عملونو ګواهي ورکوي، حتی زمونږ لاس پښې، پوستکی، هغه ځمکه چې ژوند پرې کوو او داسې نور ټول زمونږ شاهدان او ګواهان دي. «الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ؛ نن )د قیامت په ورځ( یې په ژبو مهرونه لګوو او لاسونه یې له مونږ سره خبرې کوي او پښې یې په هغو کارونو چې کول یې )هم (شهادت ورکوي»[1]

«و قالوا لجلودهم لم شهدتم علینا قالوا انطقنا الله الذی انطق کل شیئ؛ هغوي به دخپلو بدنونو پوستکی ته وایي: ولې مو زمونږ په خلاف ګواهي ورکړه ؟ په ځواب کې به وو ایي : هماغه خدای چې هر موجود یې په خبرو کړی دی، مونږ یې هم ګویانه کړي یو )او دا د افشا کولو ماموریت یې مونږ ته راکړی دی(»[2]

«يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا * بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا؛ په هغه ورځ به ځمکه خپل خبرونه ښکاره کړي ځکه چې پروردګار دې ورته وحي کړې ده )چې دا ماموریت تر سره کړي([3]

## ۴۰. صراط او دعملونو تله) میزان (

مونږ په قیامت کې د صراط او میزان د شتون عقیده لرو.

صراط هماغه پل دی چې د جهنم د پاسه جوړ شوی دی او ټول باید له هغه تیر شي، هو د جنت لاره له دوزخه تیریږي.

«وَإِنْ مِنْكُمْ إِلا وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَقْضِيًّا* ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ

---

۱. یس سوره ۶۵ آیت
۲. فصلت سوره، ۲ آیت
۳. زلزله سوره ۴ او ۵ ایتونه

فِيهَا جِثِيًّا؛ تاسو ټول به )بې له استثنا ( دوزخ ته داخل شئ، دا ستاسو د پرودګار حتمي او ارو مرو چاره ده، بيا به هغه کسان چې تقوا يې خپله کړې ده له هغه وژغورو او ظالمان به، په داسې حال کې چې په ګونډو شوي دي په هغه کې پريږدو»[۱]

له دغه سختې لارې تيريدل د انسانانو د عملونو په څرنګوالي پورې اړه لري لکه څرنګه چې په يو مشهور حديث کې راغلي دي: مِنْهُمْ مَنْ يَمُرُّ مِثْلَ البَرقِ، وَ مِنْهُمْ مَنْ يَمُرّ مثل عَدْوِ الفَرَسِ، وَ مِنْهُمْ مَنْ يَمُرُّ حَبْوا وَمِنْهُمْ مَنْ يَمُرُّ مَشْياً وَ مِنْهُمْ مَنْ يَمُرُّ مُتَعَلّقاً، قدْ تَاْخُذُ النّار مِنهُ شَيْئاً وَ تَرَکَ شَيئاً، [ځينې به د بريښنا په شان له هغه تير شي او ځينې به د ګړندي اس په شان، ځينې په لاسونو او زنګنو، ځينې د پياده وو په شان او ځينې به وريپورې ځوړند شي )او تيريږي به ( کله به د دوزخ اور له هغوي يو څه واخلي او کله به يې پريږدي ][۲]

خو ميزان لکه څرنګه يې چې له نامې يې معلومه ده وسيله ده د انسانانو د عملونو د معلومولو او تللو لپاره، هو په هغه ورځ به د ټولو عملونه جاجول کيږي او د هر يو وزن او ارزښت به ښکاره شي:

«وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا وَكَفَى بِنَا حَاسِبِينَ؛ مونږ به د قيامت په ورځ د عدل تلې قايمې کړو، او په هيڅا به لږ شان ظلم هم نه کيږي، حتی که د غوښت ديوې دانې په اندازه يې هم نيک يا بد کار کړی وي مونږ يې حاضروو او بدله يې ورکوو او کافي ده

۱. مريم سوره ۷۱او ۷۲ ايتونه

۲. دا حديث په لږ شان توپير سره د شيعه او سنيانو په سرچينو کې لکه کنز العمال ۳۹۰۳۲ حديث او قرطبي شپږم ټوک ۴۱۷۵ مخ د مريم سورې د يو اويايم آيت په ذيل کې او صدوق په خپل امالي کې له امام صادقه )ع( نقل کړي دي. په صحيح بخاري کې هم يو باب ليدل کيږي د [الصراط جسر جهنم] تر عنوان لاندې ) صحيح بخاري، اتم ټوک ۱۴۲ مخ (

چې حساب کوونکي وو سو»[۱]

«فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ *فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ *وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ؛ خو هغه کس چې په هغه ورځ یې، د عملونو تله درنه وي په راضي ژوند کې به وي او د چا تله چې سپکه وي ځاي یې دوزخ دی»[۲]

هو زمونږ باور دا دی چې په هغه جهان کې نجات او ژغورنه د انسانانو په عملونو پورې تړاو لري، نه په ارمانونو او خیالونو پورې، هر څوک په خپل عمل پړ دی او بې له تقوا او پاکۍ څوک نه شي ژغورل کیدی «كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ؛ هر انسان په خپل عمل پړ دی»[۳]

دا د صراط او میزان په هکله مختصر شان وضاحت وکه څه هم جزییات یې مونږ ته معلوم نه دي او لکه څرنګه چې مخکې مو هم وویل ځکه چې د اخرت دنیا تر دې نړۍ چې مونږ پکې ژوند کوو ډیره لوړه ده، د هغې د ټولو مفاهیمودرک کول زمونږ لپاره چې په دې مادي نړۍ کې یو مشکل یا ناممکن دي.

## ۴۱. په قیامت کې شفاعت

مونږ عقیده لرو چې په قیامت کې پیغمبران معصوم امامان او دخداي ولیان د خداي په امر د ځینو ګناهکارانو شفاعت کوي او خداي به یې بخښي. خو دا هیر نه کړو چې دا حکم یوازې دهغو کسانو لپاره دی چې له خداي او الهي ولیانو سره یې خپل اړیکي نه دي غوڅ کړي. نو مطلب دا چې شفاعت بې قید اوشرطه نه دی، هغه هم زمونږ له عملونو او نیتونو سره یو ډول رابطه لري.

---

۱. انبیاء سوره ۴۷ آیت

۲. قارعه سوره، شپږم تر نهم ایتونه

۳. مدثر سوره ۳۸ آیت

«وَلا يَشْفَعُونَ إِلا لِمَنِ ارْتَضَى؛ هغوي بې له هغو کسانو چې خداي يې په شفاعت راضي وي د بل چا شفاعت نه کوي»[۱]

او لکه څرنګه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه ) شفاعت( لاره ده د انسان د تربیت لپاره او یوه وسیله ده د دې لپاره چې په ګناه کې دانسان د ډوبیدو مخه ونیسي او د خداي له ولیانو سره د انسان اړیکي او پیوندونه غوڅ نه شي چې انسان ته وایي چې که په ګناه ککړ شوی هم یې له همدغه ځایه ستون شه او تر دې زیاته ګناه مه کوه.

په یقین سره «د لوي شفاعت» مقام له رسول الله مبارک )ص( سره دی. او له هغه وروسته نور پیغمبران او معصوم امامان او حتی عالمان او شهیدان او عارف او کامل مومنان او له هغه ورهاخوا قرآن او نیک عملونه هم د ځینو شفاعت کوي.

له امام صادق )ص( یو حدیث دی چې: ما من احد من اولین والاخرین الا وهو یحتاج الی شفاعه محمد(ص) یوم القیمه؛ په لومړیو او وروستیو کې هیڅوک نیشته مګر دا چې د قیامت په ورځ د محمد )ص( شفاعت ته اړتیا لري.[۲]

په کنز العمال کې په یو بل حدیث کې راغلي دي «الشفعاء خمسة: القرآن والرحم والامانه و نبیکم و اهل بیت نبیکم؛ د قیامت په ورځ پنځه شفاعت کوونکي موجود دي: قرآن، صله رحم، امانت، ستاسو پیغمبر او دهغه اهل بیت[۳]

له امام صادق )ص( په یو بل حدیث کې راغلي دي: اذ کان یوم القیمه بعث الله العالم والعابد،فاذا وقفا بین یدی الله عز وجل قیل للعابد انطلق الی الجنة، و قیل للعالم قف تشفع للناس بحسن تادیبک لکم؛ د قیامت ورځ چې شي خدای تعالی )عابد ( او )عالم ( راپاڅوي، کله چې دخدای درګاه ته ورشي، عابد ته ویل کیږي:

---

۱. انبیاء سوره ۲۸ آیت
۲. بحار، اتم ټوک ۴۲ مخ
۳. کنز العمال ۳۹۰۴۱ حدیث) ۱۴ ټوک ۳۹۰ مخ(

جنت ته لاړ شه او عالم ته ويل کيږي ودريږه او د هغه ښۀ تربيت په خاطر چې د خلکو دې کړی شفاعت وکړه.[۱]

دا حديث د شفاعت فلسفې ته هم لطيفه شان اشاره لري.

## ۴۲. عالم برزخ

مونږ عقيده لرو چې د دې دنيا او داخرت په منځ کې يو ه دريمه نړۍ شته چې برزخ نوميږي چې د ټولو انسانانو روحونه له مرګه وروسته د قيامت تر ورځې پورې هلته وي.

«وَمِنْ وَرَائِهِمْ بَرْزَخٌ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ؛ او له هغه )مرګه( وروسته برزخ دی د قيامت تر ورځې پورې»[۲]

البته دهغه نړۍ له جزيياتو هم ډير نه يو خبر او نه شو خبريدای دومره پوهيږو چې د نيکانو او صالحانو ارواوې چې په لوړو درجو کې دي )لکه د شهيدانو اورواوې( په هغه نړۍ کې به په ډيرو نعمتونو کې وي:

«وَلا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ؛ هيڅکله ګمان مه کوئ هغه کسان چې دخدای په لاره کې وژل شوي دي مړه دي بلکه هغوي ژوندي دي او دخپل رب په نزد رزق خوري»[۳]

او همدارازد ظالمانو طاغوتيانو او د هغوي د ملاتړو ارواوې به په هغه نړۍ کې په عذاب کې وي، لکه څرنګه چې قرآن د فرعون او ال فرعون په هکله فرمايي: «النّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيهَا غدواً وَعَشِياً وَ يَوْمَ تَقُوْمُ الساعةُ اَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ اَشَدّ العَذَابْ؛ د هغوي عذاب )په برزخ کې( د )دوزخ( اوردی چې هر سهار او ماښام پکې هغوي سوزول کيږي، او په هغه ورځ چې قيامت شي )فرمايي(

۱. بحار لومړی ټوک ۵۲ مخ ۲۲ حديث

۲. مومنون سوره ۱۰۰ آيت

۳. آل عمران سوره، ۱۲۹.

د فرعون آل په سختو عذابونو کې داخل کړئ»[۱]

خو دریمه ډله چې کمې ګناهانې یې کړي دي نه د دې ډلې برخه دي او نه دهغه ډلې، او هیڅ عذاب او سزا نه لري،ته وا د برزخ په نړۍ کې داسې دي لکه چې خوب وړي وي او د قیامت په ورځ بیداریږي «وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَالإِيمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِي كِتَابِ اللَّهِ إِلَى يَوْمِ الْبَعْثِ فَهَذَا يَوْمُ الْبَعْثِ وَلَكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ؛ او په هغه ورځ چې قیامت شي ګناهکاران قسم خوري له یو څو شیبو زیات په برزخ کې نه وو .... خو هغه کسان چې علم او ایمان ورته ورکړل شوی دی )مجرمانو ته په خطاب کې( وایي:تاسو د خدای په امر د قیامت تر ورځې )په عالم برزخ کې( وئ.او اوس د قیامت ورځ ده خو تاسو نه پوهیدئ»[۲]

په اسلامي روایتونو کې هم له رسول الله مبارکه راغلي دي چې وې فرمایل: )القبر روضة من رياض الجنة او حفرة من حفر النيران؛ قبر یا د جنت د باغونو یو باغ دی او یا د دوزخ له کندو یوه کنده( [۳]

## ۴۳. معنوي او مادي بدلې

مونږ باوري یو چې د قیامت بدلې هم مادي اړخونه لري او هم معنوي ځکه چې قیامت )معاد( هم مادي دی او هم معنوي.

هغه څه چې په قرآن او په اسلامي روایتونو کې د جنت د باغونو په هکله چې تر ونو لاندې به یې ویالې بهیږي راغلي دي «جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا

---

۱. مومن سوره ۴۶ آیت
۲. روم سوره ۵۶ آیت
۳. صحیح ترمذي، څلورم ټوک کتاب صفه القیامه ۲۶ باب ۲۴۶۰ حدیث، په شیعه منابعو کې دا حدیث کله له امیر المومنین علي)ع( او کله له امام علي ابن الحسین )ع( نقل شوی دی )بحار الانوار، ۶ ټوک ۲۱۴ او ۲۱۸ مخونه(

الأَنْهَارُ؛ هغه باغونه چې ميوې او سيوري يې تل پاتې دي[۱] «أُكُلُهَا دَائِمٌ وَظِلُّهَا»[۲]
او دايماندارو كسانو لپاره پاكي جنتي جوړې دي «وَأَزْوَاجٌ مُطَهَّرَةٌ»[۳]
او داسې نور راغلي دي همداراز هغه څه چې د دوزخ د سوزنده اور او سختو عذابونو په هكله راغلي دي ټول د مادي انعام او سزا په هكله دي.

خو تر دې مهمه معنوي انعام، د الهي معرفت وړانګې، د پروردګار روحاني نزديكت او دهغه د جمال او جلال جلوې دي، دا هغه خوندونه دي چې له هيڅ ژبه او بيان نه شي بيانيدى.

د قرآن په ځينو ايتونو كې د جنت د ځينو مادي نعمتونو )شنو باغونو او پاكو ځايونو (له بيانولو وروسته زياتوي «وَرِضْوَانٌ مِنَ اللَّهِ أَكْبَرُ؛ او دخداى رضا او خوښي تر دغو ټولو لوړه ده( او بيا زياتوي: «ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ» ! لويه كاميابي همداده»[۴] هو تر دې لوړ خوند بل نيشته چې انسان پوه شي چې د خپل لوى معبود او محبوب له لوري منل شوى او هغه ترې راضي او خوشاله شوى دى.

له امام علي ابن الحسين )ع( په يو حديث كې راغلي دي : «يقول (الله) تبارك وتعالى رضاى عنكم ومحبتى لكم خير و اعظم مما انتم فيه ...؛ خداى تعالى هغوي ته وايي: له تاسو زما خوښي او پر تاسو زما محبت تر هغو نعمتونو لوړه او غوره ده چې تاسو پكې يئ ...، هغوي به تل دا خبره اوري او تصديق به يې كوي» [۵]

په ربښتيا تر دې زيات بل كوم خوند دى چې انسان ته دا خطاب وشي «يَا

۱. توبه سوره ۸۹ ايت
۲. رعد سوره ۳۵ آيت
۳. آل عمران سوره ۱۵ آيت
۴. توبه سوره ۷۲ آيت
۵. تفسير عياشي، د توبې سورې د ۷۲ آيت په ذيل كې د نقل الميزان ۹ ټوک مطابق

ايتهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ *ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَرْضِيَّةً *فَادْخُلِي فِي عِبَادِي *وَادْخُلِي جَنَّتِي؛
اى ډاډمن او ارامه نفسه خپل رب ته جاروځه، په داسې حال کې چې هم ته له هغه راضي يې او هغه له تا خوښ، او زما د بندګانو په ډولي کې ننوځه او جنت ته داخل شه»[1]

---

۱. فجر سوره ۲۷ تر ۳۰ ايتونه

پنځمه برخه

# د امامت مسـئله

## ۴۴. همیشه یو امام شته

مونږ عقیده لرو چې: لکه څرنګه چې دخدای دحکمت تقاضا دا ده چې دانسانانو دهدایت لپاره پیغمبران ولیږي، حکمت یې ایجابوي چې له پیغمبرانو وروسته په هرې زمانې او وخت کې د خداي له لوري دانسانانو دهدایت لپاره یو امام اولاربښود وي چې دانبیاوو شریعتونه او الهي دینونه له تحریفاتو او بدلونونو وساتي، دهرې زمانې اړتیاوې روښانه کړي او خلک د خدای او دپیغمبرانو ددین په لور وبلي . له دې پرته د انسان د پنځولو هدف چې تکامل او نیکمرغي ده نه پوره کیږي، انسان دهدایت له لارې پاتې کیږي، د انبیاوو شریعتونه ضایع کیږي او خلک لالهانده کیږي.

له همدې امله عقیده لرو چې د اسلام له پیغمبر )ص( وروسته په هر زمانه او وخت کې یو امام موجود و «یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِینَ؛ اي هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی الهي تقوا خپله کړئ او له رښتینو سره اوسئ»[۱]

دا آیه له کوم خاص وخت سره مخصوصه نه ده او له صادقانو سره بې قید اوشرطه ملګرتیا په دې دلیل ده چې په هره زمانه کې یو معصوم امام شته چې باید د هغه پیروي وشي لکه څرنګه چې ډیرو شیعه او سني مفسرانو په

---

۱. توبه سوره ۱۱۹آیت

خپل تفسیر کې دې ته اشاره کړې ده.[۱]

## ۴۵. د امامت حقیقت

مونږ عقیده لرو چې امامت یوازې د ظاهري حکومت مقام نه دی، بلکه یو ډیر لوړ معنوي او روحاني مقام دی، او امام د اسلامي حکومت پر مشری سربیره د دین او دنیا په چاور کې د ټولنې هدایت په غاړه لري. د خلکو فکر او روح هدایتوي او د اسلام د پیغمبر شریعت له هر ډول تحریف او بدلون ساتي او هغه اهداف چې رسول الله مبارک ورپاره راوا ستول شو پوره کوي.

دا هماغه لوړ مقام دی چې خدای تعالی د نبوت او رسالت د لارې له کچ کولو او په ډیر ازمیښتونو کې له پاس کیدو وروسته ورکړ، هغه حضرت هم د خپلو ځینو اولادونو او کورنۍ لپاره له خدایه د دغه مقام غوښتنه وکړه او هغه ته ځواب ورکړل شو چې هیڅکله به ظالمان او ګناهکاران دغه مقام ته ونه رسیږي.

«وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي قَالَ لا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ؛ رایاد کړه هغه وخت چې د ابراهیم رب هغه په مختلفو چارو سره وازمایه او له الهي ازمیښتونو بریالی راووته، خدای تعالی وفرمایل ته مې د خلکو امام وټاکلې، ابراهیم عرض وکړ: زما له کورنۍ هم

---

۱. فخر رازي د دغه آیت په هکله له ډیر بحثه وروسته وایي: دا آیت په دې دلیل دی چې هر کس جایز الخطا دی نو واجبه ده چې د داسې کس منونکی وي معصوم وي او معصومان هماغه دي چې خداي تعالی ورته صادقین ویلي دي، نو دا خبره په دې دلیل ده چې په هر جایز الخطا واجبه ده چې له معصوم سره ملګری او غړمله وي چې )له خطا معصوم کس( جایز الخطا له خطا وساتي، او دا معنا په ټولو زمانو کې ده او په کوم خاص وخت پورې مخصوصه نه ده او په دې دلیل دی چې په هره زمانه کې له خطا معصوم کس موجود دی )تفسیر کبیر ۱۲ ټوک ۲۲۱ مخ(

امامان وټاکه، خدای تعالی وفرمایل: زما عهد او ژمنه )امامت( هیڅکله ظالمانو ته نه رسیږي.)او یوازې ستا له زوزاته معصومانو ته رسیږي(^۱

څرګنده ده چې دا ډول مقام یوازې په ظاهري حکومت کې نه راټولیږي، او که امامت په هغه ډول چې وویل شول تفسیر نه شي دا آیت به څرګند مفهوم ونه لري.

مونږ باوري یو چې: ټول اولواالعزم پیغمبرانو د امامت مقام درلود. هغه څه چې په خپل رسالت سره یې خلکو ته و ړاندې کول په عمل کې به یې هم پوره کول او دخلکو ظاهري، معنوي او مادي مشران ول، په تیره بیا رسول الله مبارک د نبوت له لومړیو د امامت او الهي رهبرۍ لوړ مقام هم درلود، او د هغه کار یوازې دالهي حکمونو رسول نه وو.

مونږ عقیده لرو چې: د امامت لړۍ له پیغمبر )ص( وروسته هم د هغه د ذریت او اولاد په معصومو امامانو کې جاري پاتې شوه.

هغه تعریف ته په پام سره چې پاس د امامت په هکله راغی ښه معلومیږي چې دغه مقام ته رسیدل، درانه شرائط لري هم د تقوا له نظره )له هر ډول ګناه دمعصوم والي په حد کې تقوا( او هم د علم او پوهې له نظره او د دین په ټولو اوامرو او تعلیماتو د برلاسي او په هره زمانه کې دانسانانو او دهغوي دا ړتیاوو دپیژندلو له نظره، دقت وکړئ.

## ۴۶. امام له ګناه معصوم او پاک دی

مونږ عقیده لرو چې امام باید له هرې ګناه او خطا پاک او معصوم وي ځکه پر هغه څه سربیره چې د تیر آیت په تفسیر کې راغلل په غیر معصوم کس باندې په هره چاره کې باور نه شي کیدی. او په هره چاره کې له هغه ددین

۱. بقره سوره ۱۲۴ آیت

اصول او فروع نه شو اخستلی .او په همدې دليل عقيده لرو چې )د امام وينا ( د هغه د )اعمالو ( او )تقرير ( په شان شرعي دليل او حجت ده )د تقرير مطلب دا دی چې يو څوک د هغه په وړاندې يو کار وکړي او هغه )معصوم ( پرې غلی پاتې شي او په خپلې چوپتيا سره دهغه کار په سموالي ټاپه ووهي.

## ۴۷. امام د شريعت ساتونکی دی

مونږ عقيده لرو چې امام هيڅکله له ځانه )نوی شريعت او قانون( نه راوړي، بلکه دهغه دنده د اسلام د پيغمبر د شريعت او دين ساتنه او دهغه کار دغه مقدس دين ته دخلکو لاربښوونه د دين معرفي تبليغ او تعليم او ساتنه ده.

## ۴۸. امام په اسلام تر ټولو خبر او پوه کس دی

او همداراز عقيده لرو چې : امام بايد داسلام په ټولو اصولواوفروعواو دهغه په احکامو او قوانينو او دقرآن په تفسير او معنا پوره پوره پوه وي. او په دغه څيزونو د هغه علم او پوهه الهي اړخ لري او له رسول الله مبارکه هغه ته رسيدلی دی.

هو همداسې علم دی چې خلک پرې پوره باور او اعتماد کولی شي او په اسلام په پوهيدلو کې پر هغه تکيه او با ور کولی شي.

## ۴۹ : امام بايد منصوص )ټاکلې شوے ( وي

مونږ عقيده لرو چې امام او )دپيغمبر ځاي ناستی ( بايد منصوص وي يعنې د پيغمبر په تصريح او نص او همداراز د راتلونکي امام لپاره د تير امام په تصريح سره ټاکل کيږي. په بله ژبه، امام هم د پيغمبر )ص ( په شان دخدای له

لوري )د پيغمبر په وسيله( ټاکل کيږي لکه څرنګه چې د حضرت ابراهيم )ع( د امامت په هکله په آيت کې مو ولوستل: إنّي جَاعِلُکَ لِلنّاسِ إمَاماً، ما ته دخلکو امام وټاکلې.

پر دې د سربيره د عصمت په حد کې د تقوا د شتون او د لوي علمي مقام )په دې حد کې چې بې له څه خطا او تيروتنې په ټولو الهي تعليماتو او احکامو پوهه ولري( تشخيص بې له خداي اورسوله بل څوک نه شي ورکولی.

او په دې ډول مونږ د معصومو امامانو امامت دخلکو په انتخاب نه ګڼو.

## ۵۰. امامان د پيغمبر )ص( په وسيله ټاکل شوي دي

مونږ عقيده لرو چې: د اسلام پيغمبر له ځانه وروسته امامان ټاکلي دي. په يو ځاي کې يې په عامه توګه، د ثقلينو په نامه مشهور حديث کې فرمايلي دي.

په صحيح مسلم کې لولو:پيغمبر اکرم د مکې او مدينې په منځ کې د )غدير خم ( په نامه په يوځاي کې پاځيده، يوه خطبه يې ولوسته بيا يې وفرمايل: «نزدې ده چې زه له تاسو لاړ شم إني تارک فيکم الثقلين، اولهما کتاب الله فيه الهدی والنور.... و اهل بيتي اذکرکم الله في اهلي بيتی؛ زه ستاسو په منځ کې دوه قيمتي څيزونه پريږدم لومړی يې دخدای کتاب دی چې پکې رڼا او هدايت دی.... او اهل بيت مې، تاسو ته سپارښتنه کوم چې زما د اهل بيتو په هکله خدای مه هيروئ» )دا جمله يې درې ځله تکرار کړه([1]

همدا معنا په صحيح ترمذي کې هم راغلې ده او په ډاګه وايي : )که د

[1] صحيح مسلم، ۴ ټوک ۱۸۷۳ مخ

دغو دوو لمنه راتېنګه کړئ هیڅکله به بې لارې نه شئ (۱

دا حدیث په سنن دارمي[۲] او خصائص نسائي[۳] او مسند احمد[۴] او په اکثرو مشهورو اسلامي کتابونو کې راغلی دی او په دې کې هیڅ شک نیشته او په حقیقت کې متواتر حدیث ګڼل کیږي چې هیڅ مسلمان یې انکار نه شي کولی او له روایتونو معلومیږي چې رسول الله مبارک نه یوازې یو ځل بلکه په مختلفو ځایونو کې څو څو ځله هغه تکرار کړی دی.

څرګنده ده چې ټول اهل بیت د قرآن په څنګ کې دا لوړ مقام نه شي لرلی، نو یوازې د پیغمبر)ص( له نسله معصومو امامانو ته اشاره ده )یوازې په ځینو ضعیفو او مشکوکو حدیثونو کې د اهل بیتي په ځاي، سنتي راغلی دی(

مونږ په یو بل مشهور حدیث چې په مشهورو سرچینو لکه صحیح بخاري، صحیح مسلم، صحیح ترمذي، صحیح ابو داود او مسند حنبل او نورو کتابونو کې راغلی دی استناد کوو: رسول الله مبارک وفرمایل: لایزال الدین قائماحتی تقوم الساعة او یکون علیکم اثنتی عشر خلیفة کلهم من قریش، د اسلام دین په ځاي دی د قیامت تر ورځې پورې او تر هغه وخته چې دولس خلیفه ګان په تاسو حکومت وکړي چې ټول له قریشو دي.[۵]

مونږ عقیده لرو چې: د دغو روایتونو لپاره د منلو وړ تفسیر نه تصور

---

۱. صحیح ترمذي، ۵ ټوک ۶۲۲ مخ
۲. سنن دارمي، ۲ ټوک ۴۳۲ مخ
۳. خصائص نسائي، ۲۰ مخ
۴. مسند احمد، ۵ ټوک ۱۸۲ مخ او کتاب کنز العمال، ۱ ټوک ۱۸۵مخ ۹۴۵حدیث
۵. دا تعبیر په صحیح مسلم دریم ټوک ۱۴۵۳ مخ کې له جابر بن سمره له پیغمبر )ص( نقل شوی دی او په لږ شان توپیر سره په نورو کتابونو کې چې نومونه مو یې واخستل راغلی دی ) صحیح بخاري، ۳ ټوک ۱۰۱ مخ صحیح ترمذي ۴ټوک ۵۰۱مخ او صحیح ابي داود ۴ټوک کتاب المهدي (

کیږي بې له هغه څه چې د شیعه امامیه په کتابونو کې د دولسو امامانو په هکله راغلي دي.

## ۵۱. د پیغمبر)ص( لخوا د علي)ع(ټاکنه

مونږ عقیده لرو: رسول الله مبارک په مختلفو ځایونو کې علي)ع( په خاصه توګه د خپل ځاي ناستي په توګه )دخداى په امر( معرفي کړى دى. منجمله په غدیر خم کې)جحفې ته نزدې یو ځاي (له حجة الوداع د ستنیدو په وخت یې د خپلو ګڼ شمیر اصحابو په ټول کې خطبه ولوسته او دا مشهوره جمله یې: ایها الناس الست اولی بکم من انفسکم، قالوا بلی، قال : فمن کنتم مولاه فعلی مولاه؛ اى خلکو زه پر تاسو تر تاسو زیات حق نه لرم؟ وې ویل: هو، وې فرمایل: هغه څوک چې زه یې مولا، او لاربنود یم او پر هغه زیات حق لرم، علي دهغوي مولا، لاربنود او د زیات حق خاوند دى.[1]

له دې امله چې زمونږ مقصد دا نه دى چې د دغو اعتقاداتو په بیان کې ډیر استدلالونه راوړو او ټینګار او بحث ولرو نو دومره وایو چې دا حدیث داسې نه دى چې په اسانۍ سره ترې انسان تیر شي یا د یوې عامې دوستۍاو محبت په توګه تفسیر کړى شي چې رسول الله مبارک په دومره تاکیداتو او تشریفاتو سره بیان کړى دى.

ایا دا هماغه څیز نه دى چې په کامل کې د ابن اثیر په وینا پیغمبر)ص( د خپل رسالت په پیل کې کله چې دا آیه (و انذر عشیرتک الاقربین) نازله شوه، خپل خپلوان راغونډ کړل او هغوي ته یې اسلام وړاندې کړ. بیا یې وفرمایل:

---

۱. داحدیث په مختلفو طرقو )لارو( له پیغمبر اکرم)ص( نقل شوى دى او د صحیح راویانو شمیر تر ۱۱۰ اصحابو او ۸۴ تابعینو زیات دى او په ۳۲۰ مشهورو اسلامي کتابونو کې راغلى دى چې تفصیل یې په دې وړوکي کتاب کې نه ځاییږي )د پیام قرآن نهم ټوک ۱۸۱ مخ نه وروسته ته مراجعه وکړئ(

ايکم يوازرني على هذ الامر على ان يکون اخى و وصى و خليفتى فيکم، په تاسو کې کوم يو کس په دې کار کې له ما سره مرسته کوي چې په تاسو کې زما ورور، وصي او خليفه شي.

هيچا د پيغمبر بلنې ته ځواب ورنه کړ يوازې علي)ع( چې عرض يې وکړ «انا يا نبى الله اکون وزيرک عليه، زه به اى پيغمبره په دې کار کې ستا وزير او ملګرى وم.

پيغمبر هغه ته اشاره وکړه او وې فرمايل: (ان هذا اخى و وصيى و خليفتى فيکم) دا هلک په تاسو کې زما ورور، وصي او خليفه دى[1]

او ايا دا هماغه نه ده چې پيغمبر)ص( د خپل عمر په وروستيو شيبو کې غوښتل چې يو ځل بيا هغه بيان کړي او په هغه ټينګار وکړي او د صحيح بخاري په وينا امر يې وکړ چې: ايتوني اکتب لکم کتابا لن تضلوا بعده ابدا، ما ته يوه وسيله راوړئ چې يوه ليکنه درته وکړم چې دهغې په برکت به له ما وروسته هيڅکله نه ګمراه کيږئ. او د حديث په دوام کې راغلي دي چې ځينې کسانو له پيغمبر سره مخالفت وکړ او حتى ډيرې سپکاونکې خبرې يې وکړې او د دې کار مخه يې ونيوله.[2]

بيا تکراروم چې دلته زمونږ هدف په مختصر شان دليل سره د عقايدو بيانول دي نه زيات، که نه وي بحثونه به په بل ډول وو.

---

۱. کامل ابن اثير ۲ ټوک ۲۳ مخ، بيروت چاپ دارصاد همدا معنا په مختصر شان توپير سره په مسند احمد حنبل، ۱ټوک۱۱ مخ او ابن ابى الحديد په شرح نهج البلاغه، ۱۳ ټوک ۲۱۰ مخ او نورو په نورو کتابونو کې نقل کړى دى.

۲. داحديث بخاري په پنځم ټوک ۱۱ مخ باب ) مرض النبي کې نقل کړى دى او تر هغه زيات واضح صحيح مسلم په دريمم ټوک ۱۲۵۹ مخ کې ذکر کړى دى.

## ۵۲. له ځانه په وروسته امام د هر امام ټينګار

مونږ عقيده لرو چې: په دولسو امامانو کې هر يو امام له ځانه وروسته د بل امام په راتللو ټنيګار کړی دی چې لومړی يې علي ابن ابي طالب)ع( بيا يې زوی امام حسن مجتبی)ع( بيا يې بل زوی حسين بن علي سيد الشهدا)ع( ورپسې يې زوی علي بن الحسين)ع( بيا د هغه زوی محمد بن علي الباقر)ع(، او بيا يې زوی جعفر ابن محمد الصادق)ع( بيا د هغه زوی موسی ابن جعفر)ع( ورپسې دهغه زوی علي ابن موسی الرضا)ع( ورپسې يې زوی محمد بن علي التقي)ع( بيا علي ابن محمد النقي)ع( او بيا حسن ابن علی العسکري)ع( او تر ټولو وروستی يې محمد بن الحسن المهدي ـ سلام الله عليهم ـ دی او مونږ عقيده لرو چې هغه اوس هم ژوند ی دی. البته يوازې مونږ نه يو چې د مهدي په وجود عقيده لرو چې نړی به له عدل او انصافه ډکوي لکه څرنګه چې به له ظلم او زياتي ډکه وي دا عقيده يوازې له مونږ سره مخصوصه نه ده بلکه ټول مسلمانان په هغه عقيده لري او ځينو اهل سنتو عالمانو د مهدي)عج( د روايتونو د متواتر والي په هکله روغ روغ کتابونه ليکلي دي، حتی په هغه رساله کې چې څه موده مخکې د )رابطة العالم الاسلامي( لخوا د هغه پوښتنې په ځواب کې چې د حضرت مهدي)ع( په هکله شوې وه د مهدي د ظهور په مسلم او ارو مرو والي په ټينګارسره له پيغمبر اکرم څخه د مهدي په هکله ډير روايت شوي حديثونه او اسناد ذکر کړي دي.[1] خو ډير يې عقيده لري چې مهدي)عج( به په اخره زمانه کې پيدا کيږي خو مونږ عقيده لرو چې هغه دولسم امام دی او اوس هم ژوندی دی او په هغه وخت کې چې خدای ورته ماموريت ورکړي، له عدل او انصافه د ځمکې د ډکولو لپاره به پاڅون کوي.

---

۱. دا ليک د ۱۳۹۲ کال د شوال په ۱۲ نيټه د ) رابطة العالم الاسامي (لخوا د )ادارة المجمع الاسلامي ( دمشر المحمد المنتصر الکتاني په لاسليک سره خپور شوی دی.

## ۵۳. علي)ع( تر ټولو اصحابو غوره و

مونږ عقیده لرو چې علي تر ټولو اصحابو غوره و او له پیغبره وروسته یې په اسلامي امت کې لومړ ی مقام درلود ، خو سره له دې په دې مسئله کې هر ډول غلو او افراط حرام ګڼو او عقیده لرو چې هغه کس چې دعلي لپاره د خدایۍ مقام یا داسې بل څه قائل دي کافر دي او دمسلمانانو له لیکې وتلي دي اومونږ د هغوي له عقیدو بیزاره یو که څه له بده مرغه د شیعه له نامې سره دهغوي اختبل کیدل او ګډیدل کله کله په دې مسئله کې د غلط فهمۍ سبب کیږي. حال دا چې تل شیعه امامیه عالمانو دغه کسان له اسلامه بهر ګڼلي دي.

## ۵۴. صحابه د عقل او تاریخ د قضاوت په وړاندې

مونږ عقیده لروچې: د پیغمبر)ص( په اصحابو کې لوي سربښندونکي او غوره کسان وو او قرآن او اسلامي روایتونه دهغوي په فضیلت کې ډیر بحثونه لري خو د دې دمعنا دا نه ده چې د پیغمبر ټول اصحاب معصوم وګڼو ، او دهغوي عملونه بې له استثنا صحیح وګڼو. ځکه چې قرآن په ډیرو ایتونو کې )د برائت، نور او منافقین سورو په ایتونو کې( د منافقانو خبره کوي چې د پیغمبر د اصحابو په منځ کې وو او ظاهره د پیغمبر اصحاب ګڼل کیدل حال دا چې قرآن په ډیرو سختو ټکیو کې غندلي دي. له بل پلوه داسې کسان هم وو چې له پیغمبر وروسته یې په مسلمانانو کې دجنګ اور بل کړ او د وخت له امام او خلیفه سره یې بیعت مات کړي او د زرګونو مسلمانانو وینې یې وبهیولې،ایا مونږ دغو ټولو کسانو ته له هر نظره پاک او سپیڅلي ویلی شو؟

په بله ژبه څرنګه دجنګ )مثلا د جمل او صفین د جنګونو ( دواړه لوري سم او په حقه وګڼو؟ دا هغه تضاد دی چې زمونږ لپاره د منلو وړ نه دی او

هغه کسان چې د دغه خبرې د توجیه لپاره د[اجتهاد] په شان مسائل کافي ګڼي چې په دوي کې یو لوری په حقه و او بل په غلطه خو له دې امله چې په خپل اجتهاد یې عمل کړے د خدای په نزد معذور بلکه دثواب خاوندان دي مونږ ته د دې خبرې منل مشکل دي.

ځرنګه د اجتهاد په پلمه د پیغمبر له ځاي ناستي سره بیعت ماتولی او بیا د جنګ اور بلولی شي او د زرګونو بیګناه کسانو وینه بهیول کیدای شي.که دا دومره خونریزي په اجتهاد سره د توجیه وړ وي نو بیا خو هر کار په اجتهاد سره توجیهیدی شي

صفا ووایو چې: مونږ عقیده لرو چې :ټول انسانان حتی د پیغمبر اصحاب په خپل عمل پړ دي او د قرآن دا اصل چې «إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ؛ په تاسو کې خداي ته تر ټولو غوره کس هغه دی چې زیات متقي وي[۱]

په اصحابو هم لاګو او صادق دی نو باید دهغوي حالت دهغوي په عمل سره وجاجو او روښانه یې کړو او په دې ډول د هغوي ټولو په هکله یو منطقي قضاوت ولرو او ووایو: هغه کسان چې د پیغمبر)ص( په وخت کې د مخلصو اصحابو په لیکه کې وو او له پیغمبر)ص( وروسته یې هم د اسلام دحفاظت هڅه وکړه او په هغه تړون چې له قرآن سره یې کړی و وفاداره پاتې شول هغوي ښهٔ ګڼو او درناوی یې کوو . او هغه کسان چې د پیغمبر)ص( په وخت کې دمنافقانو په لیکه کې وو او داسې کارونه یې وکړل چې د رسول الله مبارک زړه یې خپه کړ او یا یې د پیغمبر له وفاته وروسته خپله لاره بدله کړه او داسې کارونه یې وکړل چې د اسلام او مسلمانانو په تاوان شول له هغوي سره مینه ونه کړو . قرآن مجید فرمایي:

«لا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ

---

۱۱. حجرات سوره ۱۳آیت

أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الإِيمَانَ؛ هيڅ قوم چې په خداى او د قيامت په ورځ يې ايمان راوړی نه شې موندلی چې له هغو کسانو سره چې د خدای او د هغه د رسول نافرماني يې وکړه دوستي او مينه وکړي که څه هم دهغوي پلاران ورونه يا يې خپلوان وي، دا هغه کسان دي چې خدای تعالی يې ايمان په زړونو ليکلی دی»[1]

هو هغه کسان چې د پيغمبر په ژوند کې يا د هغوي له رحلته وروسته يې هغه حضرت)ص( وځوراوه زمونږ په عقيده د ستاينې وړ نه دي.

خو بايد هيره نه کړو چې د پيغمبر ځينو اصحابو د اسلام د پرمختګ په لاره کې لويې قرباني کړي او زيارونه يې ايستلي دي او د خدای له لوري يې ستاينه شوې ده همدا راز هغه کسان چې له هغوي وروسته راغلل يا به په راتلونکي کې پيدا کيږي د دنيا تر پايه پورې، دوي که د ربښتينو اصحابو لارې ته دوام ورکړي او هغوي پروګرام جاري وساتي دهر ډول مدحې او ستاينې وړ دي «وَالسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ؛ له مهاجرانو او انصارو لومړي مخ کښان او هغه کسان چې په نيکه يې د هغوي پيروي وکړه، خدای تعالی له هغوي خوشاله شو او هغوي له خدايه خوښ دي.[2]

دا د پيغمبر د اصحابو په هکله زمونږ د عقيدې نچوړ او خلاصه ده.

## ۵۵. د اهل بيتو امامانو)ع( علم له پيغمبره)ص( دی

مونږ عقيده لرو چې دهغه امر مطابق چې د خدای رسول)ص( د متواترو روايتونو په اساس د قرآن او اهل بيتو)ع( په هکله مونږ ته راکړی دی چې د

---

۱. مجادله سوره ۲۲ آيت

۲. توبه سوره ۱۰۰ آيت

دغو دوو لمن پرې نه ږدو چې هدايت شو او همداراز دې ته په پام سره چې مونږ، امامان)ع( چې له اهل بيتو دي معصوم ګڼو دهغوي ټولې خبرې او عمل زمونږ لپاره حجت او سند دی، او همداراز يې تقرير )يعنې كه دهغوي په مخكې كوم كار وشي او هغوي يې منع نه كړي( نو له قرآن او پيغمبر)ص( وروسته زمونږ يوه فقهي منبع د امامانو)ع( وينا عمل او تقرير دی.

او كله چې دې ټكي ته پام وكړو چې د ډيرو او معتبرو روايتونو سره سم، امامانو )ع( فرمايلي دي:هغه څه چې وايي له خپلو پلار نيكونو او په اخر كې له پيغمبره )ص( نقل كوي او په دې پوهيږو چې له پيغمبره د ثقه او باوري كس روايتونه داسلام دټولو عالمانو په نزد د منلو وړ دي.

امام محمد بن علي الباقر )جابر ته( وفرمايل: يا جابر انا لو كنا نحدثكم برايناو هوانا لكنا من الهالكين، و لكنا نحدثكم باحاديث نكنزها عن رسول الله (ص)، اي جابره، كه مونږ د خپل نفس او هوا په غوښتنه تاسو ته كوم حديث نقل كړو له هلاک شويو كسانو به وګرځو.خو مونږ تاسو ته داسې حديثونه نقلوو چې له رسول الله مباركه مو د يوې خزانې په شان ستاسو لپاره زيرمه كړي دي.[1]

له امام صادق)ع( يو بل حديث دی چې يو كس له هغه حضرته پوښتنه وكړه، هغوي ځواب وركړ، هغه كس د امام د نظر د بدلولو لپاره بحث او خبرې اترې پيل كړې امام صادق)ع( وفرمايل: داخبرې پريږده (ما اجبتک فيه من شيء فهو عن رسول الله) هر ځواب چې د يو څيز په هكله مې تا ته دركړ له پيغمبره)ص( دی)او د بحث ځاي نه لري(.[2]

د پام وړ ټكی دا دی چې مونږ په حديث كې معتبرې سرچينې لكه، «كافي، تهذيب، استبصار او من لايحضره الفقيه» او داسې نورې لرو، خو

---

۱. جامع احاديث الشيعه، اول ټوک ۱۸ مخ د ۱۱۸ حديث له مقدماتو

۲. اصول كافي اول ټوک ۵۸ مخ ۱۲۱ حديث

زمونږ له نظره د دغو منابعو معتبروالی په دې معنا نه دی چې هر روايت چې په هغو کې دی، زمونږ له نظره د منلو وړ وي، مونږ د روايتونو په څنګ کې د رجال کتابونه لرو چې د سندونو په ټولو سلسلو کې د اخبار )حديثونو ( د راويانو حال پکې بيان شوی دی، زمونږ له نظره هغه روايت د منلو دی چې د هغه د سند په سلسله او لړۍ کې ټول کسان ثقه او باوري کسان وي. نو هغه روايتونه چې په دغو کتابونو کې راغلي دي که دغه شرط ونه لري زمونږ له نظره د منلو وړ نه دي.

پر دې سربيره کيدی شي يو روايت داسې وي چې د سند سلسله يې هم معتبره وي خو زمونږ عالمانو او فقيهانو له اوله تراوسه په هغه سترګې پټې کړې وي او له هغه تيرشوي وي ځکه چې نورې غلطۍ او خنډونه يې پکې موندلي وي مونږ دغه روايت ته )معرض عنها( وايواو زمونږ له نظره اعتبار نه لري.

له دې ځايه روښانه کيږي چې هغه کسان چې زمونږ په عقيدې د پوهيدلو لپاره يوازې په هغو ځينو روايتونو چې په دغو کتابونو کې راغلي دي استناد کوي بې له دې چې د هغه د سند په هکله تحقيق وکړي سمه لاره نه وهي.

په بله وينا، په ځينو مشهورو اسلامي مذهبونو کې داسې کتابونه شته د )صحاح( په نامه چې د هغوي د روايتونو صحيحوالی د هغو د ليکونکو لخوا تضمين شوی دی او نور هم په هغو د سموالي ټاپه وهي، خو زمونږ په نزد معتبر کتابونه داسې نه دي، بلکه داسې کتابونه دي چې ليکونکي يې لوي او د باور کسان دي خو د دغو کتابونو د روايتونو د سند صحيحوالی، د علم رجال په کتابونو کې د سند د رجالو په جاج پورې تړلی دی.

دې ټکي ته چې مونږ ذکر کړ توجه کول د هغو ډيرو پوښتنو ځواب ويلی شي چې زمونږ د عقيدې په هکله موجود دي، لکه څرنګه چې له هغې غفلت

زمونږ د عقایدو په هکله د ډیرو تیروتنو او غلطیو سبب کیدلی شي.
په هر حال د قرآن مجید له ایتونو وروسته د پیغمبر)ص( روایتونه او د اهل بیتو د دولسو امامانو)ع( حدیثونه زمونږ په نزد معتبر دي په دې شرط چې د دغو روایتونو صادروالی په معتبره طریقه له امامانو)ع( معلوم شي.

شپږمه برخه

# بیلا بیل مسائل

له هغوي بحثونو ورتیر چې په تیرو بابونو کې راغلل چې د اسلام په اساسي بحثونو کې زمونږ عقیدې روښانه کوي، زمونږ په عقیدې کې نورې ځانګړتیاوې هم شته چې په دې باب کې یې راسپړو.

## ۵۲. د عقلي حسن او قبح مسئله

مونږ عقیده لرو چې د انسان عقل د ډیرو شیزونو په ښه والي اوبدوالي پوهیږي، او دا د ښه او بد د پیژندلو د توان په برکت ده چې خدای تعالی انسان ته ورکړی دی.پر دې اساس حتی د آسماني شریعتونو له نازلیدلو مخکې ځینې مسائل د عقل په مټ انسان ته ښکاره وو. د عدالت او انصاف او نیکۍ ښه والی او د ظلم او زیاتي بدوالی او د ډیرو اخلاقي صفاتو لکه رښتیا ویلو، امانت، سخاوت، او داسې نورو شیزونو ښه والی، او همدارازد خیانت، بخل، او داسې نورو شیزونو بدوالی، ټول هغه مسائل دي چې د انسان عقل یې درک کوي، خو له دې امله چې د انسان عقل د ټولو شیزونو په قبح او حسن یعنې ښه والي اوبدوالي نه پوهیږي او د انسان معلومات په هر حال کې محدود دي، آسماني کتابونه اوالهي دینونه او پیغمبران د دغه چارې د تکمیل او بشپړتیا لپاره دخدای له لوري نازل شوي دي چې هم په عقلي ادراکاتو ټینګار وکړي او هم هغه تیاره اړخونه او

زاويې چې عقل يې د پوهې وس نه لري روښانه کړي.

که مونږ د حقائقو په تشخيص کې د عقل له استقلاله بلکل انکار وکړو، بيا خو به د توحيد خدای پيژندنې او د انبياوو د بعثت او د آسماني دينونو خبره ختمه شي ځکه چې د خدای د وجود اثبات او د انبياوو د دعوت د حقانيت ثابتول يوازې د عقل له لارې ممکن دي. څرګنده ده چې د شرعې خبرې هغه وخت د منلو وړ دي چې دا دوه اصلونه )توحيد او نبوت( مخکې د عقل په دليل سره ثابت شوي وي او يوازې په شرعي دليل د دغو دواړو ثابتول ممکن نه دي.

## ۵۷. الهي عدل

په همدې وجه مونږ په الهي عدل عقيده لرو او وايو چې محاله او ناشونې ده چې خدای تعالی په خپلو بندګانو ظلم وکړي، بې دليله چاته سزا ورکړي او يا يې بې دليله وبخښي، محاله ده چې خدای تعالی په خپلو وعدو عمل ونه کړي او محاله ده چې يو ناصالح او خطاکاره کس له خپل لوري په نبوت او رسالت مبعوث کړي او هغه ته يو لړ معجزې ورکړي.

او همداراز محاله ده چې خپل بندګان چې د نيکمرغۍ او سعادت د لارې د کچ کولو لپاره يې پيدا کړي دي بې له لارښود او رهبره پريږدي، ځکه چې دا ټول کارونه بد سپک او قبيح دي، او خدای تعالی ته سپک او قبيح کارونه روا نه دي. )يعنې خداي دغه کارونه نه کوي(

## ۵۸. دانسان آزادي

او بيا په همدې دليل مونږ عقيده لرو چې خدای تعالی انسان ازاد پيدا کړی دی. د انسان کارونه د هغه په اراده او اختيار دي ځکه چې که انسان په خپل کار کې مختار نه وي يعنې مونږ د انسانانو په عملونو کې د جبر قائل شو، د

بدکارو سزا کول ښکاره ظلم او بيعدالتي ده او د نيکانو انعام او جزا چټي او بې دليله کار دی، او داسې کار په خدای تعالی محال دی.

لنډه دا چې: د عقلي حسن او قبح او د ډېر حقائقو په تشخيص کې د انسان د فکر او عقل د استقلال منل د دين او شريعت د انبياوو د شريعت او آسماني کتابونو د منلو اصلي ستنه ده. خو لکه څرنګه چې وويل شول د انسان درک او پوهه محدوده ده، او يوازې په دې وسيله نه شي کولی ټول حقائق چې د هغه په تکامل او نيکمرغۍ پورې اړه لري درک کړي )ورباندې پوه شي( او له همدې امله د انبياوو بعثت او آسماني کتابونو ته ضرورت لري.

## ۵۹. د فقې يوه سرچينه د عقل دليل دی

هغه څه ته په پام سره چې ومو ويل مونږ عقيده لرو چې د اسلام د دين يوه اصلي سرچينه د عقل دليل دی، او له عقله مطلب دلته دا دی چې عقل په يقين او قطعي سره په يو څيز پوه شي او دهغه په هکله قضاوت او فيصله وکړي، مثلا که )فرضا (د ظلم، خيانت، دروغ ويلو ، قتل نفس، د مالونو د غلاکولو او د خلکو په حقوقو د تيري د حراموالي په هکله موپه کتاب او سنت کې هيڅ دليل نه درلود ، مونږ د عقل د دليل په وسيله دا څيزونه حرامول، او يقين وو راته چې خدای تعالی چې حکيم او عالم دی دا څيزونه په مونږ حرام کړي دي او هيڅکله د هغو په کولو راضي نه دی، او دا پر مونږ يو الهي حجت او دليل و.

د قرآن ايتونه ډک دي له داسې تعبيرونو چې ټول د عقل او دعقلي دلائلو د اهميت بيانوونکي دي.

د توحيد د لارې دکچ کولو لپاره قرآن دعقل او پوهې خاوندان په ځمکه او آسمانونو کې د الهي ايتونو مطالعې او ليدلو ته رابلي «إِنَّ فِي خَلْقِ

السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لأولِي الألْبَابِ؛ له بل پلوه د الهي ايتونو اونښو د بيانولو هدف د انسانانو دعقل او پوهې زياتول ګڼي «قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَى أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ فَوْقِكُمْ أَوْ مِنْ تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُمْ بَأْسَ بَعْضٍ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ؛ وګوره چې څنګه ايتونه په مختلفو تعبيراتو سره بيانوو چې پوه شي.[1]

له دريم اړخه ټول انسانان دې ته رابولي چې په نيکيو او بديو کې فرق وکړي اوپه دې لاره کې له تفکره کار واخلي او وايي «قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الأَعْمَى وَالْبَصِيرُ أَفَلا تَتَفَكَّرُونَ؛ ووايه: ايا ړانده اوسترګور)ناپوهه او پوهه( برابر دي، ايا فکر نه کوئ»[2]

او اخر دا چې دانسان تر ټولو بد مخلوق هغه کسان ګڼي چې خپلې سترګې، غوږونه او ژبه  په کار نه اچوي او د عقل او پوهې له ځواکه استفاده نه کوي «إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لا يعقلون؛ تر ټولو بد خوځندګان د خدای په نزد هغه کاڼه او ګونګيان کسان دي چې له عقله کار نه اخلي»[3] او داسې نور پريمانه ايتونه.

په دې اساس څرنګه دا سلام په اصولو او فروعو کې د عقل پوهې او تفکر په ځواک سترګې پټولی شو.

## ۲۰. بيا هم الهي عدل

لکه څرنګه  چې اشاره وشوه مونږ په الهي عدل باور لرو او يقين لرو چې خدای تعالی هيڅکله په خپل کوم بنده ظلم نه کوي، ځکه چې ظلم بد او سپک کار دی او د خدای پاک ذات له دغه ډول کاره سپيڅلی او پاک دی

۱. انعام سوره ۶۵ ايت
۲. انعام سوره ۵۰ آيت
۳. انفال سوره ۲۲ آيت

«وَلا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا؛ ستا رب په هيڅا ظلم نه کوی»[۱]

که په دې دنيا کې ځينې انسانان سزا وينې سبب يې هغوي پخپله دی «فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ؛ خدای تعالی په هغوی )تيرو قومونو چې په عذاب اخته شول( ظلم ونه کړ بلکه هغوی پخپله په ځان ظلم کاوه»[۲]

نه يوازې په انسان بلکه په دې دنيا کې په هيڅ مخلوق د خدای لخوا ظلم نه کيږی «وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِلْعَالَمِينَ؛ خدای تعالی هيڅکله په نړيوالو ظلم نه غواړي»[۳]. البته دا ټول ايتونه د عقل د حکم په لور ټينګار او ارشاد دی.

## د تکليف مالا يطاق نفی

په همدې وجه مونږ عقيده لرو چې خدای تعالی هيڅکله تکليف مالا يطاق نه کوی )تر وسه زيات په چا کار نه اچوی( لا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلا وُسْعَهَا.

## ۲۱. د دردناکو پيښنو فلسفه

او په همدې وجه مونږعقيده لرو چې هغه دردوونکې پيښې چې په دې دنيا کې کيږی )لکه زلزله، او افتونه او بلاګانې( کله د خدای له لوری سزا وی لکه څنګه چې د لوط قوم په هکله راغلي دي «فَلَمَّا جَاءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَالِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِنْ سِجِّيلٍ مَنْضُودٍ؛ کله چې دعذاب په هکله زمونږ امر راورسيد، دهغوی ښارونه مو په بل مخ واړول او د کانو سخت باران مو په

---

۱. کهف سوره ۴۹ آيت
۲. توبه سوره ۷۰ آيت
۳. ال عمران ۱۰۸ ايت

هغوی نازل کړ»[1]

د سبا د ناشکره او سرغړاندو خلکو په هکله فرمایي: «فَاَعْرِضُوْا فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ العَرِم، هغوی )د خدای له اطاعته( مخ واړوه او مونږ په هغوی ورانوونکی سیلاب نازل کړ».

ځینې دغه پیښې دانسانانو د بیدارولو لپاره دي چې سمې لارې ته ستانه شي «ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ؛ په وچه او دریابونو کې فساد او تباهي د هغو کارونو په وجه چې خلکو کړی دی ښکاره شوه، خدای تعالی غواړي د هغوي د ځینو عملونو نتیجه په هغوي وڅښي ښايي ستانه شي»[2] نو دغه ډول خطرناکې پیښې په حقیقت کې دخدای مهرباني ده.

بله برخه هغه مصیبتونه دي چې انسان یې له خپله لاسه ځانته پیدا کوي او په بله معنا د هغه د ناخبرۍ نتیجه وي «إِنَّ اللَّهَ لا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ؛ خدای تعالی د یو قوم برخلیک نه بدلوي مګر دا چې هغوي پخپله ځانونه بدل کړي»[3]

«مَا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللَّهِ وَمَا أَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَفْسِكَ؛ هغه څه چې له نیکیو او کامیابیو تاته رسیږی دخدای له لوري دي )د هغه په مرسته دي( او هغه مشکلات او بدۍ چې تاته رسیږی پخپله ستا له لوري دي»[4]

## ۲۲. دنړۍ نظام تر ټولو ښه نظام دی

مونږ باوري یو چې د هستۍ نظام تر ټولو غوره نظام دی یعنې د نړۍ

---

۱. هود سوره ۸۲ آیت

۲. روم سوره ۴۱ آیت

۳. رعد سوره ۱۱ ایت

۴. نسا سوره ۷۹ ایت

اوسنی واکمن نظم تر ټولو غوره نظم دی چې دیوې نړۍ لپاره ممکن کیدی شي.هر څه په حساب کتاب دی او هیڅ یو څیز د حق عدالت او نیکۍ په خلاف نه دی او که په ا نساني ټولنه کې کومې بدۍ لیدل کیږی پخپله د انسان له لوري دي.

تکراروم چې مونږ عقیده لرو چې: الهی عدل د اسلامي نړۍ لیدیوه اصلی ستنه ده، او له هغه پرته د توحید نبوت او قیامت چارې هم په خطر کې لویږي.دقت وکړئ.

په یو حدیث کې لولو چې امام صادق)ع(له دې وروسته چې ټینګار یې وکړ : ان اساس الدین التوحید والعدل، د دین اساس او بنیاد توحید او عدالت دی، زیاته کړه: اما التوحید فان لا تجوز علی ربک ما جاز علیک، و اما العدل فان لاتنسب الی خالقک مالامک علیه؛ توحید دا دی چې هغه څه چې پر تا روا دي پر خدای یې روا نه کړې )او هغه له ټولو ممکنه صفاتو پاک او سپیڅلی وګڼې ( او عدل دا دی چې په خدای پورې داسې عمل ونه تړې چې که ته یې پخپله وکړې نو تا پرې ملامته کړي.دقت وکړئ.[۱]

## ۲۳. د فقې څلور سرچینې )منابع (

زمونږ دفقې سرچینې لکه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه څلور څیزونه دی:

اول )کتاب الله ( قرآن مجید دی چې د اسلام دمعارفو او احکامو اصلی سند دی.

دوهم: د پیغمبر)ص ( او له اهل بیتو د)معصومو امامانو ( سنت.

دریم: د علماوو او فقهاوو اجماع چې د معصوم د نظر کاشفه وي.

---

۱. بحا ر الانوار، ۵ ټوک ۱۷ مخ حدیث ۲۳

او ځلورم د عقل دليل دی او د عقل د دليل مطلب، د عقل قطعي دليل دی البته د عقل ظني دليل لکه «قياس او استحسان» زمونږ په نزد په هيڅ يوې فقهي مسئلې کې د منلو وړ نه دی ؛ نو کله چې فقيه په خپل ګمان سره په يو ځيز کې مصلحت ويني چې په قرآن او سنت کې د هغه لپاره خاص حکم نه وي راغلی، نو دغه مصلحت د يو الهی حکم په توګه نه شي معرفي کولی. همداراز د شرعې د حکم د معلومولو لپاره ظنی قياسونو او داسې نورو ته پناه وړل زمونږ په نزد جايز نه دي؛ خو په هغو مواردو کې چې انسان يقين پيدا کړي لکه د ظلم، جنايت دروغو خيانت او غلا په بدوالي يقين دا د عقل حکم معتبر دی. او د (کل ما حکم به العقل حکم به الشرع) په مقتضا سره د شرعې د حکم بيانوونکی دی.

حقيقت دا دی چې مونږ په عبادي، سياسي، اقتصادي او ټولنيزو چارو کې د مکلفينو د اړتيا وړ احکامو په هکله له رسول الله مبارک)ص( او معصومو امامانو)ع( په کافي اندازه روايتونه لرواو دغه ډول )ادله ظنيه( ته د پناه وړولو ضرورت نه احساسوو ؛حتی باوری يو چې په )مستحدثه احکامو ( کې يعنې هغه مسايل چې د وخت په تيريدو سره د انسان په ژوند کې داخليږی، په کتاب، او د پيغمبر)ص( اومعصومو امامانو په سنتو کې يو لړ اصول او کليات راغلي دي چې مونږ دغه ډول ظنيه دليلونو ته له پناه وړولو بې نيازه کوي. يعنې هماغه داحکامو کلياتو ته په رجوع سره مستحدثه مسايل کشف کيدی شي )د دې خبرې وضاحت زمونږ د دې کوټلي بحث له حوصلې بهر دی(.[1]

## ۲۴. د اجتهاد باب تل پرانستی دی

مونږ عقيده لرو چې د اجتهاد باب په ټولو مسائلو کې خلاص دی، او

۱. په کتاب) المسائل المستحدثه (کې مو دا خبره ښه واضحه کړې ده.

ټول د نظر خاوند فقیهان کولی شي الهي احکام له تیرو څلورو منابعو راوباسي او هغو کسانو ته یې چې د استنباط قدرت نه لري ورکړي. که څه هم نظرونه یې له تیرو فقیهانو سره ځینې فرقونه ولري.او باوري یو چې کوم کسان په فقې کې د نظر خاوندان نه دي، همیشه باید ژوندیو فقیهانو ته چې د زمان او مکان په مسایلو خبر دي مراجعه وکړي او په اصطلاح دهغوي تقلید وکړي او په فقهې کې متخصصانو ته د ناخبرو کسانو مراجعه له بدیهیاتو ګڼو. مونږ دغو فقیهانو ته )مرجع تقلید ( وایو، په دې ډول له مړ فقیه څخه ابتدایی تقلید جایز نه ګڼو؛ ضرور باید د ژوندیو فقیهانو تقلید وشي چې فقه تل په حرکت او تکامل کې وي.

## ۲۵. قانوني خلا نیشته

مونږ عقیده لرو چې په اسلام کې )قانوني خلا ( نیشته، یعنې د قیامت تر ورځې پورې دانسانانو د اړتیا ټول احکام په اسلام کې بیان شوي دي، کله په خاص ډول او کله هم د یو کلي او عام حکم په شکل کې، او له همدې امله مونږ فقیهانو ته د قانونونو جوړولو حق نه ورکوو، بلکه هغوی ژمن ګڼو چې الهي احکام له هغو څلورو منابعو چې ذکر شول استخراج کړي.او خلکو ته یې وړاندې کړي.ایا قرآن مجید په مائده سوره چې تر ټولو وروستی یا په وروستیو سورو کې ده چې په پیغمبر نازله شوې،نه فرمایي چې «الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا؛ نن مې ستاسو دین بشپړ کړاو خپل نعمت مې په تاسو تمام کړ، او ستاسو لپاره مې اسلام دین غوره کړ»[1] دا اسلام څرنګه کامل کیدی شي بې له دې چې د ټولو وختونو او پیړیو لپاره کامل فقهي احکام و لري؟!

---

۱. مائده سوره ۳ ایت

آیا د پیغمبر)ص (په مشهور حدیث کې نه لولو چې په حجت الوداع کې یې وفرمایل: ایهاالناس والله ما من شیء یقربکم من الجنة و یباعدکم عن النار الا وقد امرتکم به، و ما من شیء یقربکم من النار و یباعدکم عن الجنة الا وقد نهیتکم عنه؛ ای خلکو ! هر څیز چې تاسو جنت ته نزدې کړي او د دوزخ له اوره مو لیرې کړي، تاسو ته مې د هغه امر درکړاو له هر هغه څیزه مې چې تاسو د دوزخ اور ته نزدې او له جنته لیرې کړي تاسو منع کړئ.[1]

له امام صادق)ص ( په یو بل مشهور حدیث کې لولو: ماترک علی شیئا الا کتبه حتی ارش الخدش؛ علی(ع) له اسلامه هیڅ پرې نه ښودل مګر دا چې )د پیغمبر)ص ( په حکم او املا سره یې ( ولیکل، حتی د انسان په بدن د لیګدلی یو وړوکي شان خراش دیه.[2]

نو په دې وجه ظنیه دلیلونو ، قیاس او استحسان ته لمبر نه رسیږي.

## ۲۲. تقیه او د هغې فلسفه

مونږ عقیده لرو چې که انسان د متعصبو ، ضدي او بې منطقه کسانو په منځ کې ګیر شی چې د هغوي په مخ کې د خپلې عقیدې څرګندول د ځاني یا بل لوی خطر سبب کیږي او د عقیدې له اظهاره کومه مهمه فایده هم نه وي، په دغه ډول مورد کې دنده لري چې خپله عقیده پټه وساتي، او خپل سر چتی له لاسه ورنه کړي، مونږ دې مسئلې ته « تقیه »وایو او دا مسئله مو په قرآن کې له دوو ایتونو او د عقل له دلیله زده کړې ده.

قرآن د آل فرعون د مومن په هکله فرمایی «وَقَالَ رَجُلٌ مُؤْمِنٌ مِنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ أَتَقْتُلُونَ رَجُلا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ وَقَدْ جَاءَكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ رَبِّكُمْ؛ له آل فرعونه

---

۱. اصول کافي، ۲ټوک ۷۴ مخ، بحارالانوار، ۲۷ ټوک ۹۲ مخ.

۲.جامع الاحادیث، اول ټوک ۱۸ مخ ۱۲۷ حدیث )په دغه کتاب کې په دې هکله نور هم ډیر معتبر حدیثونه لیکل شوي دي.

یو ایماندار کس چې خپل ایمان یې پټاوه )له موسی دفاع وکړه ( او وې ویل: ایا تاسو غواړئ داسې کس ووژنئ چې وایي: زما رب خدای دی، په داسې حال کې چې ستاسو د رب له لوري یې تاسو ته روښانه دلیلونه راوړي دي !»[1]

د «یکتم ایمانکم» جمله د تقیې په مسئله صراحت لري،ایا په ځای وه چې د ال فرعون مومن خپل ایمان ښکاره کړی او خپل سریې بایللی وی او دغه د سر بایلل هیڅ کار هم نه وی سم کړی؟

او د اسلام دلومړیو وختونو د ځینو مبارزو او مجاهدو مومنانو په هکله چې د ضدی مشرکانو په منګولو کې ښخیدل د تقیې حکم ورکوي او فرمایي «لا یَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْکَافِرِینَ أَوْلِیَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِینَ وَمَنْ یَفْعَلْ ذَلِکَ فَلَیْسَ مِنَ اللَّهِ فِي شَيْءٍ إِلا أَنْ تَتَّقُوا مِنْهُمْ تُقَاةً؛ مومن کسان باید بې له مومنانو ، له کافرانو څخه له چاسره مینه او دوستي ونه کړي، هر چا چې دا کار وکړ له خپل خدای سره یې اړیکي شلولي دي مګر دا چې )تاسو په خطر کې وئ ( او له هغوي تقیه وکړئ»[2]

په دې اساس تقیه یعنې د خپلې عقیدې پټول، له هغه ځای سره مخصوصه ده چې د متعصبو او سپین سترګو دښمنانو په وړاندې د انسان مال او عزت ته خطر وي، بې له دې چې د ایمان ښکاره کول څه نتیجه ولري.په داسې موقعو کې باید چټي په چټي کسان په خطر کې وانه چول شي او خپل ځواک بې ځایه ضایع نه شي بلکه پکار ده چې هغه ضروری موقعو ته وساتل شي.له همدې امله د امام صادق)ص ( په یو مشهور حدیث

---

۱. مومن سوره ۲۸ ایت

۲. ال عمران سوره ۲۸ آیت

کې لولو چې: التقیه ترس المومن؛ تقیه د مومن دفاعي ډال دی.[۱]

د «ترس» )ډال( تعبیر یو لطیف تعبیر دی چې ښیي تقیه د دښمن په وړاندې د دفاع یوه وسیله ده.

د مشرکانو په وړاندې د حضرت عمار یاسر د تقیې کیسه او د پیغمبر)ص( لخوا دهغې تاییدول مشهور دي.[۲]

د جنګ په میدان کې د خپلو عسکرو او وسلو پټول،له دښمنانانو د جنګي رازونو وغیره پټ ساتل داسې نور ټول د انسان په ژوند کې د تقیې مثالونه دي؛ او په مجموع کې تقیه یعنې پټول په داسې ځایونو کې چې ښکاره کول یې د خطر او ضرر سبب کیږي او هیڅ فایده نلري، یو عقلي او شرعي حکم دی چې نه یوازې شیعه بلکه د نړۍ ټول مسلمانان او عاقلان د ضرورت په وخت په هغه عمل کوي.

سره له دې د حیرانۍ خبره ده چې ځینې کسان په تقیې عقیده یوازې په شیعو او داهل بیتو دمکتب په منونکو پورې مخصوصه ګڼي او هغه په شیعوو باندې یو لوی اعتراض ګڼي، حال دا چې دا یوه روښانه مسئله ده، هم په قرآن کې جرړه لري هم په حدیث کې، هم د پیغمبر د یارانو سیرت پاتې شوی او هم پرې د نړۍ ټول عقلا عمل کوي.

---

۱. وسائل ۱۱ ټوک ۴۶۱ مخ ۶ حدیث ۲۴ مخ. په ځینو حدیثونو کې ) ترس الله فی الارض ( « په ځمکه د خدای ډال» تعبیر راغلی دی.

۲. دا حدیث ډیرو مفسرانو مورخانو او د حدیثو لکیونکو په خپلو مشهورو کتابونو کې راوړی دی منجمله واحدي په اسباب النزول، طبری، قرطبی، زمخشری، فخر رازی، بیضاوي او نیشابوري هر یو په خپل تفسیر کې د ) نحل سورې ۱۰۶ آیت ( په ذیل کې راوړی دی.

## ۲۷. په کومو ځایونو کې تقیه حرامه ده

مونږ عقیده لرو چې: د دغو ناوړه تفاهمونو اصلي وجه د شیعه وو له عقیدې د کافي آګاهۍ نیشتوالی دی او یا دا چې د شیعوو عقاید د هغوی له دښمنانو اخستل شوي دي، او زمونږ په خیال کوم وضاحت چې پورته وشو په هغې سره مسئله پوره روښانه شوې وي.

البته د دې خبرې انکار نه شي کیدی چې په ځینو ځایونو کې تقیه حرامه ده او هغه په هغه ځای کې چې د دین، اسلام او قرآن او یا اسلامي نظامونو اساس او بنیاد ته خطر پیښ وي.په داسې موقعو کې باید خپل عقاید ښکاره کړی شي که څه هم انسان د عقیدې د اظهار په وجه قربان شی، او باوري یو چې په کربلا کې او دعاشورا په ورځ د امام حسین پاڅون بلکل د همدې مقصد لپاره و، ځکه چې د بنی امیه وو واکمنانو د اسلام اساس ته خطر پیښ کړی و، او دامام حسین پاڅون دهغوي له کارونو پرده پورته کړه.او د خطر مخه یې ونیوله.

## ۲۸. اسلامي عبادتونه

مونږ په هغو ټولو عبادتونو چې قرآن او سنت پرې تاکید کړی دی معتقد او پابند یو، لکه پینځه وخته لمونځ چې له خالق سره د مخلوق تر ټولو لویه رابطه ده، او د رمضان دمیاشتې روژې چې د ایمان د مضبوتولو، د نفس د تزکیې او له هوی پرستۍ سره دمقابلې لپاره تر ټولو غوره وسیله ده.

مونږ د خدای د کور حج چې د تقوا او د مینې د مزیو د ټینګولو تر ټولو اغیزمنه وسیله او د مسلمانانو دعزت سبب دی په عمر کې یو ځل په استطاعت لرونکو کسانو واجب ګڼو او دمال زکات، خمس امر بالمعروف او نهي عن المنکر او په اسلام او مسلمانانو د یرغلګرو په وړاندې جهاد هم له مسلمو واجباتو ګڼو.

که څه هم د دغو چارو په جزيياتو کې زمونږ او ځينو نورو فرقو په منځ کې ځينې توپيرونه شته لکه څرنګه چې د اهل سنتو څلور مذهبونه د عباداتو وغيره په احکامو کې له يو بل سره فرقونه لري.

## ۶۹. د دوو لمونځونو په يو ځای کول

منجلمه دا چې مونږ عقيده لرو: په يو وخت د ماسپښين او مازيګر د لمونځونو او د ماښام او ماسخوتن د لمونځونو کول روا دي )که څه هم د هغوی جدا جدا کښل افضل او غوره ګڼو ( او باوري يو چې پيغمبر)ص( د هغو کسانود اسانۍ لپاره چې په زحمت کې دي په يو ځای د دوو لمنځونود کولو اجازه ورکړې ده.

په صحيح ترمذي کې له ا بن عباسه نقل شوي دي چې: جمع رسول الله (ص)بين الظهر والعصر، و بين المغرب والعشاء بالمدينة من غير خوف ولا مطر، قال فقيل لابن عباس ما اراد بذلک؟ قال اراد ان لا يحرج امته؛ پيغمبر)ص( په مدينې کې د ماسپښين او مازيګر مونځونه او د ماښام او ماسخوتن لمنځونه په يو ځای وکړل په داسې حال کې چې نه ويره وه او نه باران، له ابن عباسه پوښتنه وشوه چې له دې کاره د هغه حضرت)ص( مقصد څه و؟ وې ويل:د دې لپاره يې دا کار وکړ چې امت په زحمت )سخته ( کې پرې نه وزي)يعنې په هغو ځايونو کې چې يو ځای کول يې د سختې سبب شي له دغه ترخيصه استفاده کولی شي ([1]

## ۷۰. په خاوره سجده

زمونږ عقيده ده چې: د لمانځه د سجدې په وخت بايد په خاوره يا د ځمکې

---

۱. سنن ترمذی، اول ټوک۳۵۴مخ،۱۳۸باب. سنن بيهقی،۳ټوک،۱۲۷مخ.

په نورو ځیزونو سجده وشی یا په هغو ځیزونو چې له ځمکې زرغونیږي، لکه پاڼې لرګی او ټول بوټی )بې له هغو چې خوړونکي یا اغوندونکي وي(.

نو په قالین باندې سجده روا نه ګڼو په تیره بیا دا چې خاورې ته د سجدې لپاره په هر څه ترجیح ورکوو، نو د کار داسانی لپاره اکثره شیعه له ځان سره د پاکې خاورې یوه برابره شوې ټوټه ګرځوي چې ورته سجده ګاه وايي او په هغې سجده کوو چې هم پاکه ده او هم خاوره.

په دې مسئله کې د پیغمبر)ص( په مشهور حدیث استناد کوو «جعلت لی الارض مسجداً و طهوراً»، مونږ «مسجد» په دغه حدیث کې )د سجدې د ځای( په معنا ګڼو.

دا حدیث په اکثرو صحاحو او نورو کتابونو کې نقل شوی دی.[۱]

ممکنه ده وویل شي چې په دې حدیث کې د «مسجد» مطلب «د سجدې ځای» نه دی، بلکه د لمانځه ځای دی، د هغو کسانو په مقابل کې چې لمونځ یې یوازې په یو خاص ځای کې کاوه، خو دې ته په پام سره چې دلته د )طهور( یعنې )د تیمم دخاورې( خبره راغلې ده روښانه کیږي چې له دې مطلب د «سجدې ځای» دی یعنې د ځمکې خاوره هم «طهور» ده او هم «د سجدې ځای».

پر دې سربیره د اهل بیتو له امامانو )ع( په دې هکله زیات حدیثونه هم مونږ ته راغلي دي چې د سجدې ځای یې خاوره کاڼی او داسې نور ځیزونه بللي دي.

۱. منجلمه دا چې «بخاری» په خپل صحیح کې له «جابر بن عبدالله» په باب التیمم )اول ټوک ۹۱مخ( کې او همداراز نسائی په خپل صحیح کې له جابر بن عبدالله، په باب «التیمم بالصعید» کې ذکر کړی دی، په مسند احمد کې له ابن عباسه نقل شوی )اول ټوک ۳۰۱مخ( او د شیعوو په منابعو کې هم په مختلفو طرقو له رسول الله مبارکه نقل شوی دی.

## ۷۱. د پیغمبرانو او د امامانو د قبرونو زیارت

مونږ عقیده لرو چې: د پیغمبر اکرم)ص( ائمه اهلبیت)ع( اود لویو عالمانو ستروکسانو او دخدای د لارې د شهیدانو د قبرونو زیارت له مؤکدو مستحباتو څخه دی.

د اهل سنتو علماوو په کتابونو کې د پیغمبر اکرم)ص( د قبر د زیارت په هکله پریمانه روایتونه راغلي دي لکه څرنګه چې د اهل تشیع په کتابونو کې هم په دې هکله ډیر حدیثونه نقل شوي دي، او که دا حدیثونه راغونډ شي یو لوی کتاب ترې جوړیدی شي.[1]

په درست تاریخ کې د اسلام لویو عالمانو او ټولو خلکو دغه کار ته اهمیت ورکړی دی، او کتابونه ډک دي د داسې کسانو د ژوند له حالاتو چې د رسول الله مبارک)ص( او یا د نورو سترو کسانو زیارتونو ته به تلل.[2] او په مجموع کې ویلی شو چې دا مسئله د ټولو مسلمانانو د اتفاق او اجماع وړ مسئله ده.

څرګندہ ده چې هیڅوک باید «زیارت» له «عبادت» سره ګډ نه کړي او دا اشتباه ونه کړي، عبادت او پرستش یوازې په خدای پورې مخصوص دی، او له زیارته مطلب د اسلام د لویو کسانو درناوی، احترام او دخدای په در کې له هغوی د شفاعت او سفارش غوښتل دي، حتی په روایتونو کې راغلي دي چې پخپله پیغمبر به هم کله کله د اهل قبورو زیارت ته تللو. هغه

۱. له دغو روایتونو او د زیارت په هکله د لویو کسانو او د هغوی له حالاتو د خبریدو لپاره کتاب الغدیر، ۵ ټوک ۹۳ تر ۲۰۷ مخونو ته مراجعه وکړئ.

۲. له دغو روایتونود خبریدو او همدارازد زیارت په هکله د دین د لویو کسانو له کلماتو او خبرو دخبریدو لپاره تیر مدرک ته مراجعه وکړئ.

حضرت)ص( به بقیع ته تشریف وړه او په هغوي به يې سلام او درود وايه.[۱]
نو هیڅا ته د اسلامي فقهې له نظره په دغه کار کې شک نه دي کول پکار او کولی يې هم نه شي.

## ۷۲. د وير مراسم او دهغو فلسفه

مونږ عقیده لرو چې: د اسلام د شهیدانو په تیره بیا د کربلا د شهیدانو لپاره وير او عزاداري د اسلام د بقا په لاره کې د هغوی د یاد او د میړانو او سرښندنو د یاد پاتې کیدو سبب ده، له همدې امله په مختلفو وختونو کې په تیره بیا د عاشورا په ورځو کې )د محرم د میاشتې لومړۍ لس ورځې( چې د جنت د ځوانانو د سرخیل[۲] د امیر المومنین حضرت علی)ع( او د رسول الله مبارک د ګرانې لور بی بی فاطمة الزهرا د زوي حسین بن علي)ع( د شهادت له ورځو سره سمون خوري د عزادارۍ او وير مراسم کوو. د هغوی د ژوند او میړانو تاریخ راسپړو او د هغوي د اهدافو په هکله غږیږو او د هغوي په پاکو اراوو سلام وايو.

مونږ باوري وی چې: بني امیه وو خطرناک حکومت جوړ کړی و، د پیغمبر)ص( ډیر سنتونه يې بدل کړي وو او د اسلامی ارزښتونو ختمولو ته يې ملا تړلې وه.

---

۱. دا حدیثونه په صحیح مسلم، ابوداود او نسائی، مسند احمد، صحیح ترمذی او سنن بیهقي کې لیدلې شئ.

۲. دا حدیث ) الحسن والحسین سیدا شباب اهل الجنة(حسن او حسین دواړه د جنت د ځوانانو سرداران دي په صحیح ترمذکي له ابو سعید خدري او حذیفه )۲ ټوک۳۰۶او ۳۰۷ مخ او په صحیح ابن ماجه کي په باب فضائل اصحاب رسول الله کي او په مستدرک الصحیحین او حلیة االولیاء او تاریخ بغداد او اصابه ابن حجر او کنزالعمال او ذخائر العقبی او داسې نورو ډیر کتابونو کې نقل شوی دی.

حسین بن علي د هجرت په یوشپیتم کال د یزید په خلاف چې په ګناه ککړ، خپل سری او له اسلامه لیرې کس و او له بده مرغه د اسلامي خلافت په چوکۍ یې تکیه وهلې وه، پاڅون وکړ که څه هم امام حسین)ع( او ملګري یې په عراق کې د کربلا په خاوره شهیدان شول او کورنۍ یې په بند لاړه، خو دهغوي وینې دهغه وخت په ټولو مسلمانانو کې عجیبه شان ولوله پیدا کړه، د بنی امیه وو په خلاف یو په بل پسې پاڅونونه پیل شول او د هغوی د ظلم او زیاتي په ماڼۍ یې سخت ګوزارونه وکړل، او اخر یې د ژوند ناولی ټغر ټول شو. او تر دې جالبه دا چې هغه ټول پاڅونونه چې د عاشورا له پیښې وروسته د بنی امیه وو د حکومت په خلاف وشول د «الرضا لآل محمد او یا لثارات الحسین» تر نامه لاندې وو، او ځینې دغه شعارونه حتی د بنی عباسو دخپل سرو حکومتونو په وخت کې هم جاري وو.[1]

د امام حسین )ع( د خونړي پاڅون مسئله په نن زمانه کې زمونږ لپاره د هر ډول ظلم زیاتي او استبداد او زوروینې په وړاندې د دریدو لپاره په یوې بیلګې او پروګرام بدل شوی دی .او دا شعارونه چې «هیهات منا الذله» مونږ هیڅکله ذلت ته غاړه نه ږدو او «انما الحیاة عقیدة وجهاد؛ د ژوند حقیقت ایمان

---

۱. ابو مسلم خراسانی چې د بنی امیه وو دحکومت جرړې یې غوڅې کړې، د مسلمانانو د احساساتو د جذبولو لپاره یې د الرضا لآل محمد له شعاره مرسته واخسته )کامل ابن اثیر، ۴ ټوک ۳۷۲ مخ(.

د توابینو قیام هم د یا لثارات الحسین په شعار سره تر سره شو ) کامل ابن اثیر ۴ ټوک ۱۷۵ مخ(

د مختار بن ابی عبیده ثقفی پاڅون هم په دې نعرې سره و )کامل، ۴ ټوک ۲۸۸ مخ مونږ ته پته ده چې په هغو ډلو کې چې د بنی عباسو په خلاف یې پاڅون وکړ، حسین بن علی صاحب فخ و، هغه خپل هدف په یوې جملې کې خلاصه کاوه «وادعوکم الی الرضا من آل محمد (؛ زه تاسو د آل محمد )ص( د رضا لاسته راړولو ته بلم.) مقاتل الطالبین، ۲۹۹ مخ- تاریخ طبری، ۸ ټوک ۱۹۴ مخ.

او جهاد دی» چې د کربلا له خونړي تاریخه اخستل شوی تل له مونږ سره مرسته کړې ده چې د ظالمو حکومتونو په وړاندې ودریږو او د کربلا د شهیدانو د سرخیل او دهغه د یارانو په اقتدا سره د ظالمانو شر لیرې کړو )د ایران د اسلامی جمهوریت په ا نقلاب کې هم په هر ځای کې دا شعار لیدل کیږی (

لنډه دا چې: د اسلام دشهیدانو د یاد درنښت په تیره بیا د کربلا د شهیدانو د یاد درناوی د ایمان او عقیدې په لاره کې د حماسې، ایثار میړانې او سرښندنې روح تل په مونږ کې ژوندی ساتي، او مونږ ته د سرلوړی ژوند او ظلم ته د غاړه نه کیښودلو لوی درسونه راکوي، دا ده هر کال د عزادارۍ د مراسمو د تجدید او د دغو یادونو او پیښو د ژوندي ساتلو فلسفه.

کیدی شي چې چاته پته نه وي چې مونږ د ویر په مراسمو کې څه کوو او دا عزاداری په یوې تاریخې پیښې پورې اړوند وګڼي چې مودې وشوې هیره شوې ده، خو مونږ پخپله پوهیږو چې د دغو یادونو او خاطراتو یاد ساتل زمونږ په پروني نني او را تلونکي تاریخ څه اغیزې لرلي او لري یې.

د احد له غزا وروسته پر «سید الشهداء» حضرت حمزه د رسول الله مبارک)ص( او مسلمانانو ویر او ماتم په ټولو مشهورو تاریخونو کې راغلی دی چې دخدای رسول د انصارو له یوه کوره تیریده چې د ژړا او نوحې غږ یې واورید، د پیغمبر په سترګو کې اوښکې راغلې او وې ژړل او وې فرمایل: خو په حمزه څوک نه ژاړی )عزادار نه لري(، سعد بن معاذ داخبره واوریده او د بني عبدالاشهل د طایفې یوې ډلې ته ورغی، او دهغوی ښځو ته یې امر وکړ چې د پیغمبر د تره حمزه کور ته لاړې شي او په هغه ویر وکړي.[1]

---

۱. کامل ابن اثیر، ۲ ټوک ۱۲۳ مخ- سیره ا بن هشام دریم ټوک ۱۰۴ مخ

څرګنده ده چې دا کار يوازې له حضرت حمزه سره مخصوص نه و، بلکه داسې پروګرام دی چې د ټولو شهيدانو لپاره بايد ترسره شي، او دهغوي ياد د نن او سبا د کهولونو لپاره ژوندی وساتو، او له دې لارې پرله پسې د مومنانو په رګونو کې نوې وينه جاری کړو.اتفاقا اوس چې دا کرښې ليکم د ۱۴۱۷ هجري قمري کال د محرم دمياشتې لسمه نيټه )دعاشورا ورځ( ده؛ په رښتيا چې درسته دشيعيت نړۍ له عجيبه شور او ولولې ډکه ده ځوانانواو زلمکيانو او لويو ټولو تورې جامې اغوستي او په يو هيرډ د امام حسين او د کربلا دشهيدانو د وير په دستورو کې برخه اخلي د ټولو په فکر او روح کې داسې بدلون ښکاره دی چې که هغوي ته د اسلام له دښمنانو سره د مبارزې بلنه ورکړل شي ټول به وسله په لاس ميدان ته راشي، او له هيڅ ډول سرښندنې او ميړانې ډډه نه کوي،ته وا د شهادت وينه د ټولو په رګونو کې جاري شوې او په همدې شيبې او وخت کې حسين او دهغه وفادار ياران په کربلا کې د اسلام په لاره کې په سرښندنه ګوري.

هغه حماسي شعرونه چې په دغو عظيمو دستورو کې لوستل کيږي د استعمار او استکبار په خلاف له ځپونکو، ظلم او زياتي ته د نه تسليميدو او عزتمن مرګ ته په ذلت ناک ژوند د ترجيح ورکولو له شعارونو ډک دي.

مونږ عقيده لرو چې دا يوه لويه معنوي پانګه ده چې بايد ساتنه يې وشي او له هغه د اسلام او ايمان د ژوندي ساتلو او تقوا لپاره استفاده وشي.

## ۷۳. موقته واده )متعه(

مونږ عقيده لرو چې موقته واده يوه شرعی چاره ده چې په اسلامی فقه کې د «متعه» په نامه مشهوره شوې ده. نو په دې ترتيب، واده په دوه ډوله دی دائم ازدواج، چې وقت او زمان يې نامحدود دی او موقت ازدواج چې وخت يې د دواړو لورو په توافق سره ټاکل کيږی.

دا واده له دايمی واده سره په ډيرو مسائلو کې ورته والی لري منجمله د مهر په مسئله، له هر ډول مانع او خنډه د ښځې د خلاصيدو او د هغو بچيانو د احکامو په اړه چې د دغه واده په نتيجه کې پيدا کيږي، دا بچيان له دائمي واده له پيدا کيدونکوبچيانو سره هيڅ توپير نه لري، له جدايی وروسته د عدې ساتل دا ټول زمونږ په نزد له مسلماتو دي، په بله ژبه عقد موقت)متعه( يو ډول واده دی سره د واده د ټولو ځانګړتياوو.

البته د دائمي ا و موقته واده تر مينځ ځينې توپيرونه شته منجمله دا چې په موقت عقد کې د ښځې نفقه په ميړه واجبه نه ده، او ښځه او ميړه له يو بله وراثت نه وړي.)خو د دوی بچيان له مور او پلار او له يو بله ارث وړي(

په هر حال مونږ دا حکم له قرانه اخستی دی چې فرمايي «فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً؛ د هغه ښځو چې ورسره متعه کوئ، مهر ورکړئ»[1]

ډيرو لويو مفسرانو او مشهورو محدثانو جوته کړې ده چې دا ايت د موقت عقد) متعې( په باره کې دی.

په تفسير طبري کې د دغه ايت په ذيل کې ډيررو ايتونه نقل شوي دي چې ښيي دغه ايت د موقت عقد په هکله دی او د پيغمبر )ص( ډيرو اصحابو په هغه شهادت ورکړی دی.[2]

په «الدرالمنثور» تفسير او «سنن بيهقی» کې هم په دې هکله ډير روايتونه راغلي دي[3]

په «صحيح بخاری» «مسند احمد» او «صحيح مسلم» او نورو ډيرو کتابونو کې هم داسې روايتونه تر سترګو کيږي چې د پيغمبر)ص( په وخت

۱. نساء سوره ۲۴ ايت
۲. تفسير طبري ۵ ټوک ۹ مخ
۳. الدر المنثور، ۲ ټوک ۱۴۰ مخ سنن بيهقی، ۷ ټوک ۲۰۷ مخ

کې د عقد موقت په شتون دليل دی که څه هم دهغو مخالف روايتونه هم ليدل کيږی.[۱]

د اهل سنتو ځينې فقيهان په دې عقيده دي چې د پيغمبر)ص( په وخت کې متعه وه او بيا دغه حکم نسخ شوی دی، حال داچې ځينې وايي چې دا حکم د پيغمبر )ص( د عمر تر اخره پورې و او دوهم خليفه هغه نسخ کړی دی. (مُتْعَتَانِ كَانَتَا عَلىٰ عَهْدِ رَسُوْلُ الله وَاَنَا مُحَرّمُهُمَا وَمُعَاقِبٌ عَليهما: مُتْعَةُ النِّسَاءِ وَ مُتْعَةُ الْحَجّ؛ دوه متعې د پيغمبر)ص( په وخت کې وې او ما هغه حرامې کړې او په هغو به سزا ورکوم! د ښځو متعه او د حج متعه )چې د حج يو ډول دی( د دې خبرې ګواه دی.[۲]

په دې کې شک نيشته چې په دغه اسلامي حکم کې د اهل سنتو راويانو په منځ کې د نورو ډيرو احکامو په شان اختلاف موجود دی، ځينې د پيغمبر)ص( په وخت کې د هغه د نسخيدو عقيده لري او ځينې د دوهم خليفه په زمانه کې او لږ شمير يې بلکل انکار کوي، او دا ډول اختلافات په فقهی مسائلو کې موجود دي، خو شيعه فقيهان د هغې په مشروعيت کې دنظر اتفاق لري او وايی چې د پيغمبر)ص( په وخت کې نه ده نسخ شوې او د هغه حضرت له رحلته وروسته يې نسخيدل ناممکن دي.

په هر حال مونږ عقيده لرو چې: که له موقته ازدواجه ناوړه استفاده ونه

---

۱. مسند احمد ۴ ټوک ۴۳۶ مخ ـ صحيح بخاری ۷ ټوک ۱۲ مخ او صحيح مسلم ۲ ټوک ۱۰۲۲مخ د )باب نکاح المتعه( تر عنوان لاندې راغلي دی.

۲. دا حديث په همدې محتوا سره يا دې ته په ورته محتوا سره په سنن بيهقی۷ ټوک۲۰۶ مخ او په نورو ډيرو کتابونو کې راغلی دی، د الغدير ليکوال له صحاحو او مسندونو پنځه ويشت حديثونه نقلوي چې «متعه» په شريعت اسلامي کې حلاله او د پيغمبر )ص( د لومړي خليفه په وخت او دوهم خليفه په ځينې وخت کې موجوده او دود وه بيا دوهم خليفه د خپل عمر په وروستيو کې نهي کړه )الغدير، ۳ ټوک۳۳۲مخ(.

شي، د هغو ځوانانو په هکله چې د دائمي واده وس نه لري د ځينو ټولنيزو ضرورتونو ځواب ويلی شي. يا د هغو مسافرانو په مسئله کې چې د تجارتي، اقتصادي، تعليمي يا داسې نورو ضرورتونو لپاره يوه موده له خپلې کورنۍ ليرې پاتې کيږي او يا داسې نور موارد او له موقته واده سره مخالفت په دغو کسانو کې د فحشا د زياتيدو لاره پرانيزي، په تيره بيا زمونږ په زمانه کې چې د دائمي واده عمر د مختلفو دلايلو په وجه ډير زيات شوی دی او له بل پلوه د شهوت پاروونکي عوامل زيات شوي دي. که دا لاره بنده شي بې له شکه چې د فحشا لپاره لاره پرانستل کيږي.

يو ځل بيا ټينګار کوم چې مونږ له دغه اسلامي حکمه له هر ډول ناوړه استفادې، د هوسبازانو په لاس کې دهغې له بازيچه کيدو او ککړتيا ته د ښځو د راکاږلو لپاره ديوې وسيلې په توګه دا ستفادې سخت مخالف يو، خو له قانونه د ځينو هوس بازانو ناوړه استفاده بايد د قانون د مخنيوی سبب او پلمه ونه ګرځي، بلکه بايد د ناوړه استفادې مخه ونيول شي.

## ۷۴. د تشيع تاريخچه

مونږ عقيده لرو چې: د تشيع د پيدايښت مبدا د پيغمبر)ص( زمانه او د هغوی ويناوې دی او دد ې خبرې لپاره روښانه اسناد دلرو:

منجمله دا چې ډيرو مفسرانو د دغه آيت «إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ؛ هغه کسان چې ايمان يې راوړی او نيک عملونه يې کړی دي )دخدای ( تر ټولوغوره مخلوق دی»[1] دا حديث يې له پيغمبره )ص (نقل کړی دی چې وې فرمايل: «له دغه ايته مطلب علی)ع ( او دهغه شيعه دي»

منجمله مشهور مفسر «سيوطی» په الدر المنثور کې له «ابن عساکر» له

---

۱. سوره بينه ۷ ايت

جابر بن عبدالله نقلوي چې مونږ د پيغمبر)ص( په خدمت کې وو چې علی)ع( راغی کله چې پيغمبر)ص(، علی)ع( وليده نو وې فرمايل: والذی نفسی بيده ان هذا وشيعته لهم الفائزون يوم القيامة؛ قسم په هغه چا چې زما ځان يې په لاس کې دی، دی او شيعه يې د قيامت په ورځ د کامیابو کسانو په ډولي کې دي» بيا د إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ؛ آيت نازل شو او له هغه وروسته کله به چې علی)ع( د پيغمبر)ص( د اصحابو غونډو ته ورتللو هغوي به ويل «جاء خير البريه» د خدای بهترين مخلوق راغی.[1]

همدا معنا )ابن عباس( او )ابن برزه( او )ابن مردويه( او )عطيه عوفی( په مختصر شان فرق سره ذکر کړې ده.[2]

په دې ډول وينو چې د هغو کسانو لپاره چې له علی سره يې ارتباط درلود د )شيعه( د نوم انتخاب په هماغه د پيغمبر په زمانه کې شوی و او دا نوم پيغمبر)ص( هغوی ته ورکړی دی نه دا چې د خلفاوو په زمانه کې ياد صفويانو يا داسې نورو په زمانه کې هغوي ته ورکړل شوی وي.

مونږ په عين حال کې چې د نورور اسلامي فرقو درنښت کوو او له هغوي سره د جمعې په يو صف کې دريږو، او په يو وخت او يو ځای حج کوو او په ګډو اسلامی اهدافو کې ملګرتيا کوو، عقيده لرو چې د علی)ع( د مکتب پيروان ځينې ځانګړتياوې لري او پيغمبر ورته خاصه توجه او پام درلود، له همدې امله مونږ د دغه مکتب پيروي انتخاب کړې ده.

د شيعو ځينې مخالفان ټينګار کوی چې د دغه مذهب او عبدالله بن سبا ترمينځ رابطه ټنيګه کړي، او بيا بيا دا خبره تکراروي چې شيعه د عبدالله بن سبا پيروان دي چې په اصل کې يهودي و، او بيا مسلمان شو! دا خبره ډيره عجيبه ده، ځکه چې د شيعه کتابونو ټولې څيړنې ښيی چې د دغه

۱. الدر المنثور ۲ ټوک ۳۷۹ مخ
۲. د لا ډيرو معلوماتو لپاره پيام قرآن ۹ ټوک ۲۵۹ مخ نه وروسته ته مراجعه وکړئ

مکتب منونکي له دغه کس سره هيڅ دلچسپي او مينه نه لري، بلکه د شيعه وو په درستو کتابونو کې عبدالله بن سبا يو ګمراه او بې لارې کس معرفي شوی دی او زمونږ د ځينو روايتونو په اساس، حضرت علی(ع) د هغه د مرتد والي په وجه د هغه د وژلو حکم ورکړی و.[۱]

له دې ورتير د عبدالله بن سبا تاريخی وجود تر پوښتنې لاندې دی او ځينې محققان باوري دي چې هغه يو افسانه اي کس دی او خارجي وجود يې نه درلود چې ګوندې د شيعه مذهب بنسټ کيښودنکی شي.[۲] او فرضا که هغه يو افسانه ای کس و نه ګڼو زمونږ له نظره ګمراه او منحرف کس و.

## ۷۵. د شيعه مذهب جغرافيا

دا ټکی د پام وړ دی چې د شيعو مرکز هميشه د ايران هيواد نه دی پاتې شوی، بلکه د اسلام په هماغه لومړيو پيړيو کې يې ډير مرکزونه لر ل منجمله «کوفه»، «يمن» او حتی پخپله «مدينه» او همدا راز په شام کې د بنی اميه وو له زهرجنو تبليغاتو سره سره د شيعيانو مختلف مرکزونه وو، که څه هم په عراق کې د شيعيانو د مرکز هومره لوی نه وو.

د مصر په پراخ ټاټوبي کې هم تل د شيعو ډلې اوسيدې حتی د فاطمي خلفاوو په زمانه کې د مصر حکومت د ځينو شيعه شخصيتونو په لاس کې پاتې شوی دی.[۳]

---

۱. تنقيح المقال فی علم الرجال په « عبد الله بن سبا» ماده کې او د شيعو د رجالو په نورو مشهورو کتابونو کې.

۲. عبد الله بن سبا کتاب د علامه عسکری ليکنه.

۳. کله چې د بنی اميه وو په زمانه کې د شام په شيعو باندې سخت دباوونه راغلل، او په عباسيانو کې هم په ارامه نه وو، تر دې چې ډير يې د بنی اميه او بنی عباسو په زندانونو کې ووژل شول، ځينو خيتځ ته مخه کړه او ځينې هم لويديځ ته لاړل، منجمله )ادريس بن عبدالله

اوس د نړۍ په مختلفو هيوادونو کې شيعه مسلمانان شته، منجمله په سعودي عربستان هيواد کې ډير شيعيان په شرقيه سيمې کې اوسيږي او له نورو اسلامي فرقو سره ښه اړيکي لري، که څه هم د اسلام دښمنانو تل هڅه کړې او کوي چې د شيعه مسلمانانو او نورو په منځ کې د دښمنۍ او کينې او بد ګمانۍ او بد بينۍ تخم وشيندي او د نزاع اختلاف او جنګ اور په هغوي کې بل کړي او دواړه ډلې کمزورې کړي. په تيره بيا نن چې اسلام د نړۍ د يو لوی قدرت په توګه د ختيځ او لويديځ د مادي نړۍ، په وړاندې بيرغ هسک کړی او د نړۍ خلک چې له مادي تمدنونو ستړي او لالهانده شوي خپل لور ته بلي، د مسلمانانو د قدرت د ماتولو او په نړۍ کې د اسلام د پرمختګ دمخنيوي لپاره د اسلام د دښمنانو يو لوی اميد دا دی چې د مذهبي اختلافاتو اور ته لمن ووهي او مسلمانان په يو بل اخته کړي، بيشکه که د نړۍ ټول مسلمانان بيدار او هوښيار وي، دغه خطرناک سازش او توطئه شنډولی شي.

---

بن حسن ( د مصر په لور لاړ بيا له هغه ځايه د مغرب )مراکش ( په لور وخوځيد او د مراکش دشيعوو په مرسته يې د «ادريسيانو» حکومت جوړ کړ چې د دوهمې پيړۍ له وروستيو د څلورمې پيړۍ تر اخري وختونو پورې يې دوام وکړ او د شيعيانو يو بل حکومت په مصر کې جوړ شو.

دوی چې ځانونه يې د امام حسين)ع ( او د بی بی فاطمې اولاد ګاڼه او هغه چمتووالي ته په پام سره چې د مصر په خلکو کې يې د شيعه حکومت د جوړولو لپاره ليده دغه کار وکړ او له څلورمې پيړۍ څخه رسما دغه حکومت جوړ شو او د قاهرې ښار هغوي جوړ کړ، فاطمي خلفا په ټول کې څوارلس کسان وو چې د لسو کسانو د حکومت مرکز يې مصر و ،او کابو دري کاله يې په مصر او د افريقا په نورو سيمو کې حکومت کاوه، او الازهر جامع جومات او الازهر پوهنتون د هغوي په لاس جوړ شوی دی، د فاطميانو نوم د بی بی فاطمې)س ( له نامې اخستل شوی دی. )دائرة المعارف دهخدا، دائرة المعارف فريد و جدي، او المنجد فی الاعلام، فطم او زهر کلمې (

د ويلو ده چې په شيعو کې هم د سنيانو په شان مختلفې فرقې دي، خو تر ټولو مشهوره او پيژندل شوې يې شيعه اثنا عشري ده چې د نړۍ د شيعيانو زياته برخه جوړوي.

که څه هم د شيعيانو اصلي شمير او د نړۍ د نورو مسلمانانو په وړاندې د هغوي شميراو فيصدي سمه معلومه نه ده، خو د ځينو شميرنو په اساس د هغوي شيمر له دوو سوو تر درې سوو مليونو دی چې د نړۍ د مسلمانانو کابو څلورمه برخه کيږي.

## ۷۲. د اهل بيتو )ع( ميراث

د دغه مکتب پيروانو د اهل بيتو امامانو عليهم السلام په وسيله له رسول الله مبارکه ډير روايتونه نقل کړي دي، او نور ډير روايتونه له حضرت على او نورو امامانو)ع( لري چې نن د شيعه معارفو او فقې اصلي منابع ګڼل کيږي، منجمله د لاندې ذکر شويو څلورو کتابونو چې په کتب اربعه مشور دي: «کافی، من لايحضره الفقيه، تهذيب او استبصار» نومونه اخستلی شو. خو د دې خبرې تکرار ضروری ګڼو چې هر حديث چې په دغو څلورو منابعو او يا نورو معتبرو کتابونو کې موجود وي د دې معنا دا نه ده چې دغه خاص حديث معتبر دی بلکه د هر حديث د سند يوه سلسله ده چې بايد د سند هر يو رجال يې په جدا توګه د رجالو په کتابونو کې وجاجول شی او که د سند ټول رجال يې معتبر او دباور وړ وو، دغه حديث د يو صحيح حديث په توګه منل کيږي که نه وي دا به يو مشکوک يا ضعيف حديث وي او دا کار يوازې د علم حديث او رجالو د عالمانو او پوهانو کار دی.

له دې ځايه ښه څرګنديږي چې د شيعيانو په کتابونو کې د حديثونو د راغونډولو حالت او روده د اهل سنتو له مشهورو منابعو سره توپير لري ځکه چې په صحاحو کې په تيره بيا په صحيح بخاري او صحيح مسلم کې د

لیکوالو مبنا دا ده چې هغه حدیثونه یې راغونډ کړي چې د هغوي په نزد صحیح او معتبر وو؛ او له همدې امله د اهل سنتو په عقایدو د پوهیدو لپاره په هغو کې په هر یو استناد کیدی شي.[۱] حال دا چې د شیعه محدثانو مبنا دا ده چې په اهل بیتو )علیهم السلام( پورې منسوب ټول حدیثونه راغونډ کړي. او له صحیحو د غیر صحیحو پیژندل یې علم رجال ته پریښي دي، )پام وکړئ(.

## ۷۷. دوه لوی کتابونه

له هغو مهمو منابعو چې د شیعو ارزښتناک میراث ګڼل کیږي، نهج البلاغه کتاب دی.چې اروانباد شریف رضی کابو زر کاله وړاندې د امام علی)ع( له کلماتو په دریو برخو کې )لیکونو، خطبو او لنډو ټکو کې( برابر کړی دی، او محتوا او مطالب یې دومره لوړ او ښکلي دي چې هر څوک د هر مکتب او دین منونکی چې وي د هغه د لوړې محتوا تر اغیز لاندې راځي، او کاش چې نه یوازې مسلمانان بلکه غیر مسلمانان هم له هغه سره اشنا شوې او هغه یې لوستې وای، چې په توحید او مبدا او معاد او په سیاسي، اخلاقي او ټولنیزو چارو کې دا سلام له لوړو معارفو او تعلیماتو خبر شي.

له دغو لویو میراثونو یو بل «صحیفه سجادیه» کتاب دی چې د ډیرو ښکلو فصیحو او غوره دعاګانو ټولګه ده چې ډیر ه لوړه غوره او ژوره محتوا لري چې په حقیقت کې د هماغه نهج البلاغې کار په یو بل ډول کوي او د هغه هره جمله انسان ته نوی درس ورکوي او په رښتیا چې هر انسان ته له خدای سره د مناجات او لمنځ طریقه ښيي، او د انسان روح او زړه ته صفا وربخښي.

---

۱. د «صحیح مسلم» او «فتح الباري فی شرح صحیح بخاري» مقدمې ته مراجعه وکړئ.

دا ټولګه لکه څرنګه چې له نامې يې معلومه ده د شیعه مکتب د څلورم امام علي ابن الحسین بن علی بن ابیطالب چې په امام سجاد)ع( مشهور دی د دعاګانو ټولګه ده او مونږ هر وخت چې وغواړو چې په مونږ کې د دعا او لمنځ روح او دخدای در ته زیاته توجه او زیاته مینه پیدا شي دغه دعاګانې لولو او د تازه نیالګیو په شان چې د سپرلي له برکتناکو وریځو خړوبیږي له هغه استفاده کوو .

د شیعوو تر ټولو زیات حدیثونه چې تر لسو زرو زیات کیږی له پنځم او شپږم امام یعنې امام محمد باقر او امام جعفر صادق علیهم السلام نقل شوي دي او یوه لویه برخه هم له اتم امام علی ابن موسی الرضا )ع( څخه ده، او دا په دې خاطر ده چې دغه درې شخصیتونه د وخت او ځای په داسې شرائطو کې وو چې د دښمنانو ، بني عباسو او بني امیه وو دباو په هغوي کم و، له همدې امله وتوانیدل ډیر حدیثونه چې له رسول الله مبارکه دهغوی د پلار نیکونو په وسیله هغوی ته رسیدلي وو د اسلام د فقهی احکامو او معارفو په ټولو بابونو کې له ځانه یادګار پریږدي او دا چې شیعه مذهب ته جعفري مذهب وایی له دې امله ده چې د هغوي ډیر حدیثونه او روایات له شپږم امام جعفر بن محمد الصادق)ع( نقل شوي دي چې په داسې پړاو کې یې ژوند کاوه چې بني امیه په کمزوری کیدو وو او بنی عباسو هم لا پوره قدرت لاسته نه وراوړی چې په خلکو فشار راوړي، او زمونږ په کتابونو کې مشهوره ده چې هغه حضرت په فقې حدیث او معارفو کې څلور زره شاګردان وروزل.

د حنفي مذهب امام او مشر ابو حنیفه د امام جعفر صادق )ع( په ستاینه کې په یوې وینا کې وایی:ما رایت افقه من جعفر بن محمد ؛ تر جعفر بن محمد)ع( زیات فقیه کس مې نه دی لیدلی ![1]

۱. تذکرة الحفاظ ذهبی، ۱ ټوک ۱۶۶مخ

د اهل سنتو بل امام مالک بن انس په خپلې يوې وينا کې داسې وايي: «ما يوه موده له جعفر بن محمد سره تګ راتګ درلود ، هغه مې تل له دريو څخه په يو حالت کې وليده، يا يې لمونځ کاوه يا يې روژه نيوله ياد قرآن مجيد په تلاوت لګيا و ؛ او زما په خيال ما د علم او عبادت له نظره تر جعفر بن محمد زيات افضل کس نه دی ليدلی او نه مې دی اوريدلی»[1]

له دې امله چې مونږ دلته له ډير اختصاره کار اخلو نو د اهل بيتو د امامانو په باب د نورو اهل سنتو عالمانو له ويناوو تيريږو.

## ۷۸. په اسلامی علومو کې د شيعيانو رول

مونږ عقيده لرو چې: شيعو د اسلامي علومو په پيداکولو کې اغيزمن رول لرلی دی، ځينې باوري دي چې اسلامي علومو له هغوي سرچينه اخستې، حتی په دې هکله کتاب يا کتابونه ليکل شوي او اسناد او مدارک يې وړاندې کړې دي، خو مونږ وايو چې لږ تر لږه هغوی د دغو علومو په پيدا کولو کې ښه ونډه لرلې ده، او د دې مسئلې شاهد او ګواه هغه کتابونه دي چې له شيعه علماوو په اسلامي علومو او فنونو کې ليدل کيږي. په فقې او اصولو کې په زرګونو کتابونه چې ځينې يې ډير پراخ او بې ساري دي،په تفسير او قرانی علومو کې په زرګونو کتابونه، په عقائدو او علم کلام کې په زرګونو کتابونه او همداراز په مختلفو علومو کې په زرګونو کتابونه، په دغو کې پريمانه کتابونه اوس هم زمونږ او دنړۍ په مشهورو کتابتونونو کې موجود دي او خلک ورته لاسرسی لري او هر څوک دغه کتابتونونو ته په مراجعې سره د دې ادعا تصديق کولی شي.د شيعيانو يو مشهور عالم د دغوکتابونو فهرست تيار کړی او په شپږو لويو ټوکونو کې يې دغه

۱. تهذيب التهذيب، ۲ ټوک ۱۰۴ مخ )په کتاب الامام الصادق۱ ټوک ۵۳ مخ د اسد حيدر په نقل.

فهرست راغونډ کړی دی.[۱]

دا لړلیک د لسګونو کلونو پخوا دی او په وروستیو لسیزو کې له یوې خوا د شیعه وو د تیرو عالمانو د اثارو دا حیا او د خطی کتابونو د کشف او چاپ لپاره ډیرې هڅې شوي دي، اوله بل پلوه د نویو کتابونو د تصنیف او تالیف لپاره، چې لا مو یې دقیق شمیر نه دی برابر کړی خو په مسلمه توګه ویلی شو چې د اسلامي علومو په هره څانګه کې په سلګونو یا زرګونو کتابونه لیکل شوي دي.

۷۹: مونږ باوری یوچې: صدق رښتیا والی او امانت د اسلام یو مهم او اساسي رکن دی، قرآن مجید فرمایي: «قَالَ اللَّهُ هَذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصَّادِقِينَ صِدْقُهُمْ؛ خدای تعالی فرمایي چې د رښتینو رښتیا والی هغوي ته فایده رسوي»[۲]

بلکه د قرآن له ځینو ایتونو استفاده کیږي چې د قیامت په ورځ اصل انعام هغه انعام دی چې د صدق او رښتیاوالي په وجه انسان ته ورکول کیږی )په ایمان کې صدق او راستی ( په الهی پیمانونو په عمل کې او د ژوند په ټولو چارو کې په صداقت او راستی «لِيَجْزِيَ اللَّهُ الصَّادِقِينَ بِصِدْقِهِمْ؛[۳] او لکه څرنګه چې مخکې مو هم اشاره وکړه د قرآن د وینا مطابق مونږ مسلمانان مامور یو چې د ژوند په ټولو چارو او دوران کې د معصومانو او

---

۱. د د غه کتاب نوم «الذریعه الی تصانیف الشیعه» دی چې مشهور مفسر اومحدث شیخ اقا بزرګ تهرانی لیکلی دی، د هغو کتابونو شمیر چې دکتاب له نوم درک او لیکوال له نوم سره په دغه لوی فهرست کې راغلي دي تر ۲۷ زره ټوکو زیات دي، دا کتاب یوه موده وشوه چې چاپ اوخپور شوی دی.

۲. مائده سوره ۱۱۹ ایت

۳. احزاب سوره ۲۴ ایت

ربښتينو غږ مله ووسو «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ؛»[1] د دې خبرې اهميت تر دې حده دى چې خداى تعالى خپل پيغمبر)ص( ته امر کوي له خپل خدايه وغواړه چې په هر کار کې صادقانه داخل شې او صادقانه خارج شې «وَقُلْ رَبِّ أَدْخِلْنِي مُدْخَلَ صِدْقٍ وَأَخْرِجْنِي مُخْرَجَ صِدْقٍ؛»

بلکل په همدې دليل په اسلامي روايتونو کې لولو چې هيڅ پيغمبر دخداى له لورې مبعوث نه شو مګر دا چې صدق ربښتياوالى او امانت د هغه په اصلي پروګرامونو کې شامل وو «ان الله عزوجل لم يبعث نبيا الا بصدق الحديث و اداء الامانة الى البر والفاجر»[2]

مونږ هم له دغو ايتونو او روايتونو په الهام اخستلو سره خپل ټول کوشش او هڅه کړې ده چې د دغه کتاب په بحثونو کې له راستۍ او صداقته پرته بله لاره ونه وهو او د حق او امانت په خلاف کلام ونه وايو او هيله من يو چې د خداى په مهربانۍ مو د دغه رسالت د ادا کولو توفيق لاسته راوړى وي. إِنَّهُ وَلِيُّ التَّوْفِيْق.

## ۸۰. آخري خبره

هغه څه چې په دغه ټولګې کې راغلي دي د اسلام په اصولو او فروعو کې د اهل بيتوعليهم السلام د مکتب د پيروانو او شيعيانو د عقايدو نچوړ او زبيښه ده چې بې له بدلون او تحريفه بيان شوې او د قرآن له ايتونو، روايتونو او د اسلام د عالمانو په مختلفو کتابونو کې د هغو مدارکو ته اجمالي شان اشاره شوې ده، که څه هم د بحث د خلاصه والي او کوټل والي په وجه د ټولو مدارکو ذکر ممکن نه و؛ او زمونږ هدف صرف په دغه کتاب

۱. توبه سوره ۱۱۹ ايت

۲. دا حديث په بحار الانوار کې له امام جعفر صادق)ع( نقل شوى دى )۶۸ ټوک ۲ مخ( همدارازپه ۲ ټوک ۱۰۴ مخ کې.

کې اجمالي او کوټلی بيان و.

زمونږ باوري يو چې: دا بحثونه لاندينۍ نتيجې لري:

۱. يوه ښه سرچينه ده چې له اختصار سره سره د شيعه عقايد په ډيره روښانه او دقيقه توګه بيانوي او ټولې اسلامي فرقې او حتی غير مسلمانان کولی شي د دغه واړه کتاب په لوستلو سره د دغه مذهب د پيروانو عقايد په اجمالي توګه او له لومړي لاسه وکتلی شي. او دهغو د راغونډولو لپاره زيات زيار ايستل شوی دی.

۲. زمونږ باوري يو چې: دا جزوه )کتاب( د هغو کسانو لپاره يو الهی حجت ګرځيدلی شي چې کله کله په ناخبرۍ سره زمونږ د عقايدو په هکله قضاوت او فيصله کوي يا هغه له مشکوکو او غرضي کسانو او غير معتبرو کتابونو ترلاسه کوي.

۳. زمونږ باوري يو چې: د دغو عقايدو په ليدلو سره، روښانه کيږي چې د دغه مکتب او د مسلمانانو د نورو فرقو د پيروانو تر مينځ د تفاوت موارد دومره نه دي چې ددغه مکتب او د مسلمانانو د نورو فرقو تر مينځ د ملګرتيا او ګډ کار خنډ شي.ځکه چې په دغو مذهبونو کې د اشتراک ټکي ډير زيات دي. او بله دا چې زمونږ دښمنان هم مشترک دي.

۴. زمونږ باور لرو چې: ځينې داسې لاسونه او ايجنټان شته چې د اسلامي مذهبونو تر مينځ د اختلافاتو په لويولو سره غواړي دهغوي په منځ کې د جنګ، نښتې او وينه بهيولو اوربل کړي. او اسلام کمزوری کړي هغه دين چې زمونږ په زمانه کې لګيا دی د نړۍ پراخه سيمې تر خپل برکتناک سيوري لاندې راولي او د کميونزم د ختميدو او د پانګه وال مادي نظام د زياتيدونکو او لاينْحَلو ستونزو رامنځته شوې خلا ډکوي. دښمنان غواړي چې په نړۍ کې د اسلام د پرمختګ مخه ونيسي. مسلمانان بايد دښمنانو ته دا امکان ورنه کړي چې په دغه کار کې کامياب شي، او هغه ارزښتناک

فرصتونه چې د اسلام پېژندلو لپاره په نړۍ کې پیدا شوي دي له لاسه لاړ شي.

**۵.** مونږ باوري یو چې: که د اسلامي مذهبونو عالمان په خپلو کې سره کښیني او له مینې او محبته په ډکې فضا او له تعصب او زیله په لیرې فضا کې د اختلافي مواردو جاج واخلي او پرې وغږیږي، د اختلافاتو د کمیدو امکان ډیر زیات دی، نه وایو چې ټول اختلافات دې ختم شي، بلکه وایو چې لمنه دې یې راټوله شي، لکه څرنګه چې په دا  وروستیو کې په ایران کې یو شمیر شیعه او سني عالمانو په زاهدان ښار کې له یو بل سره ډیرې غونډې وکړې او ځینې اختلافات  یې ختم کړل چې دلته یې د بیانولو فرصت نه لرو.[1]

په پای کې د خدای تعالی در ته لاسونه پورته کوو او غواړو:

«رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ»[2]

پای

۱. د دې خبرې نور وضاحت د قم د علمیه حوزې په پیام مجلې کې لوستلې شئ.
۲. حشر سوره ۱۰ ایت